Pashto version

ګڼه ۴۶

د ۲۰۱۴ کال د می میاشت

# د اجباري مهاجرت بیالیدنه



## د افغانستان بې ځایه شوي وګړي: ۲۰۱۴ او د هغه څخه ها خوا

UNIVERSITY OF OXFORD

REFUGEE STUDIES CENTRE

یواځې باید په وړیا توګه وویشل شي

۳ **د مسؤول مدير يادداښت**

**افغانستان**

۴ **۲۰۱۴ او وروسته: پر بې ځايه کيدنې يې اغيزې**
ايدان او ليرى

۷ **دوامداره جګړه، دوامداره بې ځايه کيدنه**
رحمت الله اميري

۹ **بې دولتي په افغانستان کې**
ميرا کوپرز

۱۰ **د افغانستان لپاره د داخلي بې ځايه شويو يوه پاليسي: د مسودې څخه تر حقيقته**
لارى اس ويسبرګ

۱۲ **د راستنېدو رهبري کول: د حل لارو د ستراتيژۍ رول**
پيرفرانسيسکو ماريا نتا

۱۵ **د داخلي بې ځايه شويو لپاره د ځمکې د ملکيت د امنيت ځواکمنول**
شوبها راو او جان ترکسترا

۱۸ **د افغان پناه غوښتونکو لپاره د حل لارو بيا ليدنه**
ډان ټايلر

۲۲ **د پاکستان د کډوالو ملي پاليسي**
محمد عباس خان

۲۴ **زور زياتۍ او آسيب پذيرۍ: افغانان په پاکستان کې**
سنا اليميه

۲۵ **د ايران څخه راستنيدل**
آرمنډو ګيلر او ماسيج ايم لاټک

۲۷ **په افغانستان کې د بې ځايه شويو وګړو لپاره محافظت**
اندريس ديموپيولوس

۲۸ **افغانستان ته د بېرته ستنېدو مخ په بدلون طرز**
کيټي کوشميندر، مليسا سيګل، او نسيم مجيدی

۳۰ **د افغانستان د جداشويو د ډلې يو نظر**
تبسم اکثير

۳۲ **افغان راستنيدونکي د بدلون د اداکارانو په څير؟**
ماريک وان هوټ

۳۴ **په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې زور زياتی او بې ځايه کيدنه**
کاميل هينين

۳۵ **جنسي زورزياتی: د نه منلو وړه يوه پديده**
ليدا احمد

۳۶ **په کابل کې ښاري بې ځايه شوي ځوانان**
نسيم مجيدی

۳۷ **د بې ځايه شويو ځوانو ښځو او انجونو لپاره ښاري حقيقتونه**
ډان ټايلر او سوسانی شميدل

۳۸ **اوس هم د ګواښ لاندې: په ښاري افغانستان کې جبري ويستل**
کارولين هوارډ او جيلينا مدزاريويک

۴۲ **د ګواښونو د نښو څخه پند اخستل: د افغانستان لپاره لا نورې بې ځايه کيدنې اټکل شوې دي**
سوساني شمايدل

۴۶ **انتقال او بې ځايه کيدنه**
خالد کوثر



په کوچي آباد کې انجونې د مکتب څخه د راستندو په حال کې دي (کوچي آباد د پاکستان څخه د راستنيدونکو لپاه د ځای په ځای کيدو مرکز دی چې کابل ته څيرمه پروت دی.

يو اين ايچ سی ار/ان بوس

 

# د مسؤول مدير يادداښت

۲۰۱۴ کال د ډيرو لخوا د افغانستان لپاره د يوې بدليدونکې شيبې په حيث منل کيږي او ورسره يې د ۳۵ کلونو جګړه او په ځنډيدونکې بې ځايه کيدنه کې د نړۍ تر ټولو لوی نفوس. نړيوال ځواکونه د وتلو په حالت کې دي او هيواد په انتقال کې دی- په سياسي او اقتصادي توګه، د امنيت د اړخه او د نړيوال موقف له اړخه.

د تيرو ټاکنو په ترڅ کې د خلکو ډير ګډون د افغانستان د راتلونکي لپاره يو ښه فال ګڼل شوی خو اوس هم د هيواد  د هغه ظرفيت په اړه ډيرې بې باوری شتون لري چې د راتګ، يو ځای کيدو او بيرته يوځای کيدو، محافظت، حقوقو ته د لاس رسي، او د جريان لرونکې بې ځايه کيدنې په اړه  ننګونې بيان او حل کړي.

د FMR دغه ګڼه په دري، پښتو، انګريزي، فرانسوي، هسپانوي او عربي ژبو نشر شوی.

مونږه د The Liaison Office (افغانستان) سوسانی شمايډل څخه او د ناروې د کډوالو د کونسل ډان ټايلر څخه د سلاکارانو په صفت د هغوی د مرستو څخه ډير مننندوی يو.

همدارنګه مونږه د لاندې ادارو څخه د هغوی د مالي مرستو له امله هم ډيره مننه کوو:

د ناروې د کډوالو کونسل (NRC)، د پراختيا او همکاری لپاره د سويس ايجنسي (SDC/Swiss)، UN-Habitat، په افغانستان کې د يو اين ايچ سی آر دفتر، او د انساني چارو د همغږۍ لپاره د نړيوالې ټولنې دفتر.

ټول اصدار او يو انفرادي مقالې پر ليکه دي او د html او PDF په بڼه په لاندې ويب پاڼه کې موندل کيږي:
www.fmreview.org/afghanistan-pashto

لطفا دا اصدار هر څومره چې کيږي د شبکو د لارې، په فيسبوک او توېټر کې د يادولو او د منابعو په ليست کې د اضافه کولو د لارې تيت کړی.

لطفآ مونږ ته په لاندې پتې بريښناليک راواستوئ که چيرته غواړی چې چاپ يې کړئ  fmr@qeh.ox.ac.uk

د نيکو هيلو سره

ماريون کولدری او ماريث هارسن

تصحيح کوونکي، د اجباري مهاجرت بياليدنه


## د اجباري مهاجرت بياليدنه

### د اجباري مهاجرت بياليدنه

د اجباري مهاجرت بياليدنه د څيړونکو، کډوالو، داخلي بې ځايه شويو او د هغو ترمنځه چې ددوی سره کار کوي د عملي تجاربو، معلوماتو او نظرياتو د تبادلې لپاره يو فورم برابروي. دا آکسفورډ د پوهنتون د نړيوالې پراختيا د څانګې د کډوالو د زده کړو د مرکز لخوا په انګريزۍ، عربۍ، هسپانوۍ او فرانسوۍ ژبې خپريږي.

### کار کوونکي

ماريون کولدری او ماريث هارسن
(تصحيح کوونکي)
نينا ای ويفر (د ماليې او ودې همکاره)
شارون اليس (همکار)

### د اجباري مهاجرت بياليدنه


Refugee Studies Centre
Oxford Dept of International Development, University of Oxford
3 Mansfield Road, Oxford
OX1 3TB, UK

**fmr@qeh.ox.ac.uk**
تيليفون: +44 1865 281700
سکايپ: fmreview

**www.fmreview.org**



### مسؤوليت نه منل

هغه آندونه چې د اجباري مهاجرت په بيا ليدنه کې څرګنديږي شرط ندی چې دا آندونه دې د تصحيح کوونکو، د کډوالو د زده کړو د مرکز او يا دې د آکسفورډ د پوهنتون آندونه هم وي.

### د چاپ حق

د اجباري مهاجرت د بياليدنې هر چاپي يا بريښنايي مواد د بيا چاپيدو محدوديت د ځانه سره نلري ليکن بايد د اجباري مهاجرت بياليدنې www.fmreview.org څخه اقتباس وشي. د لا ډيرو معلوماتو لپاره ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ

CC BY NC ND



ISSN 1460-9819

**طرح شوی د لخوا**
Art24
www.art-24.co.uk

**چاپ شوی د لخوا**
LDI Ltd
www.ldiprint.co.uk

FSC MIX Paper FSC® 005535EV

# ۲۰۱۴ او وروسته: پر بې ځایه کیدنې یې اغیزې

ایدان او لیری

۲۰۱۴ د افغانستان لپاره یو ډیر مهم پړاو دی، له یوې خوا به د آیساف ځواکونه د دولس کلو وروسته له افغانستان څخه بیرون شي او له بلې خوا به ددغه وتلو وروسته د افغان دولت د داخلي او خارجي ننګونو سره د مبارزې ظرفیت هم راتیټ شي. دغه ننګونې پر بې ځایه شویو او راستنیدونکو افغانانو او پر راتلونکو بې ځایه کیدنو خپلې اغیزې لري.

ددغې مقالې د لیکلو تر مهاله دا روښانه نه ده چې آیا د ۲۰۱۴ کال وروسته به هم نظامی شتون وي که نه، او ډیپلوماتیکه فضاء خو د ډیره وخته رایسې د حکومت او د نظامی ځواکونو د هیوادونو ترمنځه ترینګلې او بې باوره ده. دا هیوادونه د پراختیایی ډونرانو اصلي برخه جوړوي او که چرته د همکاری فضا ښه والی بیا نه مومی نو په افغانستان کې به د ډونرانو علاقه کمه شي او دا په داسې وخت کې چې افغانستان اتکل کیدونکو همکاریو ته د نورو وختونو په پرتله ډیره اړتیا لري. دا کار به د تیرې لسیزې مهمې سیاسي او پرمختیایي لاسته راوړنې په اوبو لاهو کړي. دا ریښتیا ده چې د آیساف وتل د تغیر لپاره یو مثبت فرصت دی په داسې حال کې چې د سولې خبرې اترې او د افغانانو ترمنځه راتلونکی سیاسی جوړ جاړی د خارجی ځواکونو د وتلو وروسته اټکل شوی دی. خو په بشر دوستانه ساحه کې، امنیتی، سیاسي او اقتصادی انتقال به د افغانانو پر حالت او د بې ځایه کیدو پر محرکاتو منفي اغیزې ولري.

افغانستان د نړۍ پناه غوښتونکو د بیرته راستنیدو تر ټولو ستر د عملیاتو مرکز دی. په تیرو لسو کلونو کې د ۵.۷ ملیونو څخه ډیر خلک بیرته راستانه شوي دي چې د اوسني ۲۸ ملیونه نفوس څلورمه برخه جوړوي او په عین حال کې د هیواد جذب ظرفیت ته جدي ګواښونه متوجه کوي. تر هغې پورې چې د راستنیدونکو د جذب لپاره پرمختیایي حالت موجود نه وي د نفوس دغه بدلون په بشردوستانه قضیو کې حتمن اضافه شوی دی.

د جنګ د مستقیمي اغیزې سره په ۲۰۱۳ کال کې ۱۲۴۳۵۰ اټکل شوي افغانان د خپلو کورونو څخه بې ځایه شوي دي[1]. که څه هم د هغوی عاجلې اړتیاوې بشردوستانه دي، په ښاري ساحاتو کې دوامداره بې ځایه کیدنه د دولت لخوا د هغوی د پرمختیایي اړتیاوو لپاره یوه اوږدمهاله غبرګون ته اړتیا لیدل کیږي. د بې ځایه کیدنې په مهمو لاملونو کې جنګ، د امنیت خرابیدل، او د ددولت ضد عناصرو لخوا ځورول شامل دي. او د خلکو اکثریت په نیږدې ولسوالیو کې د مسونیت تلاش کوي او یو ډیر شمیر یې د ولسوالی او ولایت مرکز ته هم کډه کیږي.

**د آیساف د وتلو نه وروسته بشردوستانه اجنډا**

کله چې بهرني ځواکونه د افغانستان څخه ووځي، بشردوستانه ټولنه د خپل موجودیت د ساتلو لپاره، اړتیا لرونکو خلکو ته د لاس رسي د ساتلو لپاره، او ددې تضمینولو لپاره چې اړتیا لرونکي خلک مرستې او محافظت ته لاس رسی ولري اړه ده چې یوه نوې ستراتیژي ولري. افغانستان د یوه داسې حالت څخه راوځي چې مرسته په لوړه کچه سیاسي او نظامی شوې وه، د آیساف وتل یو فرصت دی چې بشردوستانه مرستې ناپیېلې او مستقله ترسره شي. راتلونکی پړاو احتمال لري چې د لږو مالي وسایلو او کم شوی غربي پام سره مل وي. د آیساف د وتلو څخه وروسته د بشردوستانه مرستې د موثریت د تضمین لپاره د اړتیاوو پر اساس د مرستې شکاره بیانول او رسول اړین دی. پخوا به بشردوستانه پروګرامونه ډیر په شمال کې متمرکز شوي وو چرته چې آسانه وه چې پانګه راټوله شي او فعالیت ترسره شي. وروستیو شننو ښودلې ده چې جنوب او ختیځ ته لږه مرسته رسیدلې ده چرته چې نښه شوې ضروریات د مکرره بې ځایه کیدنې له پلوه ډیر شدید دي. تر ټولو ستره ننګونه دا ده چې هغه فعالین په نښه شي څوک چې په دې ساحاتو کې د کار کولو اراده او توان لري چې هغه افغانان وي که نړیوال.

د ۲۰۱۴ کال لپاره په بشردوستانه کاری پلان کې[2]، بشردوستانه ټولنه دې پایلې ته ورسیده چې شدیده اړتیاوو ته پر دومداره اړتیاوو لومړیتوب ورکړي هر چرته چې واقع کیږي چې په کې هغه ځایونه هم شامل دي چې لاس رسی ورته ډیر ستونزمن دی. دا کار منطقي بریښي خو ددې ستراتیژۍ عملي کول به د بشردوستانه فعالانو څخه د ذهنیت د تغیر تقاضا هم کوي. لومړی خو دا چې بشردوستانه اداري او دهغوی ډونران باید د خطراتو مقابل کې زغم وښيي او




د ډېرو کلونو وروسته یو راستندونکی کډوال خپل ویجار کور بیرته جوړوي. میمنه، افغانستان

ورسره باید د خطراتو د خنثی کولو مناسب تدابیر هم ولري. دوهم دا چې په افغاني محتوی کې د نوو تدابیرو د جوړولو لپاره د تجربې پراخه ساحه هم موجوده ده چې په کې د نغدو پیسو د رسول، لرې مدیرت، او د دریمې ډلې لخوا څار شامل دی. دریم دا چې بشردوستانه خلک چې یواځې او یا هم ډلییز کار کوي باید د دخیلو ډلو یو ارت ټولګی په نښه او په کار واچوي. د لومړیتوبونو څخه یو یې هم د با امنه لاس رسي پر سر د ډلو ترمنځ د اختلاف ورکول دي (خو دا مهمه ده چې دا کار باید د نورو ابتکاراتو نه جدا ترسره شي). بشردوستانه فعالان هغه وخت یواځې د اړتیاوو په اساس مرستې رسوی شي چې نور فعالان هم همدې ذهني پایلې ته ورسیږي. د بې طرف والي، خنثی توب، او استقلال د اصولو عملي کول په با امنه ځایونو کې د کار کولو د توان لپاره ډېر اړین دی.

د ټوکیو د دوجانبه حساب ورکونې د جوړښت له مخې، ډونرانو د ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۶ کال پورې د پرمختیایي مرستې لپاره ۱۶ ملیارده امریکایي ډالرو وعده کړې وه[3]. خو ددغو مالي مرستو لاس ته راوړل د افغانانو لخوا د ځینو پرمختیایي لاسته راوړنو پر سر ولاړ دی چې تر اوسه لا لاس ته نه دي راغلې. دا او په غرب کې د مرستې د بودیجې کمښت په دې مانا سره دی چې افغانستان د بیروني مرستې د ډېر کمښت سره مخ دی – په داسې محتوای کې چې په ۲۰۱۳ کال کې بیروني مرستو د افغانستان د GDP اویا سلنه جوړه کړې وه. ددې لپاره چې و ګورو په آینده کې به څه کیږي، د امریکا کانګرس د ۲۰۱۴ کال په جنوری کې د اتباعو د مرستې بودیجه د دوه ملیاردو څخه یو ملیارد ته د راکوزیدو وړاندیز کړی دی. دا او د مرستو نور کمښت به حکومت دې ته اړ کړي چې امنیت ته د اتباعو پر مرستې لومړیتوب ورکړي او دا کار به خلکو ته د اساسي خدمتونو رسول نور هم کم رنګه کړي.

## سیاسي او امنیتي انتقال

د تیرو دولس کلونو د سستماتیکې مرستې باوجود د هیواد سیاسې او اداري سازمانونه کمزوري پاتې شوي او د اداري فساد، د مالیاتو پر سر د رقابتونو او شخصي شخړو له امله معلول شوي. د مرکزي حکومت ماډل د جمهور ریس په دفتر کې د څواک د تمرکز له وجهې نښه شوی په داسې حال کې چې وزارتونه او ایجنسیانې د بشري منابعو، زیربناوو او تولیداتو له اړخه په دوامداره توګه کمزورې پاتې شوې دي. ددې کار یو ستر عاقبت د دولت د پانګو د جذب ظرفیت دی په داسې حال کې چې مستقیمه بودیجه

د ۴۰ سلنې څخه زیاته نه ده اټکل شوې. د افغانستان د حکومت داری لویه کمزوري داده چې د مرکزي اداري چرته چې بهرنی مرستې راځي او اداره کیږي او ولایتي سازمانونو ترمنځه د چا دنده چې خلکو ته د اساسي خدمتونو رسول دي هم آهنګي کمزوري ده. د اداري منل شوی غیر موثریت او په بهرني نظامی ځواکونو یې تکیه د دولت د مشروعیت جوړولو جریان مسدود کړی دی.

د امنیتی حالت لپاره د ۲۰۰۱ کال راهیسې د آیساف د ماموریت د پیل څخه مهم فکتور په افغانستان کې د یوه نظامی اقتصاد جوړول وو. یواځې په ۲۰۱۲ کال کې د امریکا حکومت د خپلو نظامی عملیاتو د ساتلو په موخه په قراردادونو ۲۲ ملیارده امریکایی ډالر مصرف کړي وو. د پوځ لخوا اداره شوی د بیا رغونې ولایتي ټیم (PRTs) او د نظامی چارواکو د اسطراری غبرګون پروګرامونو(CERPs) هغه د اتباعو وسایل وو چې موخه یې د پرمختیا له لارې د استحکام راوستل وو. خو د ۲۰۱۴ کال په پیل کې د ولسي نظامی مرستو ۹۰ فیصده ټیمونه و تړل شول. نو ځکه امنیتی انتقال به د پرمختیا لپاره بهرني نظامي مصارفو ته د پای ټکی کیږدي. که څه هم ددغو مصارفو ډیری برخه ارزښت د پیسو لپاره وو، خو بیا یې هم حکومت ته دا توانایي ورکړې وه چې ولایتي والیان خلکو ته اساسي خدمتونه ورسوي.

د ۲۰۱۴ کال په پسرلي کې غیر دولتي مسلح فعالان (ANSAs) او د حکومت طرفداره قواوې د سکون په حالت کې ساتل شوي وې. د آیساف د فعالیت د تدریجي کمښت او د افغانستان د امنیتي قواوو وسعت داسې ښکاري چې ښاري مرکزونه با امنه وساتي خو بیا هم نشي کولی چې په کلو او بانډو کې د ANSA ځای ونیسي. په عین حال کې د سولې خبرې اترې هم کامیابه نه شوې او د سیاسي استقرار د نه شتون په حالت کې خطراتو د خلکو مراجعه کیدل به همداسې لوړ پاتې شي او بې ځایه کیدنه – که لنډ مهاله وي، مکرره وي او یا ځنډیدونکې وي- به دوام ومومي او د بې ځایه شویو او د پناه غوښتونکو ځای په ځای کیدل به هم ستونزمن وي.

د پنځه دیرشو کالو جګړې په روښانه توګه د پرمختګ مخه نیولې ده. د افغانستان د ځوانانو زیاتوالی او د ژوندانه د عمر کموالی (۴۹ کلونه) په دې مانا دی چې د نفوس ۷۰ سلنه د ۲۵ کالو څخه کمه ده او د ټول نفوس یواځې ۲۵٪ سلنه یې په ښارونو کې اوسیږي. په کلیواله سطحه د بې کاری کچه شپیته سلنه ده. دغه کلیوال نفوس په ماتیدونکی کرهنیز معیشت کې بوخت دی او هغه هم په داسې یو هیواد کې چې د وچکالی او نورو آفتونو سره ډیر مخ دی. د اته ملیونو څخه ډیر افغانان د ډیر وخت لپاره د خوړو د اړخه مسون نه دي. د مرستې په ساحه کې د ملیونونو مصر سره سره د مصیبتونو د آماده ګی په ساحه کې کارنه دی شوی، د خطر د کموالی او د طبیعی منابعو د مدیریت او د اوبو د تنظیم په برخه کې هم کار نه دی شوی. په دې ساحو کې د پرمختګ د نه شتون له امله به بشردوستانه بیړني حالتونه د د واړه څخه نیولې تر اوسطې کچې پورې د طبیعی آفتونو لخوا دوام وومومي او دهیواد دننه او بهر ته به مهاجرتونه هم د آخري ګزینې په حیث دوام پیدا کړي.

د ۲۰۰۱ کال راپدیخوا پرمختیایي مصرفونه د سولې جوړونې او استحکال په اجنډا کې ترسره شوي په کوم کې چې بهرنی مرستې د فقر په کچې باندې کوم خاص اغیز نه لره. د اساسي خدمتونو په رسولو کې خلا نه یواځې دومداره آسیب پذیری او په لوړه سطح انساني پرمختیا اوږدوي بلکه د پنځو ملیونو خلکو لپاره د ژوند ژغورونکو مرستو یو شدیده اړتیا هم په ګوته کوي. او دا شمیرې د ناڅاپي ګوزارونو لخوا هم ډیریږي لکه د جنګ ډیروالی، طبیعي آفتونه او بې ځایه کیدنه.

### ابتدايي پايله اخستنه

د افغانستان په عملیاتی محتوی کې، د بشردوستانه لاس رسي د فرصتونو او محدودیتونو د تعینولو پنځه مهمې ډلې شتون لري: بشردوستانه فعالان په خپله، اغیزمنې ټولنې، حکومت، غیر دولتي مسلح فعالان، او بشر دوستانه ډونران. که څه هم بشردوستانه فعالان د ټولو نورو فعالانو سره د مدافعت او دخالت له لارې لاس رسی پراخ کړي، خو بیا هم د دوی خپل کارونه ډیر مهم دي. مسون او با اعتباره بشردوستانه عمل د ټولنې د ټولو غړو څخه دا غواړي چې بشر دوستانه اصولو ته پابند و اوسي. بیاهم په ماضی کې با اصوله کارونه په دوامداره توګه نه دي ترسره شوي. د غیر بشردوستانه موخو د تقویت لپاره فشارونه او فرصتونه د پام وړ وو خو دا چې د آیساف ماموریت پای ته رسیږي بشردوستانه پانګونې او مرستې به بیا هم د سیاسي او نظامي اجندا څخه غورځول شوې وي.

هغه بې ځایه کیدنې چې د مسلح جنګ، د امن د خرابوالي، او د ځورونې له وجهې منځ ته راځي په کلو کې رامنځ ته کیږي چرته چې د افغانستان د ۷۰ سلنې څخه ډیر نفوس

ژوند کوي: نو څکه موثر او په وخت بشردوستانه غبرګون په جنوبي افغانستان کې د مساویانه تمرکز غوښتونکی دی. هر ځومره چې بې ځایه کیدنه دوام مومي په همغه اندازه خلک نه غواړي چې خپلو کورونو ته ستانه شي. بشردوستانه ایجنسیاني بای[4]د د ؛د څنګه باید و اوسیږی؛ کلتور د ؛د څه وخت باید لاړ شي؛ پر ځای رواج کړي چې دا کار به فعالانو ته اختیار ورکړي چې خطر قبول کړي او د مبتکرانه لارو چارو لخوا خطر کم کړي. په پای کې باید هڅې ترسره شي چې د غیر دولتي مسلحو فعالانو سره یو تفاهم ته ورسیږو د کوم له وجهې چې به اړو افغانانو ته نه ځنډیدونکی بشردوستانه لاس رسی وي.

ایان او لیري چې برښنا لیک یې oleary@un.org دی په افغانستان کې نړیوالې ټولنې د بشر دوستانه چارو د همغږۍ د دفتر مشر دی. www.unocha.org . دا مقاله د لیکوال خپل شخصي نظریات دي او د نړیوالې ټولنې آندونه نه منعکس کوي.

١. Conflict Induced Internal Displacement
(د جنګ له امله داخلي بې ځایه کیدنه) میاشتنی اضافه، یو این ایچ سی آر دسمبر ۲۰۱۳
http://tinyurl.com/UNHCR-Afgh-Dec2013
٢. Conflict Induced Internal Displacement
(د جنګ له امله داخلي بې ځایه کیدنه) میاشتنی اضافه، یو این ایچ سی آر دسمبر ۲۰۱۳
http://tinyurl.com/UNHCR-Afgh-Jan2014
٣. https://afg.humanitarianresponse.info/funding/common-humanitarian-action-plan-chap او یا هم د بشري مرستو د ځانګې د افغانستان پانه وګورئ app http://kiosk.humanitarianresponse.info/
(د بشردوستانه مرستو لپاره د افغانستان پانه)
٤. July 2012
www.mofa.go.jp/region/middle_e/afghanistan/tokyo_conference_2012/tokyo_declaration_en2.html

---

# دوامداره جګړه، دوامداره بې ځایه کیدنه

رحمت الله امیري

دا چې جګړه او بد امني به د افغانستان د نږدې راتلونکي د انځور مهمه برخه وي، بې ځایه کیدنه به هم کله دریږي او کله به روانیږي.

د اوروزګان، کندهار، هلمند او د ځینو نورو سویلي ولایتونو په زرګونو کورنۍ ویل کیږي چې بیرته خپلو ولسوالیو ته د هغو ښارونو څخه را ستانه شوي چې د میاشتو او کلونو لپاره یې ورته پناه وړې وه. لیکن هغه حالتونه چې دوی یې تیښتې ته اړ کړي وو اوس هم په ډیرو سیمو کې شتون لري او دا په دې معنی ده چې خلک اوس هم بې ځایه کیږي. دا بنه به دوام ومومي او ځینې کورنۍ به په ښارونو کې خپل ژوند ته ادامه ورکړي تر هغه وخته پورې چې دغه امنیتي ستونزې حل شي.

ډیری کورنۍ په پیل کې د افغانستان د امنیتي ځواکونو او د نړیوالو ځواکونو د عملیاتو د پراخیدو له امله په ۲۰۰۹ کال کې تښتیدلې وې چې ددغو عملیاتو اغیزې عبارت دي د کور په کور تلاشۍ او ځورونې څخه چې ورځنۍ ژوند یې ستونزمن کړی دی او د نیولو ویره یې خپره کړې ده او د کرهنې نه کول لدې امله چې یا خو یې ځمکه د نړیوالو ځواکونو لخوا د نظامي قرارګاه د جوړولو لپاره غصب شوې ده او یا هم د امنیتي ستونزو له امله د قرارګاوو تر څنګ کرهنې ته نه پریښودل کیږي. هغه چې بیرته ستانه شوي دي لامل یې په ښارونو کې د ژوند د مصرف جګوالی او په یوه پردي ښاري چاپیریال کې د کار د فرصتونو کمښت وو. ددې نه علاوه، د لنډې دمې په تکل کې ځینې کورنۍ خو د ښاري ژوند سره په بشپړه توګه نه دي یوځای شوي.

د اوروزګان د څهار چینې په خیر سیمو ته ددغه ځای څخه د امنیتي ځواکونو د وتلو نه وروسته د کندهار، هلمند، نیمروز او حتی پاکستان څخه بې ځایه شوي راستانه شوي. همدارنګه ځینو نورو سیمو ته د بې ځایه شویو د ستنیدلو بنه دا په ګوته کوي چې ډیری خلک د امنیتي ځواکونو وتل د بیرته ستنیدو لومړی ګام ګڼي.

### د جګړې او بې ځایه کیدنې صحنه

د بې ځایه کیدنې بنې او پیښیدنه د جګړې د صحنې په اساس توپیر لري. هغه سیمې چې د سیالۍ د سیمو په حیث ګڼل شوي دي – چې د افغان-نړیوالو ځواکونو او د غیر دولتي مسلح ځواکونو ترمنځه پرې د نیولو سیالۍ

ترسره کیږي – بې ځایه کیدنه په کې ډیره ده. په داسې سیمو کې چیرته چې هره ورځ جګړه ترسره کیږي د ځایي خلکو غټې شمیرې ددې لپاره تښتي چې د جګړې څخه په امان کې وي، او یا ددې املـه چې کار ته نشي تلی او خپله ځمکه نشي کرلی. په راتلونکي دوو کلونو کې به په جنوبي افغانستان کې دغه د سیالیو ولسوالۍ د بې ځایه شویو د اکثریت ټاټوبی وي. ځایي اوسیدونکي به خپل حالت بیا ځلې ارزیابي کړي لکه څنګه چې یې پخوا دا کار ترسره کړی دی، که چیرته دې ته پایلې ته ورسیږي چې جګړه لنډ مهاله ده (یعنی دوو اونیو پورې دوام لري) ، نو هغوی به د خپلو کورنیو او که امکان ولري د خپلو مالونو او څارویو سره تر ټولو نږدې امن کلی ته بې ځایه شي. له بلې خوا د سیالیو په سیمو کې بیا ځایي اوسیدونکي خپل کلي د اوږد مهال لپاره پریږدي او یوه ښاري مرکز ته په جنوبي افغانستان کې او یا کابل او کویټې ته بې ځایه کیږي: دغه بې ځایه شوي ندرتآ په دې توانیږي چې خپل څاروي او مالونه د ځانه سره یوسي.

ددې نه علاوه ډیرې کورنۍ بیا د غچ اخستنې د ویرې خپل کورونه پریږدي. د ژیړی ولسوالۍ یو ځایي اوسیدونکی وایي چې که چیرته یو دولتي عسکر مړ شي نو دولت ځایي اوسیدونکي د طالبانو سره په مرستې تورنوي او په همدې توګه ترې غچ اخلي. همدارنګه که چیرته کوم طالب په حق ورسیږي نو بیا طالبان په کلي کې د دولت د جاسوس په لټه کې لویږي تر څو جزا ورکړي.

د سیالیو په ولسوالیو کې طالبان د سړک د غاړې ماینونه [1] خښوي تر څو د ملي او نړیوالو ځواکونو مخه ونیول شي، هغوی کیدای شي ځایي اوسیدونکو ته په دې اړه ووایي چې په کومو سړکونو تګ راتګ و نکړي خو ځایي اوسیدونکی بیا په دغو سړکونو تګ راتګ ته اړتیا لري او دا کیدای شي د بې ځایه کیدنې بل دلیل وي. د کندهار ولایت په شمال لویدیځه سیمه کې د ۲۰۱۳ کال د نیمایي را پدیخوا مرکز ته نښتي سړکونه تړل شوي دي. دغه کار نه یواځې د خوړو او نورو شیانو لیږد بند کړی دی بلکه خلک یې لدې امله بې ځایه کیدنې ته اړ کړي دي چې نشي کولی خپل کرهنیز حاصلات بهر ته ولیږدوي او یا هم په دې سړکونو په هوسا زړه سفر وکړي تر څو خپلې اړتیاوې پوره کړي د بیلګې په ډول یوه روغتیایي مرکز ته تلل. نو په دې حالت کې ځایي اوسیدونکي

پوهیږي چې دولت به مخالفینو ته لدې ولسوالۍ تیر نه شي نو ځکه ډیری دا اټکل کوي چې حالت به د اوږد مهال لپاره همداسې پاتې شي ځکه چې نه مخالفین او نه هم دولت د جګړې څخه لاس اخستونکي دي.

خلک غواړي په امن کې ژوند وکړي او ددې خبرې پام نه ساتي چې څوک دې حاکم وي. د هغو ځایونو په سر به نوې جګړې رنګ اخلي چې اوس د دولت د کنټرول لاندې دي او کوم چې د مخالفینو څخه نیول شوي دي او مخالفین به غواړي چې د دولت څخه یې بیرته لاس ته راوړي. دا حالت د بې ځایه شویو لپاره څه معنی لري؟ هغه خلکو چې د راستنیدو تکل درلوده اوس به تر ۲۰۱۴ پورې صبر کوي تر څو ښکاره شي چې څه به کیږي. که چیرته امنیت ښه شي نو بې ځایه شوي به خپلو کورونو ته ستنیږي. که چیرته امنیت ښه نه شي، او یا هم خراب شي، نو شته بې ځایه شوي به بې ځایه شوي پاتې شي او شمیره به یې نوره هم ډیره شي.

د بیلګې په توګه، کله چې په مرکزي هلمند کې نظامي عملیات پیل شو نو ډیری بې ځایه شوي خپلو کلیو ته بیرته ستانه شول او لدې املـه چې یو څو امنیت ښه شوی وو او بل د نړیوالو ځواکونو سره د کار فرصتونه پیدا شوي وو. په دغه سیمو کې د نوو جګړو د احتمال سره به دغه خلک چې د نړیوالو ځواکونو سره یې دندې اخستې دي د نوو بې ځایه شویو په ډله کې په راتلونکي دوو کلونو کې ګډ شي. یواځې د مارجې د ولسوالۍ په زرګونو وګړي په هلمند ولایات کې د USAID او نورو ډونري ادارو لخوا په کار ګمارل شوي وو. دغه وګړي د مخالفینو لخوا په مشکوکه سترګه کتل کیږي او شونه ده چې سزا دې هم ورته ورکړل شي. د ۱۵۰۰ په شمیره ځایي وګړي د مخالفینو سره د جګړې په موخه ګمارل شوي وو خو کله چې نړیوالو ځواکونو وغوښتل چې دغه وګړي د محلي پولیسو په لیکو کې ورګډ کړي نو د کورنیو چارو وزارت یواځې ۴۵۰ کسان ورګډ کړل او هغه چې پاتې شول د مخالفینو لخوا د جزا په تمه دي او ورته یواځې پریښودل شوي دي.

هغه سیمې چې د مخالفینو په لاس کې دي د بې ځایه کیدنو د پیدا کولو شونتیا لري په ځانګړې توګه په هغو ځایونو کې چې دولت یې د بیرته نیولو ځواکمن تکل لري. د نظامي عملیاتو په ترڅ کې د رامنځ ته کیدونکو ورانیو ته په کتو سره، ډیری ځایي اوسیدونکې بې

ځایه شوي دي او په راتلونکي دوو کلونو کې د جنوبي افغانستان په هغو سیمو کې چې مخالفین حاکم دي او یا هم اغیزه لري د ورته حالت سره مخې دي.

ښکاره شاخصونه شتون لري چې په راتلونکي دوو کلونو کې به بې ځایه کیدنه نوره هم ډیره شي ځکه چې دولت غواړي د لاسه تللې سیمې بیرته لاس ته راوړي او طالبان غواړي چې د نړیوالو ځواکونو د وتلو څخه ګټه واخلي. لکه څنګه چې جګړې په کلو کې رامنځ ته کیږي نو بې ځایه شوي به هم کلیوال وي او د ښار د ژوند سره نابلد او د کرهنې نه پرته به د عاید لاسته راوړل ورته ستونزمن وي. نو ځکه دا مهمه ده چې د نویو بې ځایه شویو د ثبتولو لپاره یو سستم شتون ولري تر څو تضمین شي چې آسیب پذیره بې ځایه شویو ته مرسته رسیږي تر څو وومي دوام ژوند دوی د چې .

رحت الله امیري چې بریښنا لیک یې
amiri.rahmat@gmail.com دی یو سیاسي او ټولنیز څیړونکی دی چې په کابل کې د یوه خپلواک ژورنالست په حیث فعالیت کوي

۱. Improvised Explosive Devices ځای په ځای شوې انفلاقي آلې

## بې دولتي په افغانستان کې

میرا کوپرز

د افغانستان په ختیځ کې د وګړو یوه ډله چې عام خلک یې د بنګړي والو یا وانګه والو په نوم پیژني نورو ځایونو ته به نیږدو کې د شناخت د اسنادو د نه شتون له امله په زوره لیږدول شوي دي. دا خلک کوچیانه ژوند ترسره کوي، اقتصادي او سوداګریز فرصتونه لټوي او د نورې ټولنې څخه بیل دي ځکه چې ښځې یې په معموله توګه د کور څخه بهر د کار یا درویزې لپاره وځي او نارینه یې په کور کې پاتې کیږي. د کندهار او جلال آباد په بازارونو کې د حد نه ډیرو درویزه ګرو خلک ځورولي وو نو دا مسله داسې حل شوه چې وویل شو چې بنګړي وال افغانان ندي او باید یو نامعلوم ځای ته ولیږدول شي، امکان لري چې ګاونډي پاکستان ته لیږدول شوي وي.

د افغانستان اساسي قانون وایي چې د افغانستان د ټولو اتباعو سره باید یو شان چلند د تبعیض نه پرته ترسره شي. د تابعیت قانون چې په ۲۰۰۰ کال کې صادر شوی وایي چې هر هغه څوک چې په یوه ملک کې د پنځو کالو څخه ډیر اوسیدلی وي، کوم جرم یې نه وي ترسره کړی، او عمر یې د اتلس کلو څخه ډیر وي، د تابعیت لپاره درخواست کولی شي. همدارنګه هغه ماشومان چې په افغانستان کې پیدا شوي او د میندو او پلرونو تابعیت یې هم معلوم نه وي هم کولی شي د تابعیت لپاره درخواست وکړي.

ستونزه دلته ده چې خلک څنګه د تذکرې د اخستلو لپاره درخواست وکړي، هغه سند چې د افغانستان تابعیت ثابتوي او تعلیم، صحت، حقوقي استازیتوب او نورو ته د لاس رسي اجازه ورکوي. یو محلي مشر – څوک چې باید د خپلې ټولنې د رسمي نماینده په صفت ثبت شوی وي – باید تصدیق وکړي چې دا وګړی ددې ټولنې دی او یا د داسې یوه کس څوی یا لور واوسي چې تذکره ولري. د بنګړیوالو او نورو کوچیان ډولو عملي ستونزه دوه اړخه لري. لومړی دا چې د هغوی ډیری محلي مشران په رسمي توګه ثبت ندي او دا کار ناشونی کوي چې د تذکرې لپاره درخواست وکړي. دویم، بنګړي وال کله هم د افغانستان په ملي آرشیف کې ندي ثبت او د افغانستان په اسنادو کې کومه نښه نلري او د خپل اولادونو د ثبت لپاره نوره هم ستونزه ډیروي.

او د تذکرې نه پرته، هغه خلک چې د چاروکو لخوا نا راحته ګڼل شوي نورو ځایونو ته یا د هیواد څخه د باندې استول کیږي. زمونږ څیړونکو ته په مکرره توګه ویل شوي چې په تیرې میاشت کې د بنګړي والو یوه لویه ډله د افغانستان څخه ویستل شوې: دا هم په افغانستان کې د بې ځایه کیدنې یو بل دلیل چې یو منصف او دوامداره حل لاره غواړي.

میرا کوپرز maira.kuppers88@googlemail.com
د Liaison په دفتر کې مستقله سلاکاره ده.
www.tloafghanistan.org

# د افغانستان لپاره د داخلي بې ځایه شویو یوه پالیسي: د مسودې څخه تر حقیقته

لاري اس ویسبرګ

د افغانستان د داخلي بې ځایه شویو د اړتیاوو د بیانولو لپاره د یوې ملي پالیسۍ جوړول د خنډونو او ننګونو سره ملګری وو. که څه هم د داخلي بې ځایه شویو پالیسي اوس شتون لري خو عملي کول به یې د ورته ستونزو او ننګونو سره مخ وي.

د ۲۰۱۳ کال د نومبر په پنځه ویشتمه ورځ د افغانستان حکومت د داخلي بې ځایه شویو پالیسي[1] ومنله کومه چې په کابو دوه کالو کې د جوړېدو په درشل کې وه. د کابو ۵۰۰۰۰۰ د داخلي نښتو له امله د بې ځایه شویو او د طبیعي آفتونو او پراختیایي پروژو له امله د یو ملیون نورو بې ځایه شویو په محتوا کې، د نیو یارک ټایمز یوه راپور د ۲۰۱۲ کال په فبروری کې ویلي وو چې د کابل په اطراف کې د بې ځایه شویو ماشومان د یخنۍ له امله د مرګ سره مخامخ دي. په کابل کې کابو ۳۵۰۰۰ بې ځایه شوي یواځې د خېمو او کپو په سرپناه کې ژوند کوي[2]. د دغه حالت په غبرګون جمهور رییس کرزي یو کاري ګروپ چې د مهاجرینو او بېرته راستنیدونکو وزارت او د افغانستان د طبیعي آفتونو د تنظیم اداره په کې شامله وه جوړ کړ تر څو د بې ځایه شویو حالت په اړه یو څه وکړي.

دغه کاري ګروپ پر پالیسۍ د کار کونکو یو ګروپ د مهاجرینو د وزارت د تقویت په موخه جوړ کړ، د بې ځایه شویو د بشري حقوقو په اړه د نړیوالې ټولنې د راپورتاژ سره یې یوه غونډه ترسره کړه، د بې ځایه شویو په اړه یوه بهرني کارپوه سره یې اړیکي ټینګې کړي تر څو په چارو کې ورسره کمک وشي، او د ۲۰۱۲ کال په جولای کې یې یو دوه ورځنۍ ملي مشورتي ورکشاپ ونیوه چې بیا د همدې کال په سپتمبر کې د ولایتي مشورو لومړی پړاو هم پیل شو. د همدې کال په اکتوبر کې ProCap[3] د محافظت یو مشر آفسر (لیکوال) UNHCR ته د دې لپاره ورکړ چې د مهاجرینو د وزارت سره د مشاور په صفت مرسته وکړي او په مشورتي پروسو او د مسودې په جوړولو کې ورسره هم مرسته وکړي. ډېرې هغه ستونزې چې د پالیسۍ د مسودې په جوړولو کې مخې ته راغلې په افغانستان کې د قانون جوړونې او پالیسي جوړونې د ننګونو څخه یې ازانګه کړې وه چې په ډېره عمومي توګه:

**د حکومت ظرفیت او مداخلت:** که څه هم د مهاجرینو وزارت په مرکز او ولایاتو کې د سلګونو کارکونکو خاوند و خو بیا هم د پالیسۍ د یوې مسودې د جوړولو لپاره یې کافي مهارتونه او حقوقي پوهه نه لرله. د بېلابېلو وزارتونو څخه د پالیسۍ لپاره د موادو راټولول ډېر ستونزمن کار و خو بیا هم د یو په یو ملاقاتونو له امله یو څه مواد راټول کړل شول. د حکومت په بېلابېلو څانګو کې د ساري اداري فساد شتون د موثره پرمختګ په مخ کې لوی خنډ دی.

**د پراخې ونډې اخستنې جلبول:** د بې ځایه شویو د پالیسۍ کاري ګروپ چې د مهاجرینو د وزارت سره به په مشورتي او د مسودې د جوړول په پروسو کې همکاري کوي، یوه وړوکې ډله وه چې ډېری غړې یې نړیوالې بشردوستانه ایجنسیانې وې. هغه هڅې هم ناکامې وې چې غوښتل یې په دې کار کې د افغانستان د بشر د




اوبه په کابل کې

حقونو کمیسیون، اې سي بي اې آراو داخلي اېن جی او ګانې را شریکې کړي. د ځینو ځانګړو ډلو څخه د غوښتنې وروسته یو څه مواد راټول شوی دی چې دغه ډلې زیاتره په تحقیق کې بوختې وې لکه TLo او Samuel Hall خو دا کار استثنایي و. د دې نه علاوه، د امنیت خرابوالي او ځینو سیمو ته محدود لاس رسي دا کار ستونزمن کړی و چې د والیانو او محلي چارواکو سره په ولایتي کچه کار وکړي، څوک چې د پالیسۍ په عملي کولو کې عمده رول لري.

**د بې ځایه شویو استازیتوب:** د بې ځایه شویو سره اغیزمنې مشورې په ځانګړې توګه ډېرې ستونزمنې وې ځکه چې هغو د استازیتوب کوم ځانګړی جوړښت نه درلودو تر څو خپل نظریات راټول او اظهار کړي. نو ځکه کله چې د ډېرو بې ځایه شویو ډلو سره غونډې تر سره شوې نو بحثونه د یوې ځانګړې ډلې د مهمو اړتیاوو لکه اوبه، خواړه، د صحت پاملرنه، تعلیم او د کار څخه د باندې واوښتې.

## د مهمو ستونزو بیان

په افغانستان کې د مهمو ستونزو د کشالو د بیانولو لپاره د یوه سند جوړول یوه لویه ننګونه ثابته شوه. تر ټولو مهمه خو دا وه چې ټولو هغو چارواکو لکه والیان او ښاروالان چې غوښتل یې د بې ځایه شویو ستونزه حل کړي بېرته راستنېدل یې یواځینۍ حل لاره بلله. د محلي ځای په ځای کېدنې نظر د هغوی په اجندا کې نه و او د بل ولایت څخه یوه بې ځایه شوي ته د ځمکې ورکړې د یوه ډېر ستونزمن نظر په بڼه ثابت شو. د بې ځایه شویو پالیسۍ دا خبره روښانه کړې وه چې درې واړه دوامداره حل لارې باید ومنل شي او محلي ځای په ځای کېدنه د هغو بې ځایو شویو لپاره چې خپلو اصلي ځایونو ته یې تګ ناشونی دی ډېر مهم دی.

دا ستونزه چې څوک دې یو بې ځایه شوی کس وګڼل شي یوه ډېره د جنجال څخه ډکه موضوع وه او ده. د جګړې او د طبیعي آفت له امله د بې ځایه شویو منل د افغانانو لپاره یو آسانه کار دی خو کله چې بې ځایه کېدنه د وچکالۍ له امله وي نو ډېر ستونزمن کار دی ځکه چې د اقتصادي مهاجرینو ترمنځ یې توپیر ډېر تت دی. سره له دې هغه راستنېدونکي چې خپلو اصلي ځایونو ته بیرته نشي تللی او هغه خلک چې د پراختیایي پروژو له امله بې ځایه شوي دي په دغه پالیسۍ کې د پام وړ خلکو په صفت پېژندل شوي.

ښارونه او ښاري مرکزونه د ښه امنیت د لرلو او عادي خدماتو او د معیشت د فرصتونو په لرلو سره د بې ځایه کېدنې د راجلبولو لوی ځایونه دي. خو د افغانستان حکومت او پراختیایي ټولنې د افغانستان د چټک ښاري کېدو په برخه کې کافي فکر او زېرمې نه دي وقف کړي بللخصوص د هغو خلکو د اړتیاوو په برخه کې چې په غېر رسمي استوګن ځایونو کې میشت شوي. دغه پالیسۍ له دې موضوع توجه اړولې او خاص تمرکز یې نه یواځې د بې ځایه شویو لپاره بلکې د ښاري فقیرو خلکو لپاره پر سیمه ییزو حل لارو اچولی دی.

د مسودې د جوړولو د پروسې محدودیتونه او ننګونې چې هر څه وې، اوس یوه پالیسي شته ده، یو ابزار شته دی چې ترې د بې ځایه شویو د حقوقو په محافظت کې کار اخستل کیږي، او کولی شي چې د راتلونکي لپاره لارښود ووسي او کولی شي چې د بې ځایه شویو افغانانو د ژوند په کیفیت کې بدلون او ښه والی راولي. بې له شکه د مسودې د جوړونکو لپاره تر ټولو لویه ستونزه د دغه پالیسۍ عملي کول وو: څنګه دا تضمین وکړو چې دا پالیسي به عمل منځ ته راوړي، پروګرامونو او قانون جوړونه منځ ته راوړي او د یوه بیروکرات د مېزه په جبهه کې به یواځې خاوري راټولې نکړي. څوک به د څه مسول ووسي؟ د مختلفو وزارتونو، همغږو ادارو، ولایتي او محلي ادارو، مدنې ټولنو، نړیوالو بشر دوستانه او پرمختیایی ادارو او نورو ښکېلو ډلو د مسولیتونو په ګوته کولو کې ډېره زیاته وسه او انرژي په کار وړل شوې ده. ددې خبرې منل چې بې ځایه کېدنه په بېلو سیمو کې په بېله بڼه راپورته کیږي نو د عملي کولو د پلانونو او ستراتیژیو د جوړولو مسولیت ته ولایتي والیانو ته سپارل شوی وو او د مهاجرینو وزارت یواځې د دغو ولایتي پلانونو څخه د یوه ملي پلان د جوړولو مسولیت په غاړه درلودو. خو دا خبره د لیدو ده چې په عمل کې به څه کیږي.

**لاری ایس وایزبرګ چې برېښنا لیک یې *lauriewiseberg@gmail.com* دی د Procap یو مشر محافظتي افسر دی.**

*www.humanitarianresponse.info/themes/procap*

۱. په رسمي توګه، د داخلي بې ځایه کیدنې په اړه د افغانستان د اسلامی جمهوریت ملي پالیسي.
www.refworld.org/docid/52f0b5964.html

۲. راډ نورډلنډ 'Driven Away by a War, Now Stalked by Winter's Cold'، (د جنګ له امله ځغلول شوي او اوس په د ژمي په یخنۍ کې ایثار، *New York Times* د فبروری دریمه ۲۰۱۲.
www.nytimes.com/2012/02/04/world/asia/cold-weather-kills-children-in-afghan-refugee-camps.html?_r=0

۳. دا د ایجنسیانو تر منځه یو ابتکار دی چې د اړونده فعالانو ظرفیت لوړ کړي تر څو د بشر دوستانه محافظت غبرګون لوړ کړي.

# د راستنېدو رهبري کول: د حل لارو د ستراتيژۍ رول

پيرفرانسيسکو ماريا نتا

د را ستانه شويو افغانانو د تنظيم لپاره هغوی ته د ژوندانه د معيار او د معيشيت د فرصتونو برابرول د افغانستان د راتلونکي ثبات او امنيت لپاره ډېر اړين دی. دا اصل د ۲۰۱۲ کال د افغان پناه غوښتونکو لپاره د حل لارو د ستراتيژۍ د دريو مهمو موخو څخه يوه موخه ده.

افغان پناه غوښتونکو د ډېره ځنډه راهيسې د نړۍ د پناه غوښتونکو د نفوس يوه غټه برخه او د نړۍ د ټولو څخه ځنډيدونکی حالت تشکيل کړی. همدارنګه دوی د تاريخ تر ټولو غټه راستنېدا هم خپله کړې چې اوس هم ادامه لري. د ۲۰۰۲ کال را پدېخوا د ۵.۸ مليونو څخه ډېر افغان پناه غوښتونکي افغانستان ته بېرته ستانه شوي دي او د پردېس کالونو ته يې د پای ټکی ايښی دی چې له دې ډلې څخه اتيا سلنې يې د شلو کالو څخه ډېره جلا وطني تر سره کړې. د ۴.۷ مليونو شاو خوا افغانانو سره د UNHCR د رضاکاره راستنېدو د پروګرام له لارې مرسته ترسره شوې.

که څه هم د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۸ کالونو تر منځ ډېر زيات مهاجرين راستانه شوي دي (چې په دغه دوران کې ۴۳۶۹۰۸۶ يې د UNHCR لخوا ثبت شوي) ، خو په تېرو درېو کالونو کې دا شمېره ډېره ټيټه شوې ده چې د راستنېدونکو ټوله شمېره ۲۰۱۲۸۴ ته رسېږي. د راستنېدونکو دغه رويه د حالاتو تغير ته د راستنېدو د لومړي کالونو په پرتله کله چې افغانانو د طالبانو د رژيم نه وروسته د ټولو موانعو باوجود هغه هيواد ته چې د شلو کالونو جنګ ويجاړ کړی و د راستنېدو هيله او شوق ظاهر کړی و اشاره کوي. ځينې هغه خنډونه اوس هم شتون لري- د بيلګې په ډول، د راستنېدو په سيمه کې معيشت او د ژوندانه عادي خدماتو ته د لاس رسي نه شتون او د افغانستان په ځينو سيمو کې خراب امنيت- خو د راستنېدو مخکني شوق يوه نوي حقيقي خط مش ته لاره هــواره کړې چرته چې ډېـرې پناه غوښتونکو د صبر او د حالاتو د ښې مطالعې خط مش انتخاب کړی. دا هم روښانه ده چې په تېرو کالونو کې ډېرو راستنېدونکو د خپل هيواد سره کلکې اړيکې لرلې، خو په جلاوطنۍ کې پيدا شوی د افغانانو دريم نسل کوم چې د خپل اصلي هيواد سره ډېرې لږې او کمزورې اړيکې لري حالاتو ته په ډېره حقيقي او دقيقه سترګه ګوري او په افغانستان کې د ښه امنيت او اقتصادي استحکام د نښو منتظر دي.

دا دې هم هېره نه وي چې په افغانستان کې ډېرې مثبتې نښې هم موجودې وې: د GDP ٪۸.۲ وده، د ښوونکو په تعداد کې اوه چنده ډېروالی، عادي صحي خدمتونو ته د ٪۸۵ نفوسو لاس رسی، او د ميندو د مړينې په کچه کې د هرو سلو زرو زيږيدونو کې د ۱۴۰۰ څخه ۳۲۷ مړينو ته کمښت. خو سره له دې مثبتو پايلو او په مليارډونو ډالرو چې د افغانستان سره مرسته شوې، افغانستان اوس هم د سيمې تر ټولو غريب هيواد دی.

په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د رضاکاره راستنېدو پروګرام د پيل راهيسې، UNHCR راستنېدونکو ته ابتدايي مرسته د دې لپاره رسولې چې هغوی وکولای شي د خپلې عاجلې بقا او ځای په ځای کېدلو اړتياوې مرفوع کړي: د بيلګې په ډول، سرپناه، د اوبو زېرمې، د عايد پيدا کولو پروژې، د مهارتونو روزنې، د سواد آموزۍ کورسونه او د کار لپاره نغدي پيسې. سره له دې، هغه خلک چې د راستنېدو هيله څرګندوي بيا هم د ډېرو ستونزو سره لکه د ملکيت د استعمال د ضمانت نه شتون، د عادي خدماتو نه شتون او د رواني جګړې او بې امنيتۍ سره لاس او ګريوان دي. همدارنګه نورې ستونزې لکه د سړکونو نه شتون، بازارونو، او د اوبو رسونې سستم ته نه لاس رسی، د سيلابونو په مقابل کې د محافظت نه شتون او نور طبيعي آفتونه دي. د را ستانه شويو افغانانو د تنظيم لپاره هغوی ته د ژوندانه د معيار او د معيشيت د فرصتونو برابرول د افغانستان د راتلونکي ثبات او امنيت لپاره ډېر اړين دي. په عين وخت کې د هغوی د راتګ د ځنډېدو په صورت کې د افغان پناه غوښتونکو حالت بايد په ګاونډي هيوادو کې تنظيم شي او د حل بديلې لارې تقويت ومومي. د نړېوالې ټولنې او افغان چارواکو لخوا يو ګډ کار ته ډېره اړتيا ليدل کېږي تر څو دا تضمين شي چې اړينې بشر دوستانه مرستې د مهاجرينو په برخه کې فراهمې شوې دي.

### د افغان پناه غوښتونکو لپاره د حل لارو ستراتيژي

د دغو موخو په نظر کې نيولو سره د UNHCR په مرسته د افغانستان، پاکستان او د ايران د هيوادونو حکومتونو

په ۲۰۱۱ کال کې یوه څلور اړخیزه مشاورتي پروسه پیل کړه چې له امله یې د ۲۰۱۲ کال د می په میاشت کې د افغان مهاجرینو لپاره د حل لارو ستراتیژي په مخه واچول شوه  چې موخه یې له یوې خوا د رضاکاره بېرته ستنېدلو تقویت و او له بلې خوا د کوربه هیوادونو سره په دېرابطه همکاري هم وه چې د ۵۰ څخه د ډېرو هیوادونو لخوا منل شوې ده[1]. د حل لارو ستراتیژي په اصل کې یو فرصت دی چې د کومو لارو کولای شو راستنېدونکي په افغانستان کې تنظیم کړو او د بیا ځلې بی ځایه کېدنې مخه ونیسو.

په سر کې د حل لارو ستراتیژۍ خپله توجه په ۴۸ هغو سیمو کې چې بېرته ستنېدل ورته ډېر وو متمرکزه کړې وه تر څو د راستنېدونکو د ځای په ځای کولو مربوط فعالیتونه متمرکز کړي. د ابتدایي بررسي نه وروسته، دا څرګنده شوه چې نوي راستنېدونکي نورو ځایونو ته خوځېږي نو ځکه دا پرېکړه ترسره شوه چې د راستنېدلو موخه ګرځېدلېسیمې نورې هم زیاتي شي همدارنګه د راستنېدونکو د اصلي تعداد په کچه مرستې هم ځای په ځای شي. د ۲۰۱۴ کال د پېشنهاد شوو پروژو یوه ټولګه د دغو درېو حکومتونو، د نړیوالې ټولنې د اېجنسیانو، او د داخلي او نړیوالو این جی او ګانو لخوا آماده شوې ده چې د یوه جوړښت له مخې په هر هیواد کې په څو اړخیزه همکارۍ او همغږۍ کار کوي.

د افغان حکومت د ملي لومړیتوب د پروګرامونو (NPPs) سره په موازي توګه د حل لارو ستراتیژي هڅه کوي تر څو د لنډ مهاله بشر دوستانه مرستو نه اوږد مهاله پراختیایي ابتکاراتو ته د لېږد لاره هواره کړي. د ملي همبستګۍ پروګرام چې د NPPs د ډلې څخه دی په افغانستان کې د کلو د پراختیا یوه مهمه وسیله ګڼل کېږي. دا پروګرام چې په ۲۰۰۳ کال کې د کلو د پراختیا وزارت لخوا په کار اچول شوی و موخه یې د افغانستان د کلو پراختیا وه. همدارنګه د دې پروګرام موخه دا وه چې محلي ټولنو ته تقویت ورکړي او په محلي پراختیا کې د هغوی ونډه زیاته کړي. لکه څنګه یې چې جغرافیاییپوښښ ډېر ارت دی NSP[2] یو له هغه ملي پراختیایي پروګرام څخهدی چې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د راستنېدونکو ټولنو ته د رسېدو وړتیا لري او کولی شي چې د یوه اوږد مهاله بېرته راتګ لپاره همکاري وکړي.

د حل لارو د ستراتیژۍ د لومړیتوبونو څخه یو هم د تعلیم او د مهارتونو د ورکولو د لارې د ځوانانو تقویت دی. هغه پروژو ته هم ځانګړې پام اړول شوی چې د ښځو تقویت په نظر کې لري او هدف یې په کور او ټولنه کې د پرېکړو په پروسو کې د ښځو ګډول دی. د دغو پروژو توجه د ښځو د ګټې په څواک او د هغوی د ګډون د ظرفیت په اړه د عامه پوهاوي پر لوړاوي متمرکزه ده. همدارنګه دا پروژې غوارې چې د ښځو پر وړاندې زور زیاتی له منځه یوسي. UNHCR به د خپلو مداخلتونو په پېژندنه او لومړیتوب ورکونه کې بوخت وي تر څو د راستنېدو تر ټولو لوی مرکز د لاس رسي د اړخه مقایسه کړي. په هغو سیمو کې چې سر ته رسونکي کم دي، UNHCR به چټکې تاثیري پروژې پیل کړي (د بیلګې په توګه د وړو مواصلاتي سړکونو جوړول چې د معیشت د پیدا کولو یو فرصت هم دی) همدارنګه به پراختیایي سرته رسوونکو ته توصیه کوي چې اوږد مهاله فرصتونه جوړ کړي.

هغه پروژې چې د حل لارو د ستراتیژۍ لاندې عملي شوي دي یواځې یې په سرپناه او ضروري خدماتو بسیاینهنه ده کړې بلکه پر محافظت او صلح آمیزه یو ځای اوسېدنه یې هم تمرکز کړی. د سرپناه، اوبو، صحی کلینیکونو او امبولانسونو، د تخنیکي او مسلکي زده کړو ټریننګونو او د مکاتبو د فراهمولو نه پرته د حل لارو ستراتیژۍ په تېرو دوه کالونو کې د شمسي رڼا سستمونه په کورونو او کوڅو کې نصب کړي چې ورسره د ښځو امنیت نور هم لوړ شوی، همدارنګه د درې وړو آبي برقي دستګاوې جوړول چې د خلکو د برق ضروریات یې رفع کړي او ورسره یې د ټولنیز اقتصادي زېر بناوو لکه سړکونه د اوبه خورسستمونو او ټولنیز مرکزونو کار یې هم سرته رسولی. د UNHCR د ټولو مداخلتونو موخه دا ده چې د محافظت اصولو ته وده ورکړي. دا په دې معنی ده چې UNHCR به نه یواځې پر مادي کمک لکه سرپناه یا نغدو پیسو تمرکز وکړي بلکه د خلکو پر امنیت، وقار او حقوقو به هم تمرکز کوي. په ځینو حالاتو کې به دا د محافظت د مسایلو مستقیم بیان وي (لکه د SGBV د پروګرامونو د لارې او یا هم د حقوقي مرستې د پروګرامونو د لارې) ، خو په نورو حالاتو کې به د هغو فعالیتونو د لاس لاندې نیول وي چې به یوه راتلونکي محافظتي ځانګې ته لاره هواروي.

## همغږي کول او مشارکت

ددې لپاره چې مداخلتونه د ملي پروګرامو سره په بشپړې همغږۍ جوړ او عملي شي د دولتي پروګرامونو لکه NPPs سره همغږي او مشارکت ډېر اړین دی. د مهاجرینو او د راستنېدونکو وزارت او د هغه ولایتي ریاستونه د UNHCR د رضاکاره بېرته راستنېدا او په ټولنه کې د ځای پر ځای

کېدنې دولتي همکاران دي. لیکن د نورو کلیدي وزارتونو او د نړیوالې ټولنې د پراختیایي اېجنسیانو مداخلت هم اړین دی د دې لپاره چې د راستنېدونکو اړتیاوې د نړیوالې ټولنې په پراختیایي لومړیتوبونو کې د ۲۰۱۵ کال وروسته داخلې شي. د نړیوال بانک د کلو د پراختیا د پروګرام او د آسیا پراختیایي بانک سره د همکارۍ فرصتونه هم د دې لپاره پرانستل شوي دي چې د راستنېدو حل لارې د کرهنیز پرمختګ سره وصل شي. او FAO او UNHCR د یوه دوه هیوادیز ابتکار په سر صلا مشورې هم شروع کړی چې له امله به یې په پاکستان کې میشت بزګر پناه غوښتونکو کورنیو ته د ټرېننګونو لاس رسی فراهم شي تر څو د یوه متداوم بېرته راتګ او په افغانستان کې د ځای په ځای کېدنې احتمال لوړ شي.

په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان، پاکستان او ایران حکومتونو د زېرمو د کار اچولو یوه ګډه ستراتیژي د هیواد او د سیمې به کچه د پانګې راټولولو په موخه منلې ده. ددې ستراتیژۍ مهم عناصر عبارت دي د حل لارو د ستراتیژۍ د تقویت لپاره څو کلنه پانګونه او د نویو عطیه ورکوونکو او پراختیایي فعالانو سره د همکارۍ ایجادول.

د حل لارو د ستراتیژۍ ملې اجراییوي کمېټه د دغې ستراتیژۍ عملي کول د وزارتونو د همغږۍ کمیټې د لارې چې د مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو د وزارت لخوا په مخ وړل کېږي رهبري کوي او د نوي څو عطیه ورکوونکې پانګونې مدیریت هم په لاس کې لري. دغه ابتکار په افغانستان کې د راتلونکې د لیږد د دورې پر مهال پر بشر دوستانه حالت تمرکز کوي کوم چې کېدای شي خپلې اغیزې نه یواځې په افغانستان کې پر راستنېدونکو او بې ځایه شویو بلکه په ټوله نړۍ کې پر افغان پناه غوښتونکو ولري.

پییر فرانسیکو ماریا نتا چې برېښنا لیک یې natta@unhcr.org دی په افغانستان کې د یو این ایچ سی آر همکاره استازې ده.
www.unhcr.org

۱. www.unhcr.org/afghanistan/solutions-strategy.pdf
۲. www.nspafghanistan.org




د بلخ د ولایت مهاجر قشلاق کلی چې د پاکستان څخه د راستنیدونکو لپاره جوړ شوی چې د شمسي رڼا سستم په کې هم شامل دی

# د داخلي بې ځایه شویو لپاره د ځمکې د ملکیت د امنیت څواکمنول

شوبها راو او جان ترکسترا

په لویدیځ افغانستان کې د مسلخ قضیه د افغانستان د داخلي بې ځایه شویو د نوې پالیسۍ د عملي بڼې د اختیار کولو لپاره یوه ښه بیلګه ده. که چرته بریالۍ وي نو دا پروژه به په ښاري مساکنو کې د بې ځایه شویو د ځمکې د ملکیت امنیت تضمین کړي او په افغانستان کې به د بې ځایه شویو د ځای په ځای کیدو په لاره کې مخکې و اوسي کومه چې تر اوسه یوه ډیره سیاسي او کړکیچنه موضوع ده.

افغانستان د نورې نړۍ په څیر د ښاري کیدو چټک میلان لري. په افغانستان کې هم بې ځایه شوي ښاري سیمو ته د امنیت ، عامه خدمتونو ته د لاس رسي، د معیشت فرصتونو او د ټولنیزو کړیو او د خپلوانو د شبکو په لټه د لنډ مهال او یا اوږد مهال لپاره پناه وړي. د افغانستان د ښاري کیدو کچه هر کال ۵ سلنه ده چې د نړۍ د لوړو کچو په لیکه کې راځي. ددې چټک ښاري کیدو یوه ښکارندوینه د غیر رسمي استوګنو ډیریدل دي. په کابل کې ۷۰ سلنه نفوس په غیرو رسمي ګاونډونو کې اوسیږي.

د افغانستان په ښاریو کې میشت بې ځایه شوي په ډیر خطرناک حالت کې ژوند کوي. د نړیوال بانک او د یو این ایچ سی آر یوې څیړنې بیامونډلې چې ښاري بې ځایه شوي د ښاري فقیرانو څخه ډیر آسیب پذیره او په بد حالت کې دي او ددې احتمال یې درلوده چې بیکاره به وي، مناسبو کورونو ته به لاس رسۍ نه لري او د خوړو د اړخه به غیر مصونه وي[1]. د سروې شوو یواځې دریمې برخې یې بریښنا، د اوبو کافي عرضې او د فاضل آب د سستم تسهیلاتو ته لاس رسۍ درلوده.

یو له هغو ستونزو څخه چې د افغانستان د داخلي بې ځایه شویو په اړه په نوې ملي پالیسۍ کې بیان شوې د مناسب کور د لرلو او ځمکې ته د لاس رسۍ حق دی. (فقره ۷.۱.۳) دا پالیسي تاکید کوي چې د مناسب کور په لټون کې د داخلي بې ځایه شویو د لویو خنډونو څخه یو یې هم ځمکې ته نه لاس رسۍ او د ملکیت د سندونو د امنیت نه شتون دی چې بې ځایه شوي یې اړ کړي چې په غیر رسمي استوګنو کې و اوسیږي چرته چه هغوی په دوامداره توګه د ځورونې او د جبري ویستلو د ګواښ سره مخ دي. د داخلي بې ځایه شویو پالیسي ددې حکومت څخه غواړي ترڅو ځمکه په ګوته کړي، د ځمکو د خاوندانو او کوربه ټولنو سره ښکاره ترتیبات ونیسي او د بې کوره داخلي بې ځایه شویو لپاره انتقالي او بیړنۍ سرپنا وې فراهم کړي چې په دې کار کې د بشردوستانه ټولنې څخه د اړتیا پر وخت مرسته غوښتې شي. دا پالیسي حکومت اړ باسي چې الف) اړین ګامونه پورته کړي تر څو تضمین شي

چې په غیر رسمي استوګنو کې پراته بې ځایه شوي ددې اجازه لري چې خپلو تسهیلاتو ته وده ورکړي تر څو د بیړنۍ سرپناه د نړیوال معیار سره عیار شي[2]، ب) په هغو ځایونو کې چې داخلي بې ځایه شوي ځای په ځای شوي دي د ټولنې په کچه د ځمکې د خرڅلاو او کرایې ابتکارات بیامومي او ج) نورې ګزینې په ګوته کړي چې بې ځایه شویو ته به د ځمکې د ملکیت امنیت ورکړي چې په کې د usufruct[3] طرحې هم شاملې دي.

په افغانستان کې ځمکه ډیره زیاده غوښتل کیږي او د ځمکې پر سر شخړې تر ټولو شخړو ډیرې رامنځ ته کیدونکې شخړې دي. پر یوې ځمکې د څو کسانو لخوا دعوې تاریخي ریښې لري او یا هم د میراث په اړه د شخړو څخه را ولاړیږي. د نفوس وده، د کډوالو د یوې لویې شمیرې بیرته راتګ او د کورونو او ځمکو په غیر قانوني توګه اشغال دې ستونزو ته لمن وهلې ده. په افغانستان کې د دودیزه قوانینو، شرعیت، او د دولتي قانون په یو وخت شتون ددغو ستونزو حل نور هم مغلقه کړی دی چې ددولتي قانون څخه بیا د ښاري او کلیوالو ځمکو پر سر د ستونزو قانون حذف شوی دی.

په افغانستان کې د ځمکو یو څو معمولې ستونزې عبارت دي له: د زور واکانو لخوا د ځمکو غصب، د کلیوالو او کوچیانو لخوا د ځمکو پر سر شخړې، ددې پر سره شخړه چې بې مالکه ځمکې تر کومه حده بې مالکه دي، د عوامو د ملکیت او د دولت د ملکیت تر منځ توپیر، پر یوې ځمکې د څو کسانو دعـوای، په ځانګړې توګه هغه دعوا ګانې چې په کې زور واکانو او قومندان ګډون لري چې ځمکه د سیاسي موخو لپاره کاروي. د قیمتي ښاري ځمکو د ملکیت د امنیت نشتوالۍ یوه لویه سیاسي موضوع ګرځیدلې ده او ډیرۍ ښاروالان او سیاسي ګوندونه په کې طرفدارانه رویې لري. په ډیرو حالتونو کې یوه ځانګړې قوم پورې اړه لرل هم یو فکتور دی، څکه چې ځایي چاروکې ډاریږي چې د نورو قومونو څخه راتلونکې خلک به د هغوی د سیمې سیاسي توازن او دیموګرافیک ته بدلون ورکړي.

## مسلخ او په هرات کې نورې غیر رسمي استوګنې

د بې ځایه شویو استوګن ځای چې د مسلخ په نامه یادیږي د هرات ښار په اطراف کې پروت دی چې په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو تر ټولو لوی کمپ وو او د لویو کمپونو په ډله کې راتله چې یو وخت په کې د ۳۵۰۰۰۰ څخه ډیر بې ځایه میشت وو. په ۲۰۰۲ کې د مسلخ نفوس ۱۲۰۰۰۰ کسان اټکل شوی وو. د ۲۰۰۲ کال په پای کې د مرستو یوه لویه کچه چې خوراکي موادو یې ډیری برخه جوړوله د پلان شوي بیرته تګ د پروسې[4] سره اجرا کیدله او دا کمپ په ۲۰۰۵ کال کې په رسمي توګه وتړل شو. په وروسته کلونو کې حکومت ددغه کمپ د اوسیدونکو سره مختلفې لارې چارې او رویې غوره کړې کله به یې هغوی ته د بې ځایه شویو حیثیت ورکوه او کله به یې ترې بیرته واخسته چې دا حیثیت د هغوی لپاره د بشر دوستانه مرستو د لاسته راوړلو لپاره ډیر اړین وو.

د مسلخ څخه پرته په هرات کې د داخلي بې ځایه شویو څلور نور استوګن ځایونه شتون لري: د هرات په ښار کې شیدایي، مناره او فرقه او د ښار د پولو څخه وتې بای کمار کاله. اوسنۍ د نفوس معلومات ښيي چې په مسلخ کې ۳۶۴۸ کورنۍ (۱۷۹۳۳ کسان)، مناره کې ۵۸۱ کورنۍ (۲۹۵۰ کسان)، او په شیدایي کې ۲۱۸۸ کورنۍ (۱۰۴۳۱ کسان) میشت دي. مسلخ د هرات د ښار څخه د ۱۳ کیلومترو په واټن پروت دی چې ځمکه یې د افغانستان دځمکې د ادارې (عراضي) ملکیت دی په داسې حال کې چې مناره او شیدایي بیا د هرات د ښار دننه پراته دي چې مناریت یې د کورنیو چارو د وزارت پورې اړه لري او شیدایي یې بیا د ښاروالۍ پر ځمکه جوړ شوی دی. په درې واړو ذکر شوو کمپونو کې پراته بې ځایه شویو ته د وتلو امرونه ورکړل شوي دي او د تیرو کلونو په ترڅ کې یې د ځمکې د لاسته راوړلو او په خپل ځایونو کې د پاتې کیدلو وعدې اخستي دي. د شیدایي بې ځایه شوي د جمهور ریس حامد کرزي پورې ورسیدل چې هغه ورته بیا د عمومي سړک څخه لرې د یوه ځای وعده ورکړه. خو د بریښنا د مزو د ډیروالي او د اوبو د نشتوالي له بې ځایه شوي و نه توانیدل چې دې نوي ځای ته ولاړ شي. دغه بې ځایه شوي ډیر زیات آسیب پذیره دي چې ډیر لږ عاید لري او زیربناو او خدمتونو ته ډیر کم لاس رسی لري. ځمکې یا دوامداره سرپناه ته د لاس رسی نه شتون او د ځمکې د ملکیت د امنیت نه شتون دغه بې ځایه شوي مهار کړي چې د وتلو او غربت ددې کړی څخه بیرون ونوځي.

د ۲۰۱۳ کال تر پیله پورې د هرات چارواکو دا بې ځایه شوي د هرات د اتباعو په حیث نه پیژندل خو داسې ښکاري چې د داخلي بې ځایه شویو پالیسۍ دې د سیاسي چارواکو په رویو کې یو څه بې ځانه بدلونونه راوستي وي کوم چې اوس پوه شوي چې دا بې ځایه شوي به هیڅکله خپلو کورونو ته ولاړ نه شي. ددوی لپاره ترټولو دوامداره د حل لاره محلي ځای په ځای کیدل دي او په آخر کې حکومت یو څه زړه ښه کړی تر څو د مسلخ استوګنې ته وده ورکړي او د قانون په چوکاټ کې یې راولي کومه چې یوه لویه لاسته راوړنه ده.

پوښتنه دا ولاړیږي چې د مسلخ استوګنه په افغانستان کې د ځمکې د ویش د طرح (LAS) د نورو ساحاتو سره څومره توپیر لري. د ځمکې د ویش د طرحې ساحې د ځمکې هغه برخې دي چې په وړو ټمرو ویشل شوي تر څو مستفدینو ته (چې ډیری یې راستنیدونکي او بې ځایه شوي دي) د ریس جمهور د ۱۰۴ فرمان په اساس وویشل شي او یا هم وپلورل شي. دا طرح د حکومت لخوا په ۲۰۰۵ کال کې وړاندې شوه تر څو د راستنیدونکو لپاره د ځمکې او کورونو د قلت منفي اغیزې کمې کړي. دا ساحې د افغانستان په ډیرو ولایتونو کې شتون لري او د مهاجرینو او بیرته راستنیدونکو د وزارت لخوا اداره کیږي. لیکن دا طرح د ډیرو دلیلونو له امله د نقد ښکار ګرځیدلې.

په عمومي توګه، د ایل ای ایس د ساحو اشغال ډیر کم دی او داسې انګیرنې هم شته چې ګواکي د ایل ای ایس ټمرې دې هغو کورنیو ته نه وي ورکړل شوي چې اړتیا ورته لري بلکه هغو ته چې د ځمکې د اخستو په تلاس کې دي. همدارنګه د ایل ای ایس ساحې د ښار څخه په کافي واټن کې پرتې دي چې د اساسي خدمتونو (اوبه، تعلیم، کلینیک) عرضه اړینه کوي او همدارنګه د معیشت فرصتونه هم نو ځکه دا ساحې په بیروني مالي مرستې پورې تړلي دي او ځکه خو دوامداره ندي. (د هرات کې د ایل ای ایس ساحه، سادات، د هرات د ښار څخه لویدیځ خواته په ۳۰ کیلومتري کې د ایران خوا ته په تلونکي سړک کې پرته ده چې د معیشت هیڅ فرصت په کې نه لیدل کیږي او داسې ښکاري لکه د پیریانانو ښار چې وي). همدارنګه د مهاجرینو وزارت ایله اوس اوس بې ځایه شوي هم ددې ساحو په ویش کې شامل کړل او اوس هم بې ځایه شویو ته په خپلو اصلي ځایونو کې په دې طرح کې د شاملیدو ویل کیږي نه په هغو ځایونو کې چې هغوی ورته بې ځایه شوي دي او اوس په کې ژوند کوي.

تر ټولو اساسي ننګونه داده چې بې ځایه شویو کورنیو ته دې د ځمکې د ملکیت امنیت فراهم کړل شي او هغه هم په یوه اقتصادي موقعیت کې او په آهسته آهسته توګه دې



د مسلخ د بې ځایه شویو د کمپ استوګنې ورانوي، د هرات ښار، لویدیځ افغانستان

دغه ځايونو ته د اساسي خدمتونو د عرضې او زيربنا د جوړولو له لارې وده ورکړل شي. د مسلخ ښيګڼه داده چې د هرات د ښار د پرمخ تللي ساحې څخه لرې پروت دی خو دومره هم نه چې د معيشت فرصتونه دې نه وي. همدارنګه دا ساحه په دولتي يا عامه ځمکه کې ده نو سياسي غبرګون هم کموي. سر بيره پر دې په مسلخ کې دومره ځای شته دی چې د شيدايي او مناريت بې ځايه شوي دې په کې هم ځای شي. د مناريت مرکزي موقعيت او د شيدايي ستراتيژيک موقعيت چې د عمومي سړک څنګ ته هم پراته دي ددغو ځمکو د ارزښت له کبله ډير ستونزمن کار دی چې ورته وده ورکړل شي او يا دې هم قانوني بڼه ورکړل شي.

اوس مهال د UN-Habitat او UNHCR ګډه پروژه غواړي چې په مسلخ کې د اوسيدونکو بې ځايه شويو عاجلې اړتياوې ددې استوګنزې د رسمي کولو د لارې، د اساسي خدمتونو د عرضې د لارې (په لومړي سر کې اوبه او سرپناه او په وروستي پړاو کې نور تسهيلات) او د معيشت د فرصتونو د مرستو د لارې چې د Sphere د لړ تر لړه معيارونه به يې د پيل نقطه وي. ددې ستونزې د سياسي حساس فطرت په نظر کې نيولو سره، بشردوستانه ادارو دغه پروژه د هرات د والي او ښاروالۍ، د محلي ارګانونو د خپلواک رياست، د کډوالو او راستنيدونکو د وزارت، د کلو د پراختيا وزارت، د کرهنې اوبو لګونې او مالدارۍ د وزارت او د افغانستان د ځمکو د اداري سره په نږدې همغږۍ سره پلان کړې ده. د UN-Habitat اداري د ملي او ولايتي دولتي فعالانو سره بحثونو ترسره کړي تر څو د مسلخ ميشتو بې ځايه شويو لپاره د ملکيت د امنيت ګزينه ولټول شي چې په کې usufruct (د کارونکي حقونه)، د اشتغال اسناد، د ځمکې فردي قوالې او نور اسناد شامل دي. هيله ده چې دولت به ددې ګزينو څخه يوه و مني.

**وړانديزونه**

په افغانستان کې د داخلي بې ځايه شويو لپاره د دوامداره حل لارو د لاسته راوړلو په لاره کې د پيشرفت د جاري ساتلو لپاره لاندنيو شيانو ته اړتيا ده- په ځانګړې توګه د مسلخ لپاره او عمومي هم:

- په افغانستان کې د غير رسمي استوګنو د سوانحو د جوړولو لپاره منظمه سروې ګانې تر څو د حکومت سره د دومداره حل لارو د بيامونډلو او د دغو استوګنو د قانوني کولو° پر سر بحثونه د معلوماتو له اړخه غني شي
- د ځمکې د ملکيت د امنيت پلانونه چې په کې د اساسي خدمتونو د عرضې جزيات هم شامل دي
- د شامليدو ښکاره او راڼه شرطونه چې د کډوالو د وزارت او د هرات د والي او ښاروال سره په همغږۍ د مسلخ د بې ځايه شويو لپاره د ځمکې ورکړه.
- د ځمکې نورې ټوټې (په مناسبه ځايونو کې، د ښار دننه يا ښار ته نږدې د باندې) چې بايد بې ځايه شويو او نورو کم عايد لرونکو کورنيو ته ورکړل شي.

- د پلان او عملي کولو په پړاوونو کې د بې ځايه شويو سره مشورې کول. د بېلګې په ډول د UN-Habitat د ټولنې د پراختيا شوراګانې چې په کې نارينه او ښځې شاملې دي.
- په بل ځای کې ځای په ځای کول بايد وړاندې شي او ورسره بايد امتيازات او مرستې هم وي چې دا کار په غير رسمي استوګنو کې د پرتو بې ځايه شويو لپاره د حل لارو د کڅوړې يوه برخه ده.

دا هيله کيږي چې مسلخ دې په افغانستان کې د نورو ځايونو لپاره چې ورته ننګونو سره مخ دی يوه بيلګه وګرځي. تر ټولو مهمه خو داده چې دا کار دې سياسي اشراف تشويق کړي چې بې ځايه شوي نه يواځې د اتباعو په شکل او پيژني بلکه هغوی ته د خپلو ټولنو داڅاثو په سترګه هم وګوري. په افغانستان کې اوس هم د بې ځايه کيدنو د رامنځ ته کيدو جوړښتي لاملونه موجود دي نو ځکه دا ډيره مهمه ده چې نړيواله ټولنه دې خپل پام بې ځايه شويو ته د دوامداره حل لارو و پيدا کولو ته واړوي او په دې کار کې د محلي او ملي حکومت سره دخيل اوسي تر څو يې تر لاسه کړي.

شوبها راو چې بريښنا ليک يې *shobha.rao@unhabitat-afg.org* دی چې کورونو، ځمکې او ملکيت د کاري ډلې همږي کونکې ده. جان ترکسترا چې بريښنا ليک يې *jan.turkstra@unhabitat-afg.org* دی په UN-Habitat Afghanistan کې د ښار د پراختيا مشاوره ده.
*www.unhabitat.org*

۱. نړيوال بانک/یو این ایچ سی ار (می ۲۰۱۱) په ښاري سيمو کې د داخلي بې ځايه شويو خلکو په اړه څيړنه
http://tinyurl.com/WB-UNHCR-Afghanistan-May2011
۲. کروي معيارونه
د Sphere handbook د با کيفيته بشردوستانه غبرګون د رسولو لپاره اساسات او نړيوال لږ تر لږه معيارونه وړاندې کوي. دا لږ تر لږه معيارونه د بشردوستانه مرستې څلور ژوند ژغورونکي ساحې په ځان کې لري: د اوبو عرضه، د فاضل آب د سستم او د حفظ الصحې وده، د خوړو امنيت او تغذيه، سرپناه، استوګنه او غير غذايي مواد او همدارنګه د روغتيا عمل.
www.sphereproject.org/handbook/ د انګريزۍ بڼه: (۲۰۱۱):
يواځې د ۲۰۰۴ کال بڼه يې اوس په پښتو او دري ژبو کې پيدا کيږي. لاندې ځای ته لاړ شئ
www.sphereproject.org/resources/?search=1&keywords=&language=0&category=22&subcat-22=25&subcat-29=0&subcat-31=0&subcat-35=0&subcat-49=0
۳. هغه حق چې يو فرد کوی شي د بل ملکيت و کاروي خو دا چې د هغه ملکيت په ماهيت کې دې تغير نه وي راغلی
٤. د مسلخ بې ځايه شويو ته د ۲۰۰۴ کال تر سپتمبر پورې وخت ورکړ شوی وو چې د بيرته ستنيدو د پروسې لپاره ځانونه ثبت کړی چې دا پروسه بيا د ۲۰۰۵ کال په پسرلې کې ختميدله.
۵. UN-Habitat/UNHCR (forthcoming2014) Local Integration of IDP families in Herat, Afghanistan: Phase 1a - Household and property survey and planning.
(په هرات کې د داخلي بې ځايه شويو محلی ځای په ځای کيدل. لومړی پړاو: د کورنی او ملکيت سروې او پلان)

# د افغان پناه غوښتونکو لپاره د حل لارو بيا ليدنه

**ډان ټايلر**

د افغان پناه غوښتونکو په اړه سيمه ييزپروګرامونه او وکالت بايد د مرستې کولو او ځواب ورکولو پر محور وچورلي نه د غزېدلبې ځايه کيدنې د حلولو پر محور.

افغانان اوس هم د نړۍ تر ټولو غزېدلپناه غوښتونکی حالت لري تر دې حده چې اوس هم په ايران او پاکستان کې شاو خوا ۲.۵ مليونه ثبت شوي پناه غوښتونکي اوسيږي او په همدې اندازه غير ثبت شوي پناه غوښتونکي هم په نومړو هيوادونو کې اوسيږي. د ۷۵٪ شاو خوا يې د درې لسيزو څخه ډير په پرديس کې پاتې شوي او د ډيرو افغان پناه غوښتونکو لپاره د هغوی اوږدېمسافرۍ دا توانايي نه ده ورکړې چې په کوربه ټولنو کې په بشپړه توګه ځای په ځای شي. ډيری يې دا ګمان کوي چې د هغوی بشر دوستانه حالت د مسافرۍ د غزېدوسره نور هم خرابيږي او وس د افغان پناه غوښتونکو لپاره افغانستان ته په بيرته راتګ کې ډيره لږه ګټه ښکاري.[1] د ډيرو پناه غوښتونکو لپاره د هغوی د بې ځايه کيدنې په اړه د يوه دوامداره حل لارې احتمال غير حقيقي او ډير لری ښکاري.[2]

په غزېدلبې ځايه کېدنه کې د افغان پناه غوښتونکو د اړتياوو بيانول او په نظر کې نيول يوه پرمختياييغبرګون ته اړتيا لري کوم چې ښکاري د بشر دوستانه فعاليتونو سره ناسمواليلري. د افغان پناه غوښتونکو لپاره د بشر دوستانه غبرګونونو چې د هغوی حاضرې اړتياوې پوره کوي او د هغوی د اوږد مهاله پرمختيايي اړتياوو د پوره کولو ترمنځ

د خلا ډکول د نړیوال پالیسي جوړونکو او مرسته رسوونکو لپاره یو شان ستونزه ده.

**د دوامداره حل لارې ستونزه**

افغان پناه غوښتونکو ته غبرګون ته تل د حل لارو د لټون له نظره کتل شوي. خو یواځې مروج خط مش چې د بشر دوستانه مرستو رسول دي ځنډیدلې پناه غوښتونکې حالت ته مناسب غبرګون نه دی. د بشردوستانه غبرګون د تر سره کوونکو او د نړیوالو عطیه ورکوونکواو پالیسي جوړونکو لپاره دا اړین دي چې د افغان پناه غوښتونکو ځانګړی حالت درک کړي او دا پوهه په ایران، پاکستان او د افغانستان دننه د راستنېدونکو مهاجرینو سره د مرستې کولو په تړاو په کار یوسي.

د یو این ایچ سی آر وروستۍ هلې ځلې د افغان پناه غوښتونکو په اړه د یوې بشپړې ستراتیژۍ د تسهیل لپاره هغه ستونزې چې د یوه بشپړ او ملحق خط مش مخ ته په یوه سیاسي او مغلق سیمه ییزامنیتی محیط کې را ولاړیږي په ګوته کړی دي. د افغان پناه غوښتونکو لپاره د سیمه ییزهحل لارو ستراتیژي (SSAR) [۳] د یو این ایچ سی آر او د افغانستان، ایران او پاکستان لخوا د غبرګون د یوه جوړښت د تشریح په لاره کې یو مهم ګام دی تر څو په سیمه کې د ځنډیلې بې ځایه کېدنې ټول اړخونه روښانه شي. دا ستراتیژي دا مني چې بشر دوستانه او پرمختیایي ستونزې په مشخصه ځایونو کې ساتل شوې دي او دا چې په دواړه خواوو کې د ترسره کوونکو د یوځای کار کولو په برخه کې د وېرې یوه کچه موجوده ده.

بیا هم د دغو لارو چارو عملیاتی کول ستونزمن کار دی. د دوامداره حل لارو مروج جوړښت- بېرته راستنیدل، بیا ځای په ځای کېدل، او محلي ځای په ځای کېدل- په داسې بنه عملي شوی چې بیرته ستنېدل یې یواځینی دوامداره حل ګڼلی. دغه د بیرته ستنېدلو یو طرف والی د غبرګون د ایجنسیانو لپاره چې غواړي د کوربه هیوادو سره په اړیکه کې شي تر څو خپل اوږد مهاله پراختیایي مرستې تر سره کړي حساسیتونه ولاړوي ځکه چې کوربه هیوادونه دغه هڅې ددوی په هیواد کې د پناه غوښتونکو د پاتې کیدلو په معنی سره اخلي.

په افغانستان کې له بلې خوا د بېرته ستنېدلو یو طرف والی منل شوی چې په پراختیایي هڅو مختلف تاثیرات واچوي. د ۲۰۰۲ کال راپدېخوا د پنځه ملیونو څخه د ډیرو مهاجرینو بېرته راتګ په محلي ټولنو ډیر فشار اچولی او اوس هم د هیواد د کم ظرفیت له امله د راستنېدونکو غټه ډله د ستونزو سره لاس او ګرېوان ده. د انتقال او د امنیتي مسولیتونو د لیږد پر سر بې باورۍ ډیرو مهاجرینو لپاره بیرته راتګ یو غیر حیاتي کار ګڼلی. ددغه کار په مقابل کې بشر دوستانه ایجنسیانې اوس هم د افغان مهاجرینو لپاره د غبرګون پروګرام مخته وړي کوم چې په معمول ډول د ګډو پیغامونو د لیږلو د خطر لاندې دی چې په پاکستان او ایران کې د حکومتونو سره اړیکو ته خطر جوړوي.

**د مهاجرینو سیمه ییزه محتوا او د پالیسۍ چاپیریال**

دغبرګون یوه سیمه ییزه لاره چاره د ټولو هغو ډلو لپاره چې د افغان مهاجرینو ځنډیدلی حالت مخې ته راوړي د لوړې کچې سیمه ییزې همکارۍ یو فرصت وړاندې کوي. SSAR اوس د درې هیوادونو د ګډ کار کولو لپاره د پالیسي یو جوړښت تاسیس کړی. په سیاسي ډول دا کار بېرته راستنېدا د دوامداره حل لارې په صفت تاییدوي. په عملي ډګر کې دا کار په درې واړه هیوادو کې د دوامداره راستنیدا لپاره د اړینو حالاتو د برابرولو او د راستانه شوو لپاره د ځای په ځای کیدنې د شه احتمال زمینه برابرولو مداخلتي پروګرامو ته شه والي ور بخښي.

ددې نه علاوه نور مثبت تغیرات عبارت دي د هغه تعهداتو څخه چې افغان کډوال به د نړیوالېعطیه ورکوونکېټولنې د اجندا په سر کې پاتې کیږي او د هغه نوې دلچسپۍ څخه چې د افغان کډوالو د آسیب پذیرۍ د پېژندلو لپاره د شواهدو او مدارکو د بنسټ جوړول دي او په دې رابطه د نورو پروګرامونو او مداخلاتو طرح کول دي. دا کار به د بشر دوستانه مداخلاتو او پرمختیایي هڅو د تشویق په موخه لاره هواره کړي او د بشر دوستانه ایجنسیانو تسکیني مداخلاتو به د پرمختیایي پایلو د لاس ته راوړلو په سلسله کې تشویق کړي.

په منفي اړخونو کې روان د بېرته راتګ یوطرف والی او د پاکستان او ایران لخوا په لاندې نکاتو کې د تعهد نه شتون شامل دي. اول) د دوامداره حل لارې د کڅوړې د یوې برخې په حیث د راجستر شویو مهاجرینو لپاره د استوګنې بدیله ترتیبات شاملول. دوم) په مناسبه توګه د غیر راجستر شویو مهاجرینو د ستونزو بیان، او دریم) او د غیر راجستر شوو آسیب پذیزو مهاجرینو لپاره د محافظت فراهمول.

هغه بشردوستانه ایجنسیانې چې د افغان کډوالو د غبرګون په هڅو کار کوي د امکان تر حده اړې دي چې د خپلو پروګرامو موخې او ستراتیژۍ SSAR سره همغږې کړي، په ځنډیدلي حالت کې د افغان کډوالو بشري ستونزې بیان کړي، او عطیه ورکوونکي دې ته تشویق چې نوې لارې تقویه کړي چې له امله یې په ځان تکیه کول تقویه او پر نورو اتکا را کمه کړي.

ځینې مهم ګامونه شته چې بشر دوستانه اېن جي او ګانې یې په ځنډیلې بې ځایه کیدنه کې د افغان کډوالو د تقویت په موخه پورته کړي:

## د ټولنې لخوا د مخته تلونکو پروګرامونو لپاره د اړتیا پیدا کول

بشر دوستانه ایجنسیانې باید د بې ځایه کېدنې د حل کولو کوښښ و نه کړي او نه هم باید ځانګړې دوامداره حل لارې تجویز کړي بلکه باید عملي وسایل په داسې طریقه بیان کړي چې د ټولنې لخوا پر مخ یوړل شي.[٤] پر ځان د تکیې اصل باید د پروګرام جوړونې یو مهم اصل ووسي او زده کړه او مدافعت باید د دې لپاره په کار یوړل شي چې د کوربه حکومتونو د زړه نا زړه توب ستونزه حل کړي څوک چې پر ځان تکیه په ځای پر ځای کیدلو کې شونه بولې.

دا هم مهمه ده چې د کډوالو د غبرګون د پروګرامونو په اړه کوربه ټولنو، محلي چارواکو او ملي حکومتونو ته موثره معلومات وړاندې شي تر څو د مداخلاتو د لارې او د فعاله ونډې اخیستنې- لکه د ټولنې په کچه د معیشت تقویت- د لارې د افغان کډوالو سره د مرستې د ارزښت پوهاوی لوړ شي. ددې لپاره چې د کوربه ټولنو او ملي حکومتونو هغه ذهنیت چې وایي افغان کډوال پر کوربه ټولنو بار پروت دی له منځه لاړ شي، د پروګرام جوړونې مبتکرانه ماډلونه باید افغان کډوالو ته دا وړتیا ورکړي چې ټولنې ته تولیدي ثابت شي. دغه رنګ ټولنیزې لارې چارې کولی شي محلي اقتصادي رشد پیاوړی کړي او که چیرته په ښه توګه بیان شي نو امکان لري چې د بېرته راستنېدو اوږد مهاله موخې د خطر سره مخ نه کړي.

## عطیه ورکوونکو ته دا ویل چې کوم کارونه موثره دي

د افغان کډوالو لپاره د محدودو بشردوستانه پانګو په بڼه د تقویت د نویو بڼو په جوړولو کې د عاید د تولید پر فعالیتونو تمرکز، د معیشت یا د نغدو پیسو د ورکړې پروګرامونه، او د کوربه ټولنو سره لا زیاته همکاري شاملیدی شي. تعلیم او مسلکي زده کړې کوم چې پر بین السرحدي ابعادو باندې تمرکز کوي (لکه مهارتونه او تصدیقونه) کوم به چې په بې ځایه کېدنه کې د کډوالو د کار د مارکیت د پرمختیا او په عین وخت کې د کوربه حکومت د بیرته ستنیدلو موخه برقراره ساتي دوه ګونی تاثیر ولري.

که د یوې خوا د کډوالو پر ځان د تکیې پروګرامونه باید مخ ته لاړ شي نو له بلې خوا د دغو کډوالو او بېرته ستنېدونکو د رسمې حقونو بیانول هم ډېر ارزښت لري. د افغان کډوالو وړتیا چې پر ځان تکیه شي هغه وخت لاس ته راځي چې د ۱۹۵۱ کال د قرارداد د حقوقو بشپړې کڅوړې ته لاس رسی ولري پکې د خوځښت او کارته د لاس رسي حقوق شامل دي. ددغه منطق بیانول او د کوربه حکومتونو لخوا یې منل کولی شي چې د حالاتو ارزښت لوړ او آسیب پذیری راټیټې کړي

## باید نور هم موثر مدافعت ترسر کړي

د بشر دوستانو غبرګونونو د ترسره کونکو لپاره دا هم ډېر اړین دي چې د بې ځایه کېدنې د حالاتو پر سر مناظرې د پرمختیا سرته رسوونکو او نړیوالو ډونرانو په اجندا کې لا زیات ارزښت پیدا کړي. د بشر دوستانه او پرمختیایي سرته رسوونکو تر منځ د اړیکو پر مخ تللی تسهیل د دې وړتیا لري چې کډوالو او کوربه ټولنو ته د خدماتو رسول په داسې شکل ترسره شي چې موازې سستمونه له منځه یوسي او سیاسي اراده د ځنډیدلی کډوالۍ حالت د منځه وړلو لپاره جوړه کړي. ځنډیدلې کډوالۍ حالت ته د غبرګون هدایات – چې په ښکاره توګه ووایي چې مرسته باید له کومه ځایه څخه پیل، او د بشردوستانه او پرمختیا سرته رسوونکو تر منځه په کوم ځای کې پای ومومي- کوي چې د عطیه ورکوونکو د اوسنې بحث لپاره یوه مهمه همکاري ووسي.

سیمه ییز SSAR کولی شي چې د هغو هڅو سره چې د افغانستان، ایران او پاکستان تر منځه د بین السرحدي اړیکو پیدا کول او ترې د ګټه اخستلو د پوهاوي لوړول جوړوي مرسته وکړي تر څو وګوري چې څنګه راروان پروګرامي مداخلتونه د افغان کډوالو او راستنېدونکو په ژوند کې تغیر راوستی شي. نوې هڅې کیدای شي چې په سیمه کې د ښاري ځنډیدلې بې ځایه کېدنې د حالاتو لپاره د پرمختیایي پروګرامونو په لورې سوق شي.




د فاریاب د ولایت په میمنه کې راستنیدونکې، بې ځایه شوې او محلي انجونې په هغه مکتب کې د درس ویلو په حالت کې دي چې د ناروې د کډوالو د کونسل لخوا جوړ شوی دی.

## پایله

د نن ورځې پورې پر بشر دوستانه مداخلاتو د حده ډېرې تکیې د افغان کډوالو حالت ته د غبرګون بنه ځانګړې کړې ده او په دې کار سره یې هغه هڅې چې موخه یې د اوږد مهاله حل لارو حفظ دی د خطر لاندې راوستي او تتې کړې یې دي. د افغان کډوالو د ځنډیلي حالت په اړه د مخ په زیاتېدو نړیواله دلچسپي او د بېرته راتګ څخه چاپېرې ستونزې اوس هم د اهمیت وړ دي او یوه نوي تمرکز ته اړتیا لري. دغه هڅې باید د لاندې څخه د پورته لورې ته د پروګرامي اصولو پر اساس تنظیمې شي او باید د ځانګړو دوامداره حل لارو د ترفیع څخه فاصله واخلي. د دې پر ځای د افغان کډوالو په اړه سیمه ییز پروګرامونه او وکالت باید ځنډیدلې بې ځایه کېدنې ته د مرستې او غبرګون کولو له محوره وچورلې نه د حل کولو.

ددغه رنګ نویو پروګرامونو په لاره اچول د خیال ساتنې څخه د لا ځواکمنو مشارکتي د مرستو د کڅوړو لورې ته د تګلپاره ډېر اړین دي. پر ځان د تکیې د پروګرامونو د پوهاوي په اړه د سیمې د بشر دوستانه ټولنو د پالیسۍ بحثونه به نه یواځې دوامداره مالي مرسته تضمینه کړي بلکه د ایران او پاکستان حکومتونو ته به هم دا تضمین ورکړي چې مخ په زیاتیدو پر ځان تکیه د محلي ځای پر ځای کېدو سره مساوي نه ده بلکې په مناسب وخت کې رضاکاره بېرته ستنیدو په عرصه کې هم رول لوبولی شي.

**ډان ټایلر چې برېښنا لیک یې *dan.tyler@nrc.no* د ناروې د کډوالو د کونسل د سیمه ییز مدافعت او محافظت مشاوره ده.**
***www.nrc.no***

۱. سوسانی شمایدل (۲۰۱۲)
'Protracted Displacement in Afghanistan: Will History be Repeated?'
(ځنډیدونکې بې ځایه کیدنه: آیا تاریخ به بیا ځان تکرار کړي؟) په کالابریز او مارټ جی ایل Transatlantic Cooperation on Protracted Displacement: Urgent Need and Unique Opportunity (د ځنډیدونکې بې ځایه کیدنې په اړه د اطلس د بحر د ها خوا همکاري: شدیده اړتیا او نادره فرصت.
۲. ایون ماکلوید (۲۰۰۸) Afghan Refugees in Iran and Pakistan
(په ایران او پاکستان کې افغان پناه غوښتونکي) په لوسچر جې، میلنر جی، نیو من ای، او ټرولر جی Protracted Refugee Situations: Political, human rights and security implications. United Nations University Press
(ځنډیدونکی پناه غوښتونکي حالتونه: سیاسي، د بشر د حقونو او امنیتی تاثیرات. د نړیوالې ټولنې د پوهنتون مطبعه)
۳. www.unhcr.org/afghanistan/solutions-strategy.pdf
همدارنګه د نتا مقاله هم وګورئ
٤. لانګ کی (۲۰۱۱) Permanent Crises? Unlocking the protracted displacement of refugees and internally displaced persons, Refugees Studies Centre Policy Briefing Series, RSC/NRC/IDMC/NUPI
(دومداره بحرانونه؟ د دومداره بې ځایه شویو مهاجرینو خلاصول، د مهاجرینو د زده کړې مرکز د پالیسۍ جامع ټولګه)
http://tinyurl.com/RSC-2011-Long-PRS

# د پاکستان د کډوالو ملي پالیسي

محمد عباس خان

د ۲۰۱۴ کال لپاره او په افغانستان کې د انتقال د پروسې د اغیزوله امله د چمتو والي په موخه د پاکستان د کډوالو نوې ملي پالیسي کوښښ کوي چې په پاکستان کې د افغان کډوالو لخوا تجربه کیدونکي حقیقتونه او بې باورۍ بیان کړي.

دا لا ښکاره نده چې د افغانستان څخه د ناټو وتل به په پاکستان کې په ۱.۶ ملیونو ثبت شوو او یو ملیون نا ثبته افغانانو څه اغیزه ولري. په مصونیت او وقار سره د ټولو افغانانو بیرته ستنیدل تل د پاکستان د حکومت د زړه حل لاره ده خو دا چې د ۲۰۱۴ وروسته به څه پیښیږي افغان کډوال یې پر بیرته ستنیدو بې باوره کړي دي. د لسیزو جګړو او سیاسي تاو تریخوالو د افغانستان د جذب ظرفیت کمزوری کړی دی په ځانګړي توګه د اشتغال په سکتور کې، همدارنګه اساسي خدمتونو ته (پوهنه، روغتیا، اوبه او د فاضل آب سستم) لاس رسۍ اوس یوه ننګونه ګڼل کیږي.

د ۲۰۱۳ کال په جولای کې د پاکستان حکومت د افغان کډوالو په اړه پر یوې ملي پالیسۍ هوکړه وکړه،[1] چې د افغان کډوالو لپاره د حل لارو د ستراتیژۍ (SSAR) سره په همغږي یې مسوده جوړه شوه، چې په مصونیت او وقار سره د کډوالو پر ستنیدلو، په افغانستان کې ددوی پر دوامداره ځای په ځای کیدلو، او د کډوالو د کوربه ټولنو سره پر مرستو متمرکزه ده.

### بیرته ستنیدل او ځای په ځای کیدل

د افغانستان، پاکستان او یو این ایچ سی آر دري اړخیزه هوکړه د پاکستان څخه په تدریجي ډول د ثبت شوو افغان کډوالو د بیرته ستنیدلو قوانین او مقررات په ګوته کوي. ددغې هوکړې له مخې د ۲۰۰۲ کال د مارچ راپدیخوا د ۳۸۴۰۰۰۰ په شمار افغانان خپل په زړه راستانه شوي دي چې هر یو راستنیدونکي د یو این ایچ سی آر څخه د ۲۰۰ امریکایي ډالرو حق دار دی. دغه دري اړخیزه هوکړه اوس د ۲۰۱۵ کال د ډسامبر تر ۳۱ نیټې پورې وغځیدله.

د بیرته راستنیدو رضاکاره طبیعت د پاکستان د کډوالو د ملي پالیسۍ اساسي خبره ده چې دا د پالیسي جوړونکو ترمنځ د حقیقت محوري یوه بیلګه‌ده او یو پوهاوی دی چې د افغانستان کمزوری قانون او اداره او د اشتغال د فرصتونو نیشتون هغه دوه خنډونه دي چې د بیرته ستنیدلو او په افغانستان کې د ځای په ځای کیدلو مخه یې نیولې ده. ددې لپاره چې افغانان په دوامداره توګه خپل هیواد ته ستانه او ځای په ځای شي، په افغانستان کې د یوه تشویقي ماحول جوړول اړین دی. د راستنیدونکو لپاره د ځای په ځای کیدو ۴۸ وړاندې شوي مرکزونو ته باید د افغانستان د حکومت او د نړیوالې ټولنې لخوا لومړیتوب ورکړل شي خو تر اوسه په دې ساحه کې ډیر لږ څه ترسره شوي. د پاکستان نوې ملي پالیسي د دغو مرکزونو د پراختیا د حالت په اړه د معلوماتو پر شریکولو ډیر زور اچوي تر څو دغه معلومات د احتمالي راستنیدونکو سره شریک شي.

### کوربه ټولنې

د افغان کډوالو د ثبت شوي ډلې د اویا سلنې څخه ډیره یې د کمپونو څخه بهر ژوند کوي او لدې امله چې په کمپونو کې د خوراکي مرستو سلسله قطع شوه. په ماضي کې د هغو ټولنو سره ډیره کمه مرسته شوې چې کډوالو ته یې د پناه ځای ورکړی وو خو دا کوربه ټولنې ډیر اساسي رول لوبوي ځکه چې کډوالو ته اجازه ورکوي چې د هغوی د محدودو منابعو او زیربناوو څخه ګټه واخلي. لیکن هغه ټولنې چې منابع یې محدودې دي نه شي کولی چې دغه مرستې دوامداره وساتي او د دواړو ترمنځ بیلدل حتمي دی. ددې ستونزې د حل کولو لپاره د کوربه سیمو مرسته د پاکستان د کډوالو د نوې پالیسۍ اساسي برخه ګرځیدلې: د SSAR له مخې پاکستان ته د نړیوالې ټولنې د وعده شوو ۶۱۰ ملیونه ډالرو څخه د کډوالو لخوا اغیزمن شوو سیمو ته RAHA ۴۹۰ ملیونه رسیږي.

دا یو ډیر ښه پراختیایي ابتکار دی چې هم کوربه ټولنو او هم کډوالو ته ګټه رسوي. د ۱۰۰۰ څخه ډیرې وړې او منځنۍ کچې پروژې د پوهنې، روغتیا، معیشتونو، چاپیریال، اوبه او د فاضل آب د سستم په برخه کې عملي شوې دي او یو شمیر لوېې پروژې د عملي کیدو په حال کې دي.

### پوهنه او روزنه

دا مهمه ده چې ومنل شي چې د کډوالو د پوهنې کم والۍ به د دوامداره حل لارو مخې ته خنډ دریږي او همدارنګه

د کوربـه او د خپـل هیـواد د بیـا رغونـې او پراختیـا مخـې تـه هـم یـو خنـډ و شـمیرل شي. پوهنـه نه یواځـې د هغـو کډوالو لپـاره مهمـه ده چـې غـواړي خپل هیـواد ته سـتانه شي او د بیا رغونـې پـه پروسـه کـې ګـډون وکـړي بلکـه پـه همـدې کچه د هغـو کډوالـو لپـاره هـم مهمه ده چې غـواړي په کوربـه ټولنه کـې پاتـې شي او دې ټولنـې تـه مثبـت خدمـت وکـړي. د هغې پوهنـې نـه پرتـه چـې د کډوالـو څخـه د ټولنـې تولیـدي غـړي جـوړوي، کـډوال بـه تـل د اوږو د بـار پـه حیـث ګڼـل کیـږي. ډیـر عمـلي بیلګـې شـته دي چـې دا ښـکاره کـوي چـې هغـه کـډوال چـې د معیشـت مهارتونـه لـري د نـورو په نسـبت ډیر سـتانه کیـږي. پـه پاکسـتان کـې د افغـان کډوالـو د ۵۱ سـلنې څخـه ډیـره د اتلـس کلونـو لانـدې ده (چـې اکثریـت یـې پـه پاکسـتان کـې پیـدا شـوي). د پوهنـې او مهـارتي زده کـړې نـه پرتـه بـه دې کډوالـو تـه سـتونزمنه وي چـې پـه کوربـه ټولنـه کې یو ښـه معیشـت لاس ته راوړي. ددغې سـتونزې د بیان او حـل کولـو په موخـه د کډوالو کوربه ولسـوالیو کـې د تخنیکي روزنـو مرکزونـه تاسـیس شـوي دي تر څـو ترې کوربـه ټولنه او کـډوال دواړه ګټـه پورتـه کـړي. او د RAHA (کـډوال وهلـې کوربـه سـیمې) د لارې د پاکسـتان حکومـت غـواړي چـې د کډوالـو او کوربـه ټولنـې لپـاره ابتدایي دولتي ښـونځی جوړې کړي چې اضافه ټولګي او ښه روزل شوي استادان به لري.

**پایله**

د پاکسـتان د کډوالـو مـلي پالیـسي یـوه بشـپړ سـند دی چـې د حقیقتونـو پـه نظـر کـې نیولـو سره جـوړ شـوی دی. دا د زړه خـبرې نـدي بلکـه د عملـی او منطقـي مداخلتونو جـوړول دي چـې د دوامـداره حـل لارو د لاسـته راوړلـو پـه موخـه طـرح شـوي دي. کـه څه هم د پاکسـتان اوسـنی امنیتـي او اقتصادي حالـت ددې جوګـه نـدی چـې یواځـې او خپـل پـه سر دې د ملیونونـو افغانانـو د کوربـه تـوب وړتیـا ولـري، خـو بیـا هـم پاکسـتان د خپـل افغان خویندو او وروڼـو سره ولاړ دی. افغان کـډوال د بـل هـر وخـت نـه اوس نړیـوال پـام تـه اړتیـا لـري او د افغانسـتان پـه اړه د هـر راتلونکـي سـیاسي جوړښـت پـه اجنـډا کـې بایـد دغـه اوږدیـدلي بـشري ناوریـن تـه لومړیتوب ورکـړل شي.

محمد عباس خان چې بریښنالیک یې comisb@hotmail.com دی په اسلام آباد کې د افغان کډوالو د سترې کمیشنرۍ کمیشنر دی. www.safron.gov.pk

۱. ایالتونو او سرحدي سیمو د فدرالي وزیر لاندې (SAFRON) جنرال عبدالقادر بلوچ




د زده کړې د چټک پروګرام په مرکز کې افغان کډوال ماشوم د لیک په یوه درس کې، کویټه، پاکستان

# زور زیاتۍ او آسیب پذیرۍ: افغانان په پاکستان کې

سنا الیمیه

که څه هم دا معلومه ده چې د افغانانو اکثریت چې په پاکستان کې میشت دي افغانستان تګ د بیا ته کوم تکل نلري، خو بیا هم د هغوی د آسیب پذیریو د بیان لپاره او د زور زیاتي او ځورونې نه د هغوی د ژغورلو لپاره ډیر څه کولو ته اړتیا ده.

اوس مهال په پاکستان کې ۱.۶ میلیونه ثبت شوي او د یوه څخه ملیونه دوه تر پورې بې اسناده افغان پناه غوښتونکي میشت دي. د ۲۰۰۱ کال نه وروسته د پاکستان حکوپاکستان ته کوم نور را مات شوي افغان پناه غوښتونکي په رسمیت نه وپیژندل او دغه بې اسناده افغانان کوم قانوني محافظت هم نلري. په پاکستان کې د میشتو افغانانو اکثریت په خیبر پښتونخوا او بلوچستان په ایالتونو کې اوسیږي خو یوه ډیره شمیره یې په کراچۍ، اسلام آباد، او د پنجاب په نورو ښارونو کې هم میشته ده. د افغانانو ثبته شوې ډله بیا د خیبر پښتونخوا او بلوچستان په کمپونو کې اوسیږي خو د افغانانو اکثریت په کرایې، غیر رسمي کورونو کې اوسیږي او یا هم په غیر قانوني سیمو کې.

د افغان پناه غوښتونکو اکثریت پاکستان ته د اتیایمې لسیزې او د نویمې په سر کې راغلل او بیا یې په پاکستان کې خپل ژوند تاسیس کړ. ډیرو افغانانو د پاکستان د ښاري او کلیوال اقتصاد په وده کې ونډه ولرله او د پاکستانیانو سره یې د ملګرتیاوو، ودونو، سوداګریز شراکتونو او په یوه ګاونډ کې د اوسیدلو د لارې ژورې اړیکې ټینګې کړې دي. ددې سره سره په دې نیژدو کلونو کې د افغانانو پر وړاندې کینه او تشنج ډیر شوی دی چې د ناسیونالیستي کرکیچونو او د کوربه توب د خستګۍ د فکتورونو لخوا ورته لمن وهل کیږي.

په مطبوعاتو کې د افغانانو انځور د مخ په زیاتیدونکي انداز سره منفي ښودل کیږي. که څه هم یو وخت د مجاهدینو په نوم افغانان د قهرمانانو په نوم شهرت درلود خو اوس په پاکستان کې افغانانو ته د طالبانو په رڼا کې کتل کیږي او د افغانانو پر وړاندې دې مخ په زیاتیدو کینې د هغوی لپاره ډیرې منفي اغیزې د ځانه سره لرلې دي. په پاکستان کې د افغانانو لپاره د کورونو ضمانت وجود نلري (که په کمپونو کې وي، غیر رسمي سیمې وي او که کرایي کورونه) او د کرایو یو په یو جګیدل یوه معموله پیښه ده. د اساسي خدمتونو عرضه کول هم بې باوره ده او ځینې غیر دولتي اداری خو د افغانانو په سیمو کې د پانګې اچونې تکل نه لري ځکه چې ویره لري چې دا سیمه به وتړل شي. منظمه نیونې، ځورونې، او حتی د افغانانو بیرته افغانستان ته شړل یو عادي کار شمیرل کیږي. د امنیتي ګواښونو د ډیروالي له کبله امنیتي پوستې هم ډیرې شوې دي او د ورځنې ژوند یو معمول ګرځیدلې دي – او د پیژندنې یو کارډ چې ډیر افغانان یې نه لري اړین دی. همدارنګه په منظم ډول د افغانانو نښه کول د ډیرو له آنده یوه ستراتیژي ده چې موخه یې د افغانانو د بیرته ستنیدلو تشویق دی.

> پاکستان نور زمونږ لپاره د امن ځای ندی. حکومت غواړي چې مونږه لاړ شو. ځکه مو همیشه ځوروي. (افغان پښتون کډوال چې د ۱۹۸۲ څخه تر اوسه په پاکستان کې اوسیدلی دی)

**د ۲۰۱۴ او د هغې څخه د وروسته لپاره وړاندیزونه**

ډیر افغانان په پاکستان کې یا خو خوځنده ژوند لري (کله افغانستان کې او کله پاکستان کې) او یا هم په افغانستان کې د مسلسلې جګړې یا په پاکستان کې د هغوی د ښه شوي ټولنیز حیثیت له امله افغانستان ته د ورتګ کوم پلان نلري. نو ځکه د پاکستان حکومت، نړیوالې غیر دولتي اداري او محلي غیر دولتي اداري باید همدارنګه پلان ولري او عمل وکړي.

د آسیب پذیره افغانانو د مرستې لپاره - څوک چې روغتیا، اوبو او د فاضل آب سستم ته محدوده لاس رسي لري- ډیرو هڅو ته اړتیا لیدل کیږي او محلی غیر دولتي اداري باید په دې ځانګه کې مرسته ترسره کړي. د کمپونو اوسیدونکي اکثره وخت غواړي چې خود کفیل و اوسي او د عاجله اړتیاوو ( لکه پاکو اوبو ته لاس رسۍ) د حل لپاره یې کمیټۍ هم جوړې کړې دي. د افغانانو د ټولنو او د محلي غیر دولتي ادارو تر منځه همغږې اړیکې به ددغو ټولنو سره د خپل چاپیریال په ښه کولو کې مرسته وکړي.

په هغو ساحو کې چې افغانان د پاکستان د ټولنې لپاره ګټور ثابت شوي باید ذکر شي او له امله یې باید د افغانانو مثبت

انځور وښودل شي. د بيلګې په ډول، په کراچۍ کې د اتباعو د آرشيف پروژه په پاکستان کې د کډوالو شفاهي تاريخونه ثبتوي. اوس مهال دا پروژه يواځې هغه مهاجرتونه ثبتوي چې د پاکستان او هند د تقسيم پر وخت رامنځ ته شوي خو دا هم امکان لري چې دا پروژه تشويق شي چې د افغانانو لپاره هم ځای پيدا کړي.[۱]

د پاکستان د حکومت او د يو اين ايچ سی آر لخوا بايد د افغانانو د قانوني حقونو په اړه د دولت، مدني ټولنو او امنيتي ځواکونو د فعالانو لپاره دوامداري زده کړې او روزنې تشويق شي. په هغو سيمو کې چې افغان کډوال ډير دي د يو اين ايچ سی آر د مشترکينو لخوا بايد حقوقي مرسته ادامه ومومي.

په اوږد مهال کې بايد د پاکستان حکومت تشويق شی چې د افغانانو په مليونونو شتون په رسميت و پيژني کوم چې د پاکستان د اوږد مهال يوه مهمه برخه جوړوي او يو حقيقت دی. دا خبره په ذهن کې ساتل چې په پاکستان کې د افغانانو اکثريت نه غواړي بيرته افغانستان ته را ستون شي، د پاکستان حکومت بايد د بخښنې يوه طرحه وړاندې کړي چې له امله يې افغان کډوال د پاکستان قانوني اتباع و ګرځي چې دا کار به حکومت ته دا وړتيا ورکړي چې دا ډله په ښه توګه د دولت د يوې برخې په حيث اومني او ټول حقوق او محافظت ورته ورکړي. که چيرته دا کار نه کيږي، نو حد اقل افغانانو ته بايد د کار کولو او پاتې کيدلو اوږد مهاله جواز ورکړل شي او دا جوازونه بايد د اوسني مهاجر کارډونو په شان يوناڅاپه او نه اټکل کيدونکي نه وي کوم چې ډير زر تمديد غواړي او ددې ضمانت هم نشته چې تمديد به شي او اکثر ځنډول کيږي هم. افغانان د پاکستان يو مهم او اوږدمهاله برخه ده. دا حقيقت بايد اوس په قانون کې و پيژندل شي.

سنا اليميا چې بريښنا ليک يې sa113@soas.ac.uk دی د لندن د آسيا او افريقا د زده کړو په مرکز کې مشره ښونکې ده. www.soas.ac.uk

دغه مقاله د هغه ساحوي کار پر اساس کښل شوې چې د ۲۰۱۰ کال راهيسې په پيښور او کراچۍ کې ترسره شوی.

۱. www.citizensarchive.org/oral-history-project/

## د ايران څخه راستنيدل

آرمنډو ګيلر او ماسيج ايم لاټک

د هغو فکتورونو پوهاوی چې د کډوالو د بيرته راستنيدو پر پريکړې او د وګړو د راستنيدو سره سم په ټولنه کې د ځای په ځای کيدو پر وړتيا اغيزه لري په ايران کې د ميشتو افغان کډوالو د راستنيدو نه مخکې او وروسته د مناسبه پروګرامونو د پلان لپاره ډير اړين دی.

که څه هم د راستنيدو د مخنيوي فکتورونه ډير ښکاره دي (امنيت، اقتصادي فرصتونه، کورونو ته لاس رسی او اساسي خدمتونو ته لاس رسی)، خو بيا هم د افغان کډوالو د راستنيدو او ځای په ځای کيدو د پړاوونو ډيری شخصي او ټولنيز اړخونه لا ندي څيړل شوي او په اړه يې پوهه ډيره لږه ده. نو په دغه ساحه کې د لا ډيرو معلوماتو لاس ته راتلل به د پولو د دواړو خواوو د پروګرامونو د جوړولو ګزينې د معلوماتو پر بنسټ کړي تر څو افغان کډوالو ته چې کلونه يې په پرديس کې تير کړي هغه اړينه پوهه او مهارتونه ورکړي تر څو يوه برياله راستنيدنه او ځای په ځای کيدنه ترسره شي.

د ۲۰۱۳ کال په پای کې د ناروې د کډوالو د کونسل لپاره يوې څيړنې په ښکاره ډول ښودلې چې د ايران څخه په دې وروستيو کې راستانه شوو ويلي چې په افغانستان کې د هغوی د ځای په ځای کيدلو ننګونې د راتګ څخه د مخه د دوو حالتونو لخوا نورې هم شديده شوې دي: ۱) د افغانستان سره د هغوی کمزورې ټولنيزې او اقتصادي اړيکې او ۲) د راتګ په اړه د منطقي او د معلوماتو پر اساس د پريکړو د وړتيا نه شتون.[۱]

### د منفي ټيلې د فکتورونو رامنځ ته کيدل

د پولو د دواړو خواوو تر منځ د وينو اړيکې، دوستۍ او سوداګريزې شبکې په ايران او افغانستان کې د افغان وګړو تر منځ اساسي اړيکې شميرل شوي دي[۲]. د بلخ او سر پل کې د راستنيدو په ګرمو سيمو کې زمونږه مرکې دا ښکاره کوي چې د ۲۰۰۰ کلونو د نيمايي را پديخوا چې وروستۍ لويه راستنيدنه ده ددغو شبکو ځواک او دنده کمزورې شوې ده. ډيرې لږې

افغاني کورنۍ په ایران کې دي چې په افغانستان کې دې اثاثې ولري او دې هم افغانستان ته پیسې راولیږي او لامل یې د امریکایي ډالر په مقابل کې د ایران د ریالو د ارزښت لویدل او په ایران کې د قیمتونو لوړیدل او اقتصادي رکود دی.

د قوانینو د منظمو بدلونونو او د شدیدو قاغذ پرانیو له امله په ایران کې کډوالی ژوند ډیر مغلقه دی. د بېلګې په ډول، د ۲۰۰۸ کال راپدیخوا په ایران کې د نه ورتګ د ځایونو جوړیدا – هغه سیمې چې د کډوالو لپاره د ملي امنیت، عامه ګټو او صحت د لاملونو له امله منع الدخول شمیرل شوې دي - د یوې دندې ساتل، د ټولنیزو اړیکو ساتل، ښوونځیو ته د ماشومانو لیږل، او د کورونو د مصرف د عهدې نه وتل ډیر ستونزمن کړی دی. پورته ستونزې چې کله د خوړو او نورو اړتیاوو د پیریدلو د ځواک د لړیدو د ستونزې سره ضرب شي نو ډیرۍ راستنیدونکې کورنۍ اړباسي چې د یوه پلان شوي بیرته راتګ پر ځای یو چټک او ناځاپي بیرته راتګ اختیار کړي چې ددې پریکړې لامل افسردګي او اروایي خفګان دی.

کله چې هغوی بیرته افغانستان کې میشت شي نو ډیر زر پوهیږي چې د اوو ځخه تر دیرشو کالو پورې د هر څه نه د لرې والي له امله هغوی په ډیره لویه کچه په تیرې لسیزې که د رامنځ ته شویو خیښیانو او سوداګریزو اړیکو ځخه محروم پاتې شوي دي. د بیلګې په ډول، راستنیدونکې وایي چې هغوی د خپلوانو او دوستانو د لارې نه شي کولی خپلې دندې محفوظې وساتي ځکه چې هغوی د مدافعت او حمایت د کومې ډلې پورې اړه نلري چې منابعو ته هم لاس رسۍ لري. دا کار نه یواځې د هغوی نوی ژوند د اقتصاد له نظره کمزوری کوي بلکه دا د راستنیدوکو تر منځ د شناخت ستونزې هم ولاړوي. هغوی په ایرانۍ ټولنه کې د پردیو په څیر د اړیکو په جوړولو کې بوخت وو او اوس په خپل هیواد کې اجنبیان دي چې په ستونزو سره کوښښ کوي چې کمزورې ټولنیزې اړیکې بیرته جوړې کړي کومې چې نه دوی ته کوم مالي حق ورکوي او نه یې مدافعت کوي.

## د معلوماتو پر اساس پریکړې یا که محاسبه شوی خطر؟

که څه هم په ایران کې ژوند کول ستونزمن دی ځکه چې په ورځنۍ توګه ځورونې او تعصب ترسره کیږي خو بیا هم افغان کډوال دا حالت د برداشت وړ بولي. هلته امنیت دی، د کار زمینه په آسانه توګه پیدا کیږي، او د روغتیا او پوهنې لاس رسۍ هم شته دی. په مقابل کې ژوند په افغانستان کې د برداشت نه د وتلو په معنی سره دی. ژوند په افغانستان نا امنه او د اقتصاد د اړخه مخ په خرابیدو دی او د کورنۍ اساسي اړتیاوې لا ندي پوره شوي. کډوال اړ دي چې خپلې ټولنیزې اړیکې او خپلوي ځواکمنه کړي، د دندې د موندنې لپاره د مدافعت او حمایت شبکو ته ننوځي، او په یوه کمزوري حکومت او ملا ماتي زیربنا کې د کارونو د ترسره کولو افغانانه لاره زده کړي.

په تناقضي ډول که له یوې خوا په ایران کې مادي ژوند د اداره کولو وړ دی نو له بلې خوا بیا د رواني اړخه دومره ستونزمن دی چې د کډوالو ځخه یې د مهممو پریکړو وړتیا اخستې ده. کډوال باید زده کړي چې په داسې یوه ټولنه کې وخت تیر کړي چې فعال دولتي ادارات، زیربناوې، او ټولنیز خدمتونو لري او دا ټول ددوي د بیرته ستنیدو په تکل کار کوي. که څه هم مادي ژوند په افغانستان کې ډیر ستونزمن دی خو بیا هم راستنیدونکي پر خپلوانو او ټولنیزو اړیکو ډیر تمرکز کوي او کیدای شي چې ددې حقیقت له امله د راحت ساه واخلي چې ددومره فساد او بې ظرفیتۍ سره سره د افغانستان حکومت ددوی پر وړاندې کوم تعصب نلري.

نو په داسې یوه حالت کې اکثره کډوال نشي کولی چې د بیرته راتګ په اړه ارادي او پلان شوې پریکړه وکړي. زمونږه د ترسره شوو مصاحبو پر اساس کافي شواهد شتون لري چې د بیرته راستنیدو کیسه یوه د زور نه پوهیدل شوې کیسه، یوه تشویقي پیښه، هیله او زړه صبروالی ده. زمونږه تحلیل لاندې وړاندیزونه لري:

- که څه هم په ایران کې د آمایش د کارتونو (د اوسیدو د حق ورکونکي) درلودونکي او نه درلودونکي په دوو مختلفو نړیو کې اوسیږي (قانوني د غیر قانوني په مقابل کې او د ټولو هغه توپیرونو او آسیب پذیریو سره چې دا حالت یې د ځانه سره لري)، د هغوی بیرته راتګ دواړو ډلو ته یو شان ستونزمن دی. د بیرته راتګ چمتو والی ډیر لږ دی او د راتګ وروسته د نا امنیو او د معیشت د نه شتون د ننګونو ذکر د بیرته راتګ په کیسو کې ډیر لیدل کیږي.
- که څه هم بیرته راتګ داسې ښکاري چې یوه بې وقاره او خسته کونکي ژوند ته به د یوه کډوال په صفت په داسې یوه هیواد کې د پای ټکی کیږدي چې حکومت یې تل ددوی د بیرته ستنولو موخې ته ژمن دی، خو بیا هم راستنیدونکي د ایران د امنیت او کار ارمانونه کوي
- په ایران کې د افغان کډوالو ذهني حالت او افغانستان د هغوی د بیرته ستنیدو پریکړه سره ډیره کلکه نښتې ده. ذهني حالت د پیژندنې یو ناورین په ګوته کوي او د راستنیدو

پریکړه د پریکړې اخستو ناتوانۍ ته ددې کار د سختۍ له املې نږدې والی لري.

که څه هم یواځې ابتدایي څېړنې وايي چې د پولو د دواړو خواوو اړیکې دې د سره و څېړل شي. همدارنګه هیواد ته پیسې رالیږل، د پولو دواړو خواوو تګ راتګ، خپلوي، دوستي او سوداګریزې شبکې او په وطن کې د راتلونکي ژوند په اړه د کډوالو ذهنیت د نورو تحقیقاتو کولو ته ارزښت ورکوي. په دې باندې پوهیدل چې ولې ډیری راستنیدونکي داسې نه بریښي چې د خپل هیواد سره دې ګټورې اقتصادي او ټولنیزې اړیکې ولري او ددغه اړیکو د لا ځواکمنه کولو په موخه د پولو دواړو خواوو ته د ځانګړو پروګرامونو ترسره کول به افغان کډوالو ته دا وړتیا ورکړي چې د راستنیدو په اړه ښې پریکړې ولري او همدارنګه به یې د ځای په ځای کیدو احتمال هم ښه شي.

ارمنډو ګیلر چې بریښنا لیک یې *Armando@scensei.ch*، او ماسیج ایم لاټک چې بریښنا لیک یې *maciej@scensei.ch* دی د Scensei بانیان دي *www.scensei.ch*

۱. په څېړنه کې د بلخ او سر پل ولایت د نوو راستانه شویو څخه د معلوماتو راټولو وو او د ځانګړو تخنیکونو د لارې د ایران د کرمان ولایت د کډوالو اقتصادي او آسیب پذیري سوانحو جوړول وو.

۲. د بیلګي په توګه وګورئ مونسیوتی ای (۲۰۰۸) ”د افغان مهاجرت ستراتیژۍ او د مهاجرینو د ستونزي لپاره درې حل لاري“، د مهاجرینو د سروي دري میاشتنۍ مجله، ۲۷ کال، ۱ ګڼه
Vol 27, No 1. http://rsq.oxfordjournals.org/content/27/1/58.full.pdf+html

## په افغانستان کې د بې ځایه شویو وګړو لپاره محافظت

اندریس دیموپیولوس

په ۲۰۱۳ کال کې یو ډیر معیوب افغان پناه غوښتونکی د برطانیا څخه افغانستان ته راستون شو. هغه وایي چې په افغانستان کې د معیوبینو لپاره د کافي ټولنیزې پاملرنې نه شتون ددې لپاره کافي دی چې د بشر د حقوقو په اړه د اروپا د کنواسیون ECHR د دریمې فقرې له مخې غیر انساني او بې عزته کوونکی و ګڼل شي. خو دا چې افغانستان د معیوبیت ملي کاري پلان [1] لري او درخواست کوونکی په افغانستان کې یو څه کورنۍ هم لري نو ځکه د ECHR محکمه دې نتیجې ته نه وه رسیدلې چې د غیر انسانی او بې عزته کوونکي چلند ګواښ دې شتون ولري. [2]

په یوې بلې اوسنۍ قضیې کې - Szilvia Nyusti, Péter Takács and Tamás Fazekas v Hungary [3] – درخواست کوونکي د بینایي شدید معیوبیت درلوده. هغوی په دې نه توانیدل چې د مرستې پرته په افغانستان کې د خپل بانک ATM وکاروي او د معیوبو وګړو د حقوقو کمیټې دا وګڼله چې د نابینایانو د بانک ATM ته نه لاس رسۍ په دې معنی دی چې هیواد یې د معیوبو وګړو د حقوقو د کنوانسیون د نهمې فقرې مطابعت نه دی کړی. دغه کمیټې وړاندیز کړی وو چې افغانستان دې یو قانوني چوړښت جوړ کړي چې د عملي کیدونکو بېلګو درلودونکی وي تر څو پخواني د لاس رسۍ څخه لرې د بانکي خدمتونو تدریجي بدلون خارنه د شخصي مالي نهادونو لخوا ترسره شي.

په افغانستان کې په ۲۰۰۵ کال کې د Handicap International لخوا ترسره شوې سروې څرګندوي چې په افغانستان کې په هر پنځه کورونو کې یو یې یو معیوب درلوده. د کلونو جګړې – چې په کې د ماینونو کارول هم شامل دي[4]- او نامناسبې زیربنا ډیر معیوب وګړي منځ ته راوړي کوم چې په دې نه توانیږي چې روغتیا ته لاس رسۍ ولري، د بیا رغیدو خدمتونه ترلاسه کړي، او یا تعلیم او کار تر لاسه کړي. په داسې یوې محتوای کې د پنا غوښتلو د درخواستونو په اړه پریکړې نیونکي باید د افغانستان څخه د معیوبو پناه غوښتونکو اړتیاوې بیان کړي او دهغوی حالت که چرته بیرته وګرځي. دا چې کمیټه پوهه شوې ده چې که څه هم لاس رسۍ په تدریجي ډول عملي کیدی شي، خو په عین حال کې دولتونه باید د عملي کولو لپاره دقیق مهال ویشونه ولري او د اوسنیو خنډونو د لرې کولو لپاره کافي منابع وویشي. تر دې حده که ووایو چې په افغانستان کې نه واقع کیږي، خو بیا هم د غیر انساني او بې عزته کوونکي چلند درخواستونه په قناعت بخشه توګه وړاندې کیدی شي.

اندریس دیموپیولوس *Andreas.Dimopoulos@brunel.ac.uk* د برطانیا د برونل په پوهنتون کې د حقوقو لکچر ورکوونکی دی *www.brunel.ac.uk/law*

۱. http://tinyurl.com/Afgh-DisabilityActionPlan
۲. SHH v UK http://tinyurl.com/SHHvUK
۳. http://tinyurl.com/Nyusti-Takacs-FazekasvHungary
٤. افغانستان نړی د ډیرو ماین لرونکو هیوادونو څه دی.

# افغانستان ته د بېرته ستنېدو مخ په بدلون طرز

کیټي کوشمیندر، ملیسا سیګل، او نسیم مجیدی

تر ټولو زیاتو محتاجو افغانانو سره د مرستې په موخه عطیه ورکوونکو او مسلکي کارکوونکو له پکار دي چې د مهاجرت او مهاجرت نه د راستنېدو بدلېدونکې وضعې سره په سمون کې کار وکړي.

په تېره لسیزه کې افغانستان ته د بېرته مهاجرت بهیر څو ډوله شوی او د بهرنیو دولتونو لخوا افغانان خپل هېواد ته استونې نه اخوا د مهاجرت بهیر زیاتره په هغه خلکو بدل شوی چې مزدورۍ له پاره خارج ته تللي وو او اوس راستنېږي. نو ددې نه وروسته نشو ویلی چې بېرته راستانه شوي مهاجرین په افغانستان کې تر ټولو زیات نازک حالت لري او د دوی په اړه جوړې شوې پالیسۍ باید د بېرته مهاجرت تنوع په نظر کې ونیسي.

د ۲۰۰۲ کال نه پس د شپږ ملیونو څخه ډېر افغان مهاجرین هیواد ته بېرته راستانه شوي دي چې ډېری یې په ګاونډي هیوادونو ایران او پاکستان کې میشته وو. که څه هم په دې وروستیو کې د راستنېدو کچه ډېره ټیټه شوې ده خو بیا هم رضاکاره او په زوره سره راستنېدا ادامه لري. د اروپا څخه افغانستان ته راستنېدا د تېرې لسیزې په ترځ کې یوه ګرمه سیاسي موضوع وه او دا ځکه چې افغانان اوس هم اروپا کې د پناه غوښتونکو تر ټولو لویه ډله ده. هر کال په سلګونو رد شوي پناه غوښتونکي یا خو د بېرته راستنېدو او په ټولنه کې د بیا ګډون د مرستې غوښتونکي کېږي او یا هم په زوره د اروپا څخه افغانستان ته را شړل کېږي. له بلې خوا د ایران سیاست هم د افغان مهاجرینو په اړه  بدلون موندلی او د ۲۰۰۷ کال را پدېخواهر کال ډېری افغان مهاجرین را شړل شوي دي. د پورتنیو معلوماتو څخه دا پایله پورته کولی شو چې د تېرې لسیزې په ترځ کې افغانستان ته د بېرته راستنېدا طبیعت ډېر زیات بدلون موندلی او پالیسۍ باید دا خبره په نظر کې ونیسي چې راستانه شوي مهاجرین تر ټولو آسیب پذیره نه دي.

### د کورنۍ د سروې پایله

په ۲۰۰۱ کال کې مو د افغانستان په پنځو ولایتونو کې په ۲۰۰۵ کورنیو یوه سروې ترسره کړې وه تر څو مهاجرت او د راستنېدو محولات و څېړو. په دې نمونې کې ۱۱۰۰ بېرته راستنېدونکې کورنۍ (هغه کورنۍ چې کم از کم یو بېرته راستنېدونکی ولري او یا هم د هغوی تر منځه بېرته راستنېدونکي مهاجرین شتون ولري) او ۱۸۵ مهاجرې کورنۍ شاملې وې (هغه کورنۍ چې د مصاحبې پر وخت د درې یا د هغه څخه د ډېرو میاشتو راهیسې په بهر کې میشتې وې).[1]

پایلې دا را په ګوته کوي چې د هغو خلکو شمیره چې افغانستان ته د سیاسي او امنیتي حالاتو د بدلون له امله راستنېږي د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۱ پورې ډېره ټیټه شوې ده. د ۲۰۰۷ را پدېخوا د هغو مهاجرینو شمیره چې د اجباري دلایلو له امله افغانستان ته راستانه کېږي ډېره شوې ده او د ۲۰۰۷ څخه را پدېخواد ایران څخه را شړل شویو مهاجرینو ته اشاره کوي. د راستنېدو د لاملونو بدلون په اصل کې د مهاجرت د لاملونو سره تړاو لري. ۲۰۱۰ کال د مهاجرت او بېرته راستنېدا د طبیعت د بدلون یو اساسي کال وو کله چې د بېرته راستانه شویو مهاجرینو د مهاجرت لامل بې کاري وه نه بې امنیتي. دا نو په دې معنی سره دی چې د ۲۰۰۹ کال راپدېخواد مهاجرت او راستنېدو لاملونو بدلون موندلی دی یعنی اوس ډېری مهاجرت د کار موندنې په موخه دی نه د پناه غوښتنې.

په دې اړه نورې شننې دا په ګوته کوي چې د لومړي مهاجرت لامل د کورنیو د راستنېدو پر مهال د هغوی په حالت اغیز لري. د توقعاتو خلاف کومې راستنېدونکې کورنۍ چې په لومړي سر کې د پناه غوښتنې په موخه مهاجرې شوې وې د راستنېدو پر



په ۲۰۰۴ کال کې افغان کډوال افغانستان ته د راستنیدو په  حال کې

وخت یې حالت د هغو کورنیو په پرتله چې په لومړي سر کې د کار موندنې په موخه مهاجرې شوې وې ډېر ښه دی.[۲] سر بېره پر دې، کله چې د راستنېدونکو کورنیو پرتله د غیرې مهاجرو کورنیو او مهاجرو کورنیو سره کوو نو مونږ ته دا لاس ته راځي چې د راستنېدونکو کورنیو د مهاجرو او غېرې مهاجرو کورنیو په پرتله ګټه کړې ده.

د پورتني تحلیل د سپیناوي لپاره ډېر دلایل موجود دي. لومړی خو دا چې راستنېدونکي به په ښه توګه خبر وي چې کومو حالاتو ته راستنېږي او څکه خو هغه وخت راستنېږي چې کله پوه شي چې حالات ددوی لپاره مناسب دي. دا دلیل د هغو راستنېدونکو په اړه صدق کوي چې د پناه غوښتونکو د راستنېدو په لومړۍ څپې کې راستانه شوي وو. بله خبره دا کېدای شي چې هغه مرسته ( په ځانګړې توګه سر پناه) چې ډېری راستنېدونکي یې د راستنېدو پر وخت لاسته راوړي د هغوی په حالت اغیز ولري.[۳]

بلاخره دا هم کېدای شي چې هغه کسان چې په لومړي سر کې په دې وتوانېدل چې مهاجر شي په هماغه وخت کې د ښه ژوند خاوندان وو او یا یې داسې مهارتونه او تجربې لاسته راوړې وي چې د هغوی سره یې د راستنېدو پر مهال د ټولنې سره د بېرته یوځای کېدو په پروسه کې مرسته کړې وي. د پورتنیو مسایلو په نظر کې د نیولو سره پناه غوښتونکو ته په خاصه توګه توجه او مرسته رسول به د محلي غیر مهاجرو کرکه او بغض د راستانه شویو پناه غوښتونکو پر وړاندې را وپاروي او دا کار به د راستانه شویو مهاجرینو اقتصادي حالت د محلي نارم په پرتله لوړ کړي نو له دې امله به په ټولنه کې ددې مهاجرینو پر بېرته ځای پر ځای کېدلو او پر ټولنیز یووالي منفي اغیز ولري.

دغه پایلې په افغانستان کې د راستنېدو او په ټولنه کې د ځای په ځای کېدلو د پالیسیو لپاره ډېرې مهمې عملي لاسته راوړنې لري. راستنېدونکي د افغانستان د ټول نفوس څه کم دریمه برخه جوړوي کومه چې یوه لویه ډله ده چې ورته آسیب پذیره وویل شي او په اړه یې ځانګړي ګامونه پورته شي بالخصوص د انتقال او د پانګو د کمښت په داسې وخت کې. افغانستان- او هغه عطیه ورکوونکي او ادارې چې په افغانستان کې کار کوي- باید آسیب پذیري په محلي محتوا کې تعریف کړي. دا ښکاره خبره ده چې آسیب پذیره راستنې شوې پناه غوښتونکې کورنۍ او افراد په افغانستان کې شتون لري خو یواځې راستنېدونکی کېدل په دې معنی نه دي چې یو کس دې د نورو نه ډېر بې وزله یا آسیب پذیره وي. د پالیسۍ او د عملي کولو د نظره دا د ډونرانو او سرته رسونکو دنده چې د ټولو راستنېدونکو مختلف ضروریات د آسیب پذیره افرادو د لټون په چارو کې تصدیق کړي.

کیټي کوشمیندر چې برېښنا لیک یې
*Katie.kuschminder@maastrichtuniversity.nl* دی د څېړنې د برخې همکار دی او میلیسا سیګل چې برېښنا لیک یې
*Melissa.siegel@maastrichtuniversity.nl* دی چې دواړه په ماسترچټپوهنتون کې همکار پروفیسران دي او نسیم مجیدی چې برېښنا لیک یې *nassim.majidi@samuelhall.org* دی د **Samuel Hall** مشر دی چې ویب پاڼه یې
*http://samuelhall.org* ده او همدارنګه **Sciences Po Paris** کې دوکتورا ته کاندید دی.

۱. معلومات د ای ایس اکیډمی له لارې راټول شوي دي: د مهاجرت او پراختیا پروژې سروې. په پینځو ولایتونو کې د کورنیو سروې ترسره شوه: کابل، بلخ، هرات، کندهار او ننګرهار. په هر ولایت کې ښاري، نیمه ښاري او کلیوالي سیمو کې سروې ترسره شوه، چې لومړۍ نمونوي واحدونه په ګډوډ ډول او د هغو لیستونو پر بنسټ انتخاب شول چې د احصایې مرکزي ادارې له لارې ترلاسه شوي وه (http://cso.gov.af/en). د معلوماتو راټولولو مالي لګښت د هالنډ د بهرنیو چارو وزارت او ای او ام لخوا ورکړ شوی وه. وروستۍ نتایج دلته لیدلی شئ:
http://tinyurl.com/UNU-MERIT-migration-and-dev

۲. د څو بعدي طریقې د لارې د یوې کورنۍ ښه والی نه یواځې په عاید او مصرف باندې ولاړ دی بلکه پر نورو بعدونو لکه مهارتونه، صحت، تعلیم، امنیت او په ټولنه کې پرننوتلو هم ولاړ دی.

۳. د ماستریچټ پوهنتون او ساموېل هال (نومبر ۲۰۱۳) د یو این ایچ سی آر د سرپناه د مرستې د پروګرام ارزیابی
http://samuelhall.org/REPORTS/UNHCR%20Shelter%20Assistance%20Programme%20Evaluation.pdf


UNHCR/L Slezic/Global Aware

# د افغانستان د جداشویو د ډلې یو نظر

تبسم اکثیر

که څه هم ما د خپل ژوند ډیره برخه په کاناډا کې تیره کړې ده خو بیا هم افغانستان زما د کورنۍ پلارنی ټاټوبی دی او د نورو کاناډایانو په څیر مونږ یې هم بیرته په پښو دریدو ته متعهد یو.

د ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۸۹ پورې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د جګړې په ترڅ کې د پنځو ملیونو څخه ډیر افغانان چې په کې زما کورنی هم شامله وه بهر ته لاړل. زما مور او پلار په ۱۹۸۹ کې په کاناډا کې میشت شول او د ډیرو نورو په څیر زمونږ کورنی په منظمه توګه افغانستان ته ځي او راځي تر څو د ټولنې سره مو اړیکې ټینګې پاته شي.

مونږ د کاناډا د اتباعو په حیث او د هغه فرصتونو او خپلواکیو څخه چې مونږ ته راکړل شوي دي منندوی یو خو بیا هم مونږ هیله لرو چې زمونږ هیواد سولې ته را وګرځي تر څو مونږ په پای کې ورته را وګرځو او د خپلو پاتې شوو خوبونو سره ژوند وکړو. که څه هم اوسنی بدلیدونکی حالت د بیرته ستنیدا جوګه نه دی خو بیا هم په بهر کې میشت افغانان ځینې فعالیتونه تر سره کوي، هغه فعالیتونه چې د افغانستان د خوشبختی، امنیت، بیا رغیدا، او ساتلو لپاره یو تعهد په ګوته کوي. زمونږ لپاره ، د خپلو خاطرو سره، افغانستان یو بی ارزښته جنګ وهلې ټولنه ندە بلکه هغه ټولنه ده چې له یاده ویستل شوې او د بیا جوړیدو اړیتا لري.

د بیلګې په ډول، زمونږ کورنۍ افغانستان ته هر ځل د څو میاشتو لپاره کلنې سفرونه کوي. زما د پلار لپاره، څوک چې یو ډاکټر دی او په ساری مرضونو کې تخصص کوي او چا چې په پاکستان کې د مهاجرو په کمپ کې کار کوه، د هغه پام زمونږ په پلرنی کلي کې د خلکو صحت او ښه والی دی او دی ورته د یوه کلینیک د لارې چې کلونه مخکې یې جوړ کړی دی مجانی صحي مشورې ورکوي. زما مور هم یو مهم رول لوبوي او هغه د کلیوالو ښځو سمو خدمتونو ته د لاس رسي فراهمول دي. هغه خو یا زما د پلار سره د کور په ټماسونو کې مرسته کوي او یا هم د هغه سره په کلینیک کې کښیني تر څو هغو ښځو ته آسانی راولې چې د پردو نارینوو سره په نیژدې ملاقاتونو کې بلدې نه دي. هغه سمه پاملرنه چې په دې کلینیک کې ورکول کیږي ډیره ابتدایي ده خو د کلیوالو لپاره دا ډیره مهمه ده او د ځینو لپاره خو دا اول ځل دی چې د یوه ډاکټر لخوا لیدل کیږي. هغه جوش چې له امله یې دا کلینیک د دوو بهرنیانو لخوا فعالیت کوي د هغو هیلو ښکارندوی دی چې ډیری مسافر افغانان یې د افغانستان لپاره لري.

ډیری هغه افغانان چې زه یې په لویدیځ کې پیژنم هیله ښکاره کوی چې افغانستان ته بیرته را و ګرځی خو هله به راګرځي چې هغوی افغانستان ته د څه ورکولو جوګه شي. افغانستان ته پیسې رالیږل او د ظرفیت د لوړوالي په موخه افغانستان ته بیرته ستنیدل ځینې هغه مرستې دي چې غربي افغانان یې د افغانستان سره کوي. دا به ډیره ستونزمنه وي چې د پیسو د رالیږلو دقیقه ارزیابی وشي ځکه چې ددغه سستم طبیعت ډیر غیر رسمي دی خو نړیوال بانک اټکل کړی دی چې د بهر څخه افغانستان د پیسو لیږل د کلیوالو کورنیو د ۱۵ فیصدو سره مرسته کوي چې دغه مرسته د هغوی د ورځني مصرف شل سلنه جوړوي. د کرهنیز پرمختګ لپاره د نړیوالې پانګې د اداري د ۲۰۰۷ کال د راپور په اساس د بهر څخه راتلونکې پیسې د افغانستان د GDP ۲۹،٦ سلنه جوړوي.

**خوبونه د حقیقت په مقابل کې**

ما او زما خویندو د خپل عمر ډیره برخه پا کاناډا کې تیره کړې او د هغه هیواد په اړه چې لسیزې مخکې مو پرې ایښی وو ډیر لږ معلومات درلوده. نو ځکه دا نظریه چې افغانستان ته به یو څه بیرته ورکوو زمونږ د افغانستان په رخصتۍ کې د یوې پروژې د لارې ډیر رنګ واخسته. په لومړي ځل مې افغانستان ته په ۲۰۰۳ کې سفر وکړ، ما او زما خویندو د انجونو د زده کړې لپاره یو څه درسي مواد د ځان سره راوړي وو. کله چې خپل کلي ته ورسیدو نو ډیر زر دا جوته شوه چې د انجونو مکتب ته تلل یو لوژیستکي ستونزه وه: د مکتب نا امنه لارې، د ماین شتون، د دیوالونو پرته ټولګي چې د انجونو د پردې پام په کې نه دي ساتل شوي، او محلي اوباشان. محلي محافظه کار کلتور هم ډیرې انجونې د زده کړې څخه ګرځولي او ډیرو نورو انجونو د خپلور کورنیو څخه اجازه لرله ترڅو مکتب ته لاړې شي هغه هم په دې شرط چې مخکې ذکر شوې ستونزې له مینځه لاړې شي. د پردې د نه شتون ستونزه په لومړي سر کې د اوسپنې د یوه دیوال په وسیله حل شوه او وروسته زمونږ د مور او پلار په خوښه وروسته مو د خپلې ځمکې یوه ټوټه د انجونو مکتب ته وقف کړه. که څه هم زمونږ قرطاسیه او د دوهم لاس کمپیوټرونه یوه حقیقي نظریه وه خوپه اصل کې ستونزې ډیرې د زیربناوو او امنیت سره تړلې دي.




د راستانه شویو یوه انجلۍ د کورنۍ دندې په کولو بوخته ده

په پای کې دا لومړی سفر یوه جالبه تجربه وه. د جدا شویو افغانانو د غړو په حیث مونږ دا فکر وکړ چې زمونږ سره ټول ځوابونه شتون لري. مونږه د یو نا خبر بهرني ځای خپل کړ څوک چې غواړي بدلون راولي او قوت ورکړي. دا ډیره مهمه ده چې بهرني افغانان او هغه غیر افغانان چې بشر دوستانه موخې لري د لنډ مهاله حل لارو څخه توجه اوړد مهاله حل لارو ته واړوي.

**او د ۲۰۱۴ څخه ها خوا؟**

اوسنی انتقال د ټولو سیاسی، امنیتی او د نړیوالې پانګې د پایلو سره زما د کورنۍ په پلانونو او توقعاتو کومه اغیزه نه ده اچولې. په هغه ځای کې مونږه ډیر مداخلت لرو (د ننګرهار ولایت د رودادو ولسوالۍ) په تیرو لسو کلونو کې د بې طرف والي یوه درجه خپله کړې. که څه هم په ولایت او ولسوالیو کې د جنګ نښې اوس هم ښکاري خو زمونږ د کورنۍ لپاره یې کوم خنډ نه دی جوړ کړی.

په کاناډا کې د پیغلو ښځو نه د یوه شوي تحقیق څخه د پایلې اخستنې په اساس زما آند دا دی چې د هغوی راتګ د امنیت پورې دومره تړاو نه لري لکه څومره چې افغانستان ته د یو څه ورکولو پورې تړاو لري. دغه فعاله او تشویق شوې پیغلې ښځې د افغانانو په جدا شوي قشر کې ډیر شوق لري تر د څو د بیا رغونې په هڅو کې مرسته وکړي خو دوی هغه زیرمې دي چې تر اوسه د نړیوالو بشردوستانه او پرمختیایی ایجنسیانو لخوا نه دي کارول شوي.

تبسم اکثیر *t.akseer@queensu.ca* چې فعلآ د کوینز په پوهنتون کې د فرهنګې زده کړو په پروګرام کې د دوکتورا کاندید دی. *www.queensu.ca*

۱. سیګال ام (۲۰۱۳)، "په افغان مهاجرت باندې پوهیدل"، پراختیایي بحث بلاګ، http://blog.qeh.ox.ac.uk/?p=147

۲. اکسیر تبسم (۲۰۱۱) په اونټاریو کې د افغاني ځوانو ښځو د جوړښت او خبرو اترو پیژندنه (د تعلیم په برخه کې د ماستري ناخپور شوي تیزس)، بروک پوهنتون، سن کاترینس، کاناډا

**د افغانانو جدا شوې ډله**

ایران او پاکستان په ګډه سره د دوه نیمو ملیونو څخه د ډیرو ثبت شویو افغانانو کوربه توب کوي او په همدې کچه غیر ثبت شوي افغانان هم موجود دي. د دې نه علاوه دا اټکل شوی چې ۰۰۰۰۰۳ په امریکا، ۰۰۰۰۵۱ په اماراتو کې، ۰۰۰۵۲۱ په جرمني، او یوه لږه شمیره یې په کاناډا، استرالیا، او اروپا کې میشت دي. که څه هم په اماراتو کې ډیر یې موقتي مزدوران دي خو په نورو ځایونو کې په مستله توګه میشت دي او ښه مهارتونه هم لري. دا هم اټکل شوی چې لس زره افغانان په هند کې هم اوسیږي چې ډیر یې په ډیلي کې اوسیږي او ډیر یې سیکان او هندوان دي. د دغې بیلې شوې ډلې اقتصادي او سیاسي ارزښت هغوی د شمیرې د ارزښت څخه ډیر دی. دوی کور ته پیسې لیږي چې په افغانستان کې یې د ټولنو سره ډیره مرسته کړې ده. په افغانستان کې پانګه اچوي، او په تیرو دولسو کلونو کې یې د سیاسي پروسو سره هم ډیره مرسته کړې ده.

ماخذ: ټایلر ډی "د افغان مهاجرینو لپاره د حل لارو بیا جوړول: د بشر دوستانه ان جی اوګانو دنده د ..." او کوثر کی (۴۱۰۲) انتقال، په افغانستان کې بحران او خوځیدنه: فصاحت او حقیقت، د مهاجرینو لپاره نړیوال سازمان، ۲۱ مخ.

www.iom.int/files/live/sites/iom/files/Country/docs/Transition-Crisis-and-Mobility-in-Afghanistan-2014.pdf

# افغان راستنیدونکي د بدلون د اداکارانو په څیر؟

ماریک وان هوټ

د صنعتي هیوادونو څخه راستانه شوي افغانان شایي چې په افغانستان کې د پرمختګ اود سولېږه راوستلوکې‌مرسته وکړي. لیکن خو دا چې د راستنیدونکو کومه ډله کوم بدلون منځ ته راوړي تر اوسه په مناسبه توګه ندی تعریفشوی.

د کډوالـو کـور تـه راسـتنیدل د نړیوالـې ټولنـې لخـوا ددې دلیـل ګڼـل کیـږي چـې امنیـت شـته او حـالات نورمـال دي. پـه متناقضـه ډول، دوی تـه د بدلـون د نماینـده ګانـو پـه سـترګه هـم کتـل کیـږي چـې د سـولې راوسـتو او پرمختیـا کـې بـه مرسـته کـوي. د صنعتـي هیوادونـو څخـه راسـتانه شـوي داسـې ګڼـل کیـږي چـې تعلیـم یافتـه، بډایـې، سـوداګریزې او د شـبکو درلودونکـې نخبـې ډلـې پـوري اړیکـه ولـري چـا چـې پـه بهـر کـې د اوسـیدو سره مهارتونـه، پیسـې او نظریـې راوړي دي. همدارنګـه د هغـوی څخـه د کلتورونـو ترمنځ د منځګـړو توقـع هـم کیـږي. د اروپایـي اتحادیـې سر تـا سر ، حکومتونـه د خپلـې پراختیایـې مرسـتې د بودیجـې څخـه د نـه منـل شـوو کډوالـو د رضـاکاره بیرتـه سـتنیدو پروګرامونـه تمویلـوي. لیکـن د اروپـا څخـه راسـتنیدونکي بیـا یـو متنـوع ډلـه ده چـې ټـول یـې پورتـه ذکـر شـوي ځانګړتیـاوې نلـري. کابـل تـه د راسـتنیدونکو یـوه څیړنـه شـایي چـې د خلکـو قانـوني حیثیـت او د راسـتنیدو تشـویق ډېـر مهـم دی.

رضـاکاره راسـتنیدونکي پـه خپـل کوربـه هیـواد کـې د اوسـیدو دوامـدار حـق ځـان سره خونـدي سـاتي. دغـه انتقـالي خوځښـت او ورسره د هغـوی شـه ټولنیـز-اقتصـادي حالـت هغـوی تـه دا ډاډ ورکـوي چـې خپـل ځـان د زور زیـاتي نـه وژغـوري او پـه عیـن حال کـې پـه غـرب کـې میشـت پـر دوی تکیـه هـم مصـون وسـاتي. د ۲۰۱۴ څخـه د وروسـته توقـع شـویو ناورینونـو بـا وجـود ډېـر رضـاکاره راسـتنیدونکي افغانسـتان تـه راتـګ د یـوه شـوق لـه کبلـه کـوي. هغـوی د انـرژۍ او مثبـت فکـر سره راځـی او ډېـر یـې هغـه پوهـه، مهارتونـه او رویـې چـې هغـوی پـه اروپـا کـې لاسـته راوړي داسـې ګڼـې چـې د افغانسـتان سره دې مرسـته وکـړي. لیکـن هغـوی چـې کلـه راشي نـو د هغـوی آندونـو تـه د شـک پـه سـترګه کتـل کیـږي او ډېـري یـې نـا امیـده کیـږي. رضـاکاره راسـتنیدونکي پـه منظمـه توګـه خپلـه پریکـړه د اوسـیدو یـا وتـو پـه هکلـه ارزیـابي کـوي او کیـدای شي بیرتـه اروپـا تـه مهاجـر شي کـه چیرتـه ۲۰۱۴ د بدلونـو سره راشي. لیکـن دغـه خوځښـت پـه عیـن حـال کـې هغـوی تـه دا وړتیـا ورکـوي چـې د نـورې ټولنـې څخـه دې بیـل واوسي او هغـه آندونـه دې تقویـه کـړي چـې د اوسـني ذهنیـت پـر ضـد روان دي.

ددې بـل لـوري تـه جـبري ویسـتل شـوی راسـتنیدونکي چې پـه کوربـه هیـواد کـې د اوسـیدو ټـول قانـوني حـق د لاسـه ورکـوي خپلـې ټولـې پیسـې پـه مهاجـرت کـې لګـولي او کلـه چـې بیرتـه راشي نـو نـور هـم غریـب او نـا امیـده وي ددې پـر ځـای چـې د مهاجـرت تجربـو بډایـه کـړي وي. دا چـې پـه خپـل پخـواني کوربـه هیـواد کـې یـې یواځـې ژونـد کـړی او کلـه یـې برخـه نـده اخسـتې نـو ډېـر لـږ مهارتونـه او آندونـه یـې لاسـته راوړي او محافظـه کاره پاتـې کیـږي تـر څـو د افغـاني ټولنـې سره خپـل تـراو تثبیتوکـړي .

د افغانسـتان پـه بـې بـاوره فضـا کـې انتقـالي خوځښـت د راسـتنیدونکو لپـاره تـر ټولـو غټـه سرمایه ده. د افغانسـتان سره د تعهـد جوړولـو پـر ځـای، دغـه خوځښـت دوی تـه دا وړتیـا ورکـوي چـې د مـلي جوړښـتونو د محدودیتونـو نـه خپلواکـه و اوسي. کـه هـر څـو نړیوالـه ټولنـه د کډوالـو دایمـي بیرتـه راتـګ د سـولې دلیـل ګڼـي، دا بـه بلکـه د هغـوی جـاري خوځښـت وي چـې د دوامـداره معیشـت او سـولې سره بـه مرسـته کـوي.

ماریک وان هوټ چې بریښنا لیک یې *mariekevanhoute@gmail.com* دی د ماستریچت د حکومت دارۍ په پوهنتون کې د دوکتورا زده کوونکې ده. هالنډ.
*www.maastrichtuniversity.nl*

دغه مقاله د هغې د دوکتورا د تیسیس (بیرته مهاجرت) پر اساس ده چې هغه هیله لري چې په ۲۰۱۴ کې ترې دفاع وکړي



NRC/Shahzad Ahmad

## په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې زور زیاتی او بې ځایه کیدنه

کامیل هینین

کمزوری ټولنیز اقتصادی حالت او د مدافعت د میکانیزم نه شتون هغه فکتورونه دي چې زور زیاتي ته د بې ځایه شویو ښځو آسیب پذیري ډیروي.

د ښځو پر وړاندې زور زیاتی په افغانستان کې ډیر مروج دی: د کم عمره او جبري ودونو نه نیولې تر کورني زورزیاتي پورې، فخري وژنې، جنسی زور زیاتی او محرومول. که څه هم د افغانستان په محتوی کې د ښځو پر وړاندې د زور زیاتي کره معلومات راټولول ستونزمن دي خو د بې ځایه شویو د محافظت د ۲۰۱۲ کال یوې څیړنې[۱] ښودلې چې بې ځایه کیدنه زورزیاتی ته د ښځو آسیب پذیري ډیروي او د هغو محرکاتو د ډلې نه چې زورزیاتی، ښځې او بې ځایه کیدنه سره نښلوي دوه یې تر نورو ډیر د اهمیت وړ دي:

لومړی د بې ځایه شویو کورنیو د ټولنیز اقتصادی حالت خرابیدل د ښځو پر وړاندې د زور زیاتي ګواښ ډیروي. تر ټولو بریښیدونکې بیلګه خو دا وه چې د بهرنیانو لخوا د بې ځایه شویو انجونو په نښه کیدل د ارزانه ودونو لپاره. سروې وښودله چې د بې ځایه شویو کورنیو په ۲۶.۹ سلنه کې حتماً یوه جلۍ په جبر واده شوې، او دا حالت په هغو کورنیو کې ډیر په سترګو کیده چې د میرمنو لخوا پر مخ وړل کیده او دغه رنګ کورنۍ د بې ځایه شویو په نفوس کې ډیرې دي. ځینې کورنۍ بیا د انجونو د ولور څخه د معیشت د یوې ستراتیژۍ په حیث کار اخلي.

مونږ دا کار د خپلې لوړې لپاره کوو، د خپلو ماشومانو لپاره یې کوو. په غوریان کې ورته دومره اړتیا نه وه لکه څنګه چې دلته ده. ما هغه پریښوده. ما هغه ځکه پریښوده چې مجبوره وم. د هغې میړه مونږه پیدا کړو. هغوی دلته راغلل ځکه چې پوهیدل چې مهاجرین دلته دي او په دې هم پوهیدل چې زمونږه انجونې هم ارزانه دي. (۳۵ کلنه بې ځایه شوې ښځه، هرات ولایت)

د کورنیو د مشرانو په سر د یوې لوبې کورنۍ لپاره د عاید د راوړلو فشار کوی شي چې کورنی زورزیاتی منځ ته راوړي. بالخصوص کورنی زورزیاتی هغه وخت هم منځ ته راځي کله چې بې ځایه شوي د کلو څخه ښاري ځایونو کې ځای په ځای کیږي. د ټولنیزو رولونو جوړجاړی کوم چې په معمول ډول د بی ځایه کیدنو سره ملګری وي د ښځو لپاره د خوښې وړ ندی، څوک چې ښار ته د راتګ سره هغه نسبي محافظت او د ګرځیدو خپلواکي چې به کلي کې یې لرله د لاسه ورکوي.

ښځې په معمول ډول خپل رواجی مرسته او د محافظت میکانیزمونه د لاسه ورکوي چې یوه نوی یا نابلده ځای ته لیږدول کیږي. کله چې د یوه خطرناکه حالت سره مخ کیږي لکه جبری واده یا کورنی زورزیاتی، نو ښځې په آساني سره بیروني محافظتي میکانیزمونو ته لکه پولیس یا عدلی سستم لاس رسۍ نه شي پیدا کولی بغیر د خپلې کورنی لخوا د وهلو او ټکولو د خطر د منلو. د بې ځایه شویو ښځو د ډلو څخه چې سروې شوې دي ۱۹.۳ سلنه یې کونډې وې چې د هیواد په کچه ښځې ۲ سلنه جوړوي، دا په دې معنی چې کله هم د خطرناکو حالاتو سره مخ کیږي لکه د واده جوړ جاړی، یا د کوژدې ماتول، نو بې ځایه شوې ښځې ډیری وخت د نارینو خپلوانو ملاتړ نلری او دا حقیقت یې د زورزیاتی مخې ته نورې هم آسیب پذیره کوي.

دغه لاسته راوړنې د بې ځایه کیدنې د ښځو پر وړاندې د زورزیاتی د اغیزې په لا څیړلو غږ کوي ددې لپاره چې په راتلونکې کې هوښیار اقدامات ترسره شي او همدارنګه د معلوماتو د اړخه ددې ستونزو خلا ډکه شي. که څه د بې ځایه کیدنې په اړه د افغانستان ملی پالیسي د بې ځایه شویو د محافظت لپاره لاره هواروي، باید د بې ځایه شویو ښځو پر وړاندې د زورزیاتی د مخنیوي یو جوړښت هم فراهم کړي.

کامیل هینیون Camille.hennion@samuelhall.org د ساموېل هال په مشورتي کمپنی کې د پروژې چلوونکې ده.
www.samuelhall.org

۱. ساموېل هال ان آر سی-آی ډی ایم سی-جی آی پی اس (۲۰۱۲) Challenges of IDP Protection. Research Study on the protection of internally displaced persons in Afghanistan.
(د داخلي بې ځایه شویو د محافظت ننګونې. څیړنیزه زده کړه د افغانستان د بې ځایه شویو د محافظت په اړه.)
www.nrc.no/arch/_img/9665970.pdf
همدارنګه وګوری مجیدی این او هینیون سی (۲۰۱۴)
'Resilience in Displacement? Building the potential of Afghan displaced women', *Journal of Internal Displacement*.
(مقاومت په بې ځایه کیدنه کې؟ د افغان بې ځایه شویو میرمنو د پوتانسیل جوړول، د داخلي بې ځایه کیدنې جورنال)
http://samuelhall.org/REPORTS/Building%20the%20resilience%20of%20Afghan%20displaced%20women.pdf
همدارنګه وګوری:
'Afghanistan: Women, Peace, and Security – Review of Key Reports'
(افغانستان: ښځې، امن، او امنیت – د مهمو راپورونو لیدنه) (۲۰۱۰-۲۰۱۳) د ۲۰۱۰ کال را پدیخوا د مهمو لاسته راوړنو راپورونه بالخصوص په افغانستان کې د اوسني امنیتي انتقال په رڼا کې.
http://tinyurl.com/TLO-women-peace-security-2013
۲. د افغان حکومت د ملي خطر او آسیب پذیری د ارزیابی په اساس
http://cso.gov.af/en/page/1726

### جنسي زور زیاتی: د جګړې وسله، د سولې مخې ته خنډ

د اجباري مهاجرت د بیا لیدنې اوویشتم اصدار (د ۲۰۰۷ کال د جنوري میاشت) د جګړې، د هغ
پراختیایي بیرته جوړیدنې په محتوا کې د جنسي تیري سره د مبارزې ننګونې او فرصتونه پیدا ک

په عربي، هسپانوي، فرانسوي او انګریزي ژبو پر لیکه شتون لري او هغه هم په لاندې ځای کې
www.fmreview.org/sexualviolence

په جنګ ځپلي هیواد کې به د جنسي زور زیاتي کمیدل د ملي بیا رغیدو یوه ریښتوني نښه وي.
د UNFPA پخوانۍ اجرایوي ریسه (د هغې د پیژندنې څخه اخستل شوی دی)

# جنسي زورزياتی: د نه منلو وړ یوه پدیده

لیدا احمد

د څو لسیزو د جګړو په ترڅ کې په افغانستان کې ښځو سره جنسي تېری ترسره شوی دی. د بشر او د ښځو ملي او نړیوالو ادارو  د راپور په اساس د هر عمر او ملیت ښځو او انجونو جنسي تېری تجربه کړی دی: د بیلګې په ډول، جنسي تېری (چې  پکې  ډله ییز جنسي تېری هم شامل دی)، فحاشۍ ته اړ ایستل، د انجونو اجباري او په کم عمر کې ودول.

جنسي تېری او  ډله ییز جنسي تېری د وروستیو فوځي عملیاتو په ترڅ کې په هغه سستیماتیک ډول د جنګ د اسلحې په بڼه  نه دی  کارول شوی لکه څنګه چې د کورنیو جګړو په ترڅ کې په کار وړل شوی و (سره  له دې،  ننیو اورپکو جنسي تېری او ډله ییز جنسی تېری تر سره کړی دی) خو ځینې نور عناصر هم شتون لري چې له امله یې افغاني ښځې او انجونې د یوه لوی خطر سره مخ دي. که د پخوا خبره وکړو نو د جنسي تېري تر سره کونکي معمولآ اورپکي وو او اوس د دې عمل تر سره کونکي هغه کسان دي چې د اورپکۍ تاریخچه لري لکه قومندانان او د هغوی شخصي چریکان، د زور خاوندان، پولیس او نور امنیتي ځواکونه او په دې ډله کې ملکي افراد هم شامل دي لکه د کورنۍ غړي، خپلوان او ګاونډیان.

د بشر د حقونو د څار[1] د ادارې او د بشر د حقونو د نورو ادارو راپورونه او مصاحبې ښیي چې د غیرت او غچ اخیستنې پدیدې هغه فکتورونه دي چې ښځې یې د غټ خطر سره مخ کړې دي. لیکن په نورو قضیو کې د ښځو سره جنسي تېری ددې لپاره ترسره شوی چې هغوی په غلط وخت کې په غلط ځای کې شتون درلوده او یا یې هم کوم غلط کار ترسره کړی و. په ځینو قضیو کې بیا جنسي تېری قرباني شوې ته یا د هغې کورنۍ ته د جزا ورکولو په موخه تر سره شوی. سمیه هغه وخت د یوه محلي قومندان د چریکانو لخوا و تښتول شوه کله چې د سواد آموزۍ د یوه کورس څخه د کور په لور  روانه وه، هغې سره د لسو ورځو لپاره جنسي تېری ترسره شوی و او دا ځکه چې نوموړي محلي قومندان په خپله سیمه کې مکتب او د سواد آموزۍ کورسونه غیر مشروع بللي وو.

ډیری ښځې او انجونې د جنسي تېري وروسته کورنۍ ته د رسیدلي شرم او عار له امله د خپل کور پریښودو ته اړ ایستل کیږي. د بې ځایه کیدو وروسته د مرستې د شبکو د نه شتون او محافظت او معیشیت ته لاسرسی نه لرلو  په صورت کې ډیری قربانیانې  فحاشۍ ته هم اړ ایستل کیږي.




ي نه وروسته او د
کړي دي.
ثريا احمد عبيد،

## افغاني اداري د جنسي تېري په شتون کې

د افغانستان اساسي  قانون، البته د پاڼې پر مخ، د بشر او د ښځو د حقونو کلک طرفدار بریښي (اساسي قانون، فقره ۷.۲۲) سره له دې د افغانستان مدني قانون چې په ۱۹۷۷ کې منل شوی او د افغانستان جزایي قانون چې په ۱۹۷۶ کې توشیح شوی-کوم چې تر اوسه په ټول هیواد کې د ځواک خاوند دي - مبهمه دي، او د ښځو د حقوقو په اړه پکې کافي ښکارندوینه نه ده شوې. که څه د افغانستان حکومت یو شمیر نړیوال قراردادونه لاسلیک کړي لکه هغه قرارداد چې د ښځو پر وړاندې هر رنګه تعصب د منځه یوړل شي او د نړیوالې ټولنې د امنیت د شورى قرارداد ۱۳۲۵، خو بیا هم ملي قوانین په زور کې دي او نشي کولی چې د افغان میرمنو څخه د زور زیاتي او جنسي تېري مخه ونیسي.

د پورتني حالت په غبرګون کې په افغانستان کې د ښځو د حقونو د فعالانو لخوا یو قانون چې نوم یې د ښځو پر وړاندې د زور زیاتي ختمول وو (EVAW)[2] جوړ شو چې د ۲۰۰۹ کال د جولای په شلمه د جمهور رییس کرزي لخوا و منل شو په داسې حال کې چې د افغانستان پارلمان د اوړي  پر رخصتۍ وتلی و. ستونزې هغه وخت را ولاړې شوې کله چې په ۲۰۱۳ کال کې وغوښتل شول چې EVAW د پارلمان لخوا تصویب شي ځکه چې ځینو وکیلانو د دې قانون ځینې مادې د شریعت خلاف ګڼلې او اوس هم ډیرې ستونزې شتون لري خو حد اقل دغه قانون د جنسي زور زیاتي او جنسي تېري په اړه ډېرې تیارې روښانه کړې  دي. دا قانون د نورو نافذه قوانینو په پرتله د جنسي زور زیاتي څخه مشخص او ښکاره تعریف لري چې صراحتآ جنسي  تېري، فحاشۍ ته اړ ایستل، واده ته اړ ایستل، د ماشومانو ودول او  په  بدو[3] کې ورکول یې غیر قانوني ګڼلې. سر بېره پر دې دغه قانون دا هم ښکاره کړې چې د دولت مختلف ارګانونه باید کوم ګامونه پورته کړي تر څو د جنسي زور زیاتي مخه و نیول شي. سره له دې د هغو ټولو ټولنو په څېر چې جنګ تجربه کوي او یا هم په دې وروستیو کې وربانديې جنګ تېر شوی دی ، په افغانستان کې د قانون پلي کېدنه ډیره بې ځانه ده  او د ښځو په اصلي ژوند کې به د دغه قانون پلي کول اسانه نه وي.

**لیدا احمد چې بریښنا لیک یې** ***lida.ahmad.afg@gmail.com*** **دی په حاضر حال کې د جنسي زور زیاتي په برخه کې د افغانستان ښځو او ماشومانو ته د بشر دوستانه مرستو د ادارې (HAWCA) سره د مشاورې په حیث کار کوي.** ***www.hawca.org***

۱. د بشر د حقونو څار (۲۰۱۲)
I had to run away: The Imprisonment of Women and Girls for “Moral Crimes” in Afghanistan
(زه باید و تښتم: په افغانستان کې د اخلاقي جرمونو لپاره د ښځو او انجونو بندي کول.
www.hrw.org/reports/2012/03/28/i-had-run-away

۲. د EVAW پر لیکه متن په http://tinyurl.com/EVAW-text

۳. هغه رواجي عمل دی چې پکې د یوې شخړې د هوارې لپاره د مقتول کورنۍ ته یوه ځوانه جلۍ ورکول کېږي.

# په کابل کې ښاري بې ځایه شوي ځوانان

نسیم مجیدی

په کابل کې د ښاري بې ځایه شویو ځوانانو (۱۵-۲۴ کلونو پورې) د یوې سروې[۱] پایلې ښیي چې په کابل کې ښاري بې ځایه شوي ځوانان غواړي چې په خپلو کورنیو کې اقتصادی او ټولنیز رول و لوبوي خو هغوی احساس کوي چې هغوی ته دا فرصت ندی ورکړل شوی چې خپل توان تر لاسه کړي. د ۲۰۰۰ سروی شوو څخه یواځې ۵۰ ځوانانو دا ویل چې هغوی د راتلونکي لپاره پلانونه لري او دا ډله هغه ځوانان وو چې د اروپا څخه راستنانه شوي وو ځوک چې په بې ځایه شویو کې یو خاص ګروپ جوړوي.

په لنډ مهال کې په کابل کې ځوان بې ځایه شوي په نا امنه داخلي دندو او یا په ایران او پاکستان کې په فصلي دندو کې فرصتونو بیامومي. هغوی اقتصادی او ټولنیزې آسیب پذیرۍ لري او د انزوا په حالت کې ژوند کوي. ددې پر ځای چې خارج ته مهاجر شي هغوی صبر کوي چې و ګوري په افغانستان کې به په راتلونکي کلونو کې څه پیښیږي. دا به ادارو ته یو څه وخت ورکړي ترڅو هغوی وکولی شي ددغه ځوانانو په تعلیم، مهارتونو، او د مزدورانو په بازار کې ددوی د ځای پر ځای کیدلو اغیز ولري او بالخصوص د بې ځایه شویو ځوانو میرمنو لپاره هم یو څه راپیدا کړي.

دا مهال د افغانستان حکومت او ملی او نړیوالې ادارې د ځوانانو له اړخه محسوس پروګرامونه نه جوړوي. زمونږه د څیړنې پر اساس، مونږ به د ګاونډ پر اساس د ځوانانو محسوس پروګرامونه پیشنهاد کړو چې دا به ځوان افغان بې ځایه شوي په خپلو کورونو کې ټکره کړي (بالخصوص هغه ځوانې میرمنې چې په خپلو کورونو کې د عاید لاسته راوړلو فعالیتونو ته اړتیا لري) او په خپلو ټولنو کې چرته چې هغوی له پامه غورځول شوي دي او یوه قوي شبکه او استازیتوب نلري.

دخیلې ډلې باید د فرصت ددغې کړکۍ څخه کار واخلي تر څو الف) روزنیز پروګرامونه جوړ کړي چې د نارینه او ښځینه ځوان بې ځایو شویو د اړتیاو په لور سوق شوي وي چې په کې به د ګاونډ په کچه د مهارتونو د لوړوالي پروګرامونه شامل وي او ب) په کابل کې د ځوانانو مرکزونه پرانیځې چرته چې ځوانان کوی شي د یو بل سره اړیکه وساتي او د مشورې غوښتونکي شي او چرته چې این جی او ګانې په آسانۍ سره کوی شي روزنیز پروګرامونه وړاندې کړي.

**نسیم مجیدی چې بریښنا لیک یې** ***nassim.majidi@samuelhall.org*** **دی د ساموېل هال مشر دی.** ***www.samuelhall.org*** **او په Sciences Po, Paris کې دوکتورا ته کاندید دی.**

۱. په کابل ښار کې ښاري بې ځایه شوي ځوانان، هغه څیړنه چې د ساموېل هال لخوا په افغانستان کې پر مخ وړل کیږي. په ۲۰۱۴ کال کې به یې راپور راځي.
همدارنګه ساموېل هال مشورتی کمپنی (۲۰۱۳)
Afghanistan's Future in Transition: A Participatory Assessment of the Afghan Youth, commissioned by Afghan Deputy Ministy of Youth Affair, UNDP, UNFPA and UNICEF
(د افغانستان راتلونکی په انتقال کې: د افغان ځوانانو یو مشارکتي ارزیابی چې د ځوانانو د چارو د معینیت، یو این ډی پی، یو این ایف پی ای او یونیسف لخوا ترسره کیږي
http://tinyurl.com/SamuelHall-Afghan-youth-2013

### بې سرپرسته افغان ماشومان: آیا بیا په منډه دي؟

زه ناکامه شوم خو بیا هم غواړم بهر ته لاړ شم. زه دې ته اړتیا لرم چې خپل هدف ځای ته ورسیږم ځکه چې دلته په افغانستان کې کار او تعلیم نشته. (امینی، عمر ۱۷، ننګرهار)

ډیری افغان واړه چې غرب ته د افغانستان څخه خوځیدلي وو خو بیا په زوره بیرته راالیږل شوي وو اوس هم د هغو ننګونو با وجود چې د خپلو سفرونو په ترڅ کې ورسره مخامخ شوي وو غواړي بیا غرب ته لاړ شي. نیول او بیرته رالیږل د هغو ځوانانو لپاره عادي دی چې غواړي بې سرپرسته مهاجرت ترسره کړي، او هغه چې بیرته راستانه کیږي د لومړني سفر د پورونو د ادا کولو د ستونزو سره مخ کیږي. په ټولنه کې بیرته ځای پر ځای کیدل کیدای شي په دوی باندې ددومره مصارفو د مصرفولو او په کې د ناکامیدو له امله ناشونی شي. هغې ټولنې چې بې سرپرسته مهاجرته یو وخت تشویقوه اوس د هم هغه بې سرپرسته مهاجر ماشوم هلې ځلې کمې شمیري.

هغوی مونږه ته تعنه راکوي چې له تاسو څخه واړه ماشومان خپلو هدفونو ته ورسیدل او تاسې ونه شو. هغوی فکر کوي چې دا آسانه چې بې سرپرسته سفر وشي. هغوی د ستونزو او ګواښونو نه خبر نه دي. (غلام، عمر ۱۸، ننګرهار)

ډیری ځوانان په دې فکر کې دي چې دویمه هله ځله به آسانه وي او ددې کار کولو ته متعهد هم دي، د یوه ښه کار د پیدا کولو هیله، د نسبي خپلواکی څخه خوند اخستل او د تعلیم غوندې تسهیلاتو ته لاس رسۍ هغه ستونزې تتوي چې دوی پوهیږي چې ورسره مخامخ کیږي به.

دا د يو اين ايچ سی آر او د افغانستان د څېړنې او ارزيابی د واحد (AREU) لخوا د ترسره شوې څېړنې يو ځو مونډنې وې چې د ۲۰۱۴ کال په نيمايي کې به خپرې شي: وګورئ *www.areu.org.af* د لا ډېرو معلوماتو لپاره

د جينيفر لاين بکاپورو سره چې د AREU مشره محققه ده *jennefer@areu.org.af* چې په راپور کې يې د صوفيه شهاب سره کار کړی *sofya.shahab@gmail.com*

# د بې ځايه شويو ځوانو ښځو او انجونو لپاره ښاري حقيقتونه

ډان ټايلر او سوساني شميدل

د بې ځايه شويو وګړو مخ پر زياتېدونکی تعداد د افغانستان په ښاري مرکزونو کې په غير رسمي ميشت ځايونو کې ژوند کوي خو دا چې بې ځايه شوې ښځې او انجونې په داسې مساکنو کې د کومو لارو آسيب پذيره دي تر اوسه نه معلوم شوي او نه هم بيان شوي دي.

عام آندونه به دا نظريه مني چې ښاري ښځې او انجونې به د بې ځايه کيدنې نه مخکې د هغوی د کليوال ځای په پرتله به خدمتونو او ټولنيز فرصتونو ته ډير لاس رسی لري، له دې امله چې په مهمو ښاري مرکزونو کې د زده کړې خدمتونه ډير دي. خو نوې څېړنې د پورتنۍ خبرې ضد لاس ته راوړی[1]. په نوموړې څيړنه کې دا ښکاره شوه چې د کابل، کندهار او ننګرهار په ښاري مساکنو کې بې ځايه شوې ځوانې ښځې او انجونې د نارينو په پرتله د تعليم، صحت او کاريابی له پلوه د ډيرو ستونزو سره مخې دي. د ټولو څخه مهم د هغوی د ټولنيز ارزښت او خپلواکی د لاسه ورکول او په انزوا کې پاتې کيدل وو.

د بې ځايه شويو ځوانو ښځو او انجونو سره ټولې مصاحبې د نيژدې سيمې د ښځو او انجونو لخوا ترسره شوې وې. په لومړي سر کې د غير رسمي مساکنو د مشرانو څخه د مصاحبو لپاره اجازه اخستل شوې وه او په دوېم پړاو کې د کورنيو د نارينو غړو څخه اجازه واخستل شوه تر څو د هغوی د ښځو او انجونو سره مصاحبې تر سره شي.

انزوا او ګوښه کول: بې ځايه شوې ځوانې ښځې او انجونې معلوماً يواځې ساتل کيږي او د کور څخه بيرون ګرځيدو ته هم نه پريښودل کيږي، دا کار تعليم، صحت او د معيشت فرصتونو ته د هغوی لاس رسی محدودوي. د مصاحبو په جريان کې د ځواب ورکونکو يواځې ۴۰ سلنې وويل چې ښځو او انجونو ته اجازه ورکول کيږي چې د کور څخه بهر د ملګرو د ليدلو لپاره ووځي. د ځواب ورکونکو دريمې برخې وويل چې ښځې د وتلو لپاره اړې دي چې د ځان سره يو نارينه ولري. محدود خوځښت د ښځو لاس رسی تعليم او د معيشت فرصتونو ته هم محدودوي. کلتوري خنډونه د پورتنې ګوښه کولو او انزوا تر شا مهم فکتورونه دي چې په ښاري غير رسمي مساکنو کې محافظه کارانه ارزښتونه اښکل شوي دي.

"مونږ د بهر د نړۍ پسې ډير خفه شوي يو او دلته د بنديانو په څير احساس کوو. زندان خو ښه دی لږ تر لږه خوارږه خو په کې ښه پيدا کيږي." (ځلورويشت کلنه ښځه)

شبکې بايلل: دا چې ښځو ته د خپلو کورونو څخه بهر ته د وتلو اجازه نه ورکول کيږي، هغوی د نورو څخه مرسته هم نه شي غوښتلی. ځوانو ښځو معلوماً د خپلو هغه ناتوانيو څخه ګيلې کولې چې له امله يې نه شوای کولی خپلې ستونزې د ګاونډ او د ټولنې د نورو ښځو سره شريکې کړي او يا هم د غير رسمي مساکنو په ټولنه کې شبکې جوړې کړي. ګاونډيانو هم ځينو کورنيو ته د ګاونډ څخه د شړلو اخطارونه ورکړي که چرته څوک وغـواړي چې د ټولنې ټولنيز نارم تر پښو لاندې کړي او انجونو ته خپلواکي ورکړي (چې په کې تعليم هم شامل دی).

"ټوله ورځ مونږه هيڅ هم نه کوو. که چرته مونږ ته د تعليم او د نورو سره د معرفی اجازه راکړل شی نو مونږ کوی شو چې په کلتوري او سياسي ډګرونوکې کار وکړو..... يواځينی کار چې مونږ يې کوو هغه د ګاونډ د خيمو څخه د انجونو راټوليدل او د خپل اوسنې ژوند څخه ګيلې دي او نور هيڅ هم نشته." (پنځه ويشت کلنه ښځه)

افسردګي او پريشاني: د خپل اوسني حالت له امله يو شمير بې ځايه شوې ځوانې ښځې او انجونې د افسردګی د ناروغی ښکار ګرځيدلې دي او اکثر وخت وايي چې مرګ

ددوی د اوسني حالت څخه شه دی. ځینو بې ځایه شویو د ذهنی روغتونونو د نه شتون یاد کړی دی او ویلې یې دي چې هیڅ شخص او یا اداره نشته چې ذهني او رواني ناروغان دې ورته مراجعه وکړي.

**د مرستې نښه کول**

ډیری ځوانو ښځو او انجونو د خپل اوسني حالت او دهغه راحتونو ترمنځه چې دوی په خپل اصلي ځایونو کې لرل په پرتلې باندې د شرم احساس کوه. دا احساس د ظلم، د فرصتونو د نه شتون او د لاچارۍ احساس دی. ډیری ځوانو ښځو ویل چې مرسته نه ورسیږي نو ددې مصاحبو څه ګټه ده، او د کندهار د بې ځایه شوو ځوانو میرمنو ویل چې کله مرسته راشي نو د نارینو لخوا رواړل کیږي او نارینو ته ورکول کیږي

په ښاري مساکنو کې د ځوانو انجونو او ښځو د آسیب پذیریو د ښه بیان لپاره مونږ دا وړاندیز کوو چې د بې ځایه شویو ټول ارزیابۍ باید د ذهني روغتیا یوه برخه ولري (چې شدیده ذهنی ناروغان باید د درملنې لاندې ونیول شي). غیر مسلکي بشردوستانه کارکونکي چې په کې محلي کار کونکي هم شامل دي، باید د روزنې لاندې ونیول شي تر څو د ذهني ناروغیو ستونزې په نښه کړي او په دې پوه شي چې د ذهني ناروغیو ستونزې څنګه راجع کړي. د جندر تحلیل باید په ارزیابیو او د غبرګون په ستراتیژیو کې شامل کړل شي او د ښځو او انجونو لپاره باید د مرستې ځانګړې کڅوړې په نظر کې ونیول شي چې په کې د رواني مرستې خدمتونه، د کورنی او ټولنې مرسته او د عادي خدمتونو رسول شامل وي.

بشردوستانه فعالان باید د رسمي او غیر رسمي زده کړو د رسولو لارې چارې د بې ځایه کیدنې د جریان په سر کې په نښه کړي، د بیلګې په ډول، په کور کې دننه مسلکي زده کړې او د معیشت فعالیتونه. او په ښاري ځایونو کې د بې ځایه شویو هم غږې او مدافعت باید ډیر شي کوم چې ددغو بې ځایه شویو د سوانحو جوړولو، د هغوی د ضروریاتو نښه کولو او د غبرګون د میکانیزم تاسیس کولو ته اړتیا لري.

ډان ټایلر *dan.tyler@nrc.no* د ناروې د پناه غوښتونکو په قونسل کې د سیمیز محافظت او مدافعت مشاوره ده *www.nrc.no*. سوسانی شمایدل چې بریښنا لیک یې *susanne.schmeidl@tlo-afghanistan.org* دی د The Liaison Office شریکه جوړونکې او مشاوره دی. *www.tloafghanistan.org*

۱. په افغانستان کې د ځوانو بې ځایه شویو په اړه د ناروې د پناه غوښتونکو د قونسل او د لایزن د دفتر راپور به د ۲۰۱۴ په نیمایي کې خپور شي.
له بې ځایه شویو ځوانو ښخو او نجونو سره ټولې مرکې د شاوخوا سیمي ښځو/نجونو لخوا ترسره شوي وي. لومړی د مشرانو لخوا اجازه اخیستل شوي وه چې د هغوی په غیر رسمي استوګنځیو کې مرکژ ترسره شي، او ورپسې د کورنۍ له نارینه غړیو څخه اجازه اخیستل شوي وه چې د هغوی په کورنۍ کې له ښځو/نجونو سره خبرې وشي.

## اوس هم د ګواښ لاندې: په ښاري افغانستان کې جبري ویستل

کارولین هوارډ او جیلینا مدزاریویک

د افغانانو د بې ځایه شویو لویه شمیره د حکومت او نړیوالې ټولنې لپاره د محافظت او ښاري پراختیا ننګونې ولاړوي.

د جګړو لـه املـه کابـو ۶۳۰۰۰۰ افغانـان د هیـواد دننـه بـې ځایـه شـوي دي پـه داسـې حـال کـې چـې هیـواد اوس هـم ۵.۷ ملیونـو راسـتانه شـوو کډوالـو د ځـای پـه ځـای کیـدو د سـتونزې سره مـخ دی. تـر دیـرش سـلنې پـورې افغانـان پـه ښـاري اسـتوګنو کـې میشـت دي چـې اکـثره یـې د مهمـو ښـارونو دننـه او یـا هـم شـاوخوا پـه غیـر رسـمي اسـتوګنو کـې میشـت دي[1]. د چټـک ښـاري کیـدو لاملونـه عبـارت دي د کډوالـو د راسـتنیدو، د هغـو بـې ځایـه شـویو رارسـیدل چـې د جګـړې او طبیعـي افـت لـه املـه بـې ځایـه شـوي دي او د کلـو څخـه اقتصـادي مهاجـرت. لکـه څنګـه چـې افغانسـتان د یـوه نـا معلومـې راتلونکـې سره مـخ دی، نـو د بـې ځایـه شـویو او د کډوالـو د راسـتنیدونکو لپـاره دوامـداره حـل لارې د کورونـو پـه ویـش پـورې تـړاو لـري چـې پـه کـې د ملکیـت امنیـت هـم شـامل دی. د کورونـو د ګزینـو د لـړوالي لـه کبلـه ښـاري بـې ځایـه شـوي او راسـتنیدوکي پـه عامـه او شـخصي ملکیتونـو د کومـې رسـمې اجـازې نـه پرتـه خیتـه اچـوي.

دا کار هغوی د بې کیفیته ژوندانه د حالتونو او د جبري ویستو د ثابت خطر سره مخ کوي ځکه چې د ځمکې مالکان او دولت غواړي چې په دغه سیمو کې کورونه یا دفترونه او سړکونه جوړ کړي.

د ناروې د کډوال کونسل (NRC) او د هغې د داخلي بې ځایه کیدنې د څارنې دفتر (IDMC) د هغو ښارونو د شاوخوا او دننه څخه چې د ناروې د کډوالو کونسل په کې دفترونه لري د جبري ویستلو ۱۶ قضیې لیدلي چې دغه مرکزونه په کابل، هرات، جلال آباد، مزار شریف، میمنه او فراه کې پراته دي[۲]. دغه قضیې (چې د ۲۰۱۰ کال د نومبر او د ۲۰۱۳ کال د جون تر مینځ ثبت شوې دي) د هغو بې ځایه شویو او راستنیدونکو په اړه وې چې شخصي او عامه ځمکې یې د کومې اجازې پرته او د کوم عرفي سند نه پرته غصب کړې وې.

## د محافظت خلاوې او د پالیسۍ خطاوې

د ځمونې په ټولنه کې ټولې ۹۶۰۰ کورنۍ (چې ۵۷۴۰۰ افراد وو)اټکل شوی وو چې ټولې اغیزمنې شوې وې خو ۵۵۷ کورنۍ بیا د جبري ویستلو ښکار شوې. اوسني او پخواني ټول بې ځایه شوي د ګواښ لاندې دي. د ویستلو په ټولو پړاوونو کې د محافظت خلاوې شتون لري چې په کې لاندې شیان شامل دي:

- د مشورې اخستلو او ګډون د حقونو د نظره غورځول
- د اطلاع ورکولو غیر مناسبه وخت او پروسیجرونه
- د قانوني موثره بدیل نه شتون دا چې دا ویستل شوي د خپلو کورونو کوم قانوني سند لري که نه
- د ټولو څخه پورته، د ویستلو نه وروسته د بې کورۍ او آسیب پذیرۍ د مخنیوې لپاره د بل چرته ځای په ځای کیدو کومه برنامه شتون نلري

د کور او ملکیت پر وړاندې د مداخلې په اړه د اساسي قانون د ضانتونو د شتون په صورت کې هم، قضیې ښکاره کوي چې په ملي قانون کې ډیرې تشې شتون لري. افغانستان د نړیوالو معیارونو سره تړلی دی کوم چې وایي چې افغانستان باید د جبري ویستلو څخه ځان و ساتي او څوک یې چې کوي مجازات کړي. د ټولنیزو، کلتوري او اقتصادي حقونو په اړه د نړیوال پیمان د یوې خوا په حیث، [۳] افغانستان باید تضمین وکړي چې ټول وګړي یې د کورونو لرودلو د حق د اساسي برخو څخه برخمن وي چې په کې د ملکیت امنیت هم شامل دی کوم چې د جبري ویستلو مقابل کې ورته قانوني محافظت ورکوي. د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال پیمان د یوې خوا په حیث، [۴] دا هیواد اړ دی چې د شخصي او کورني ژوند کې د مداخلاتو خلاف د وګړو د خصوصیاتو حق ته احترام وکړي چې په کې کور هم شامل دی چې پروا نکوي چې قانوني دی که نه. د ښځو پر وړاندې د تعصب د له مینځه وړلو میثاق[۵]، او د ماشوم د حقونو میثاق[۶] (چې افغانستان یې غړی دی) ورته مسولیتونه په ګوته کوي چې ښځې او ماشومان د جبري ویستلو اصلي اغیزمن کسان دي.

د ښاري کیدو سرعت په دې معنی دی چې د ځمکې نوي سستمونه دې مینځ ته راشي په ځانګړې توګه د غیرو رسمي استوګنو قانوني کول چې حکومت ورته تر اوسه د شک په سترګه ګوري. دا حالت د بې ځایه شویو لپاره د ښاروالۍ او ولایتي چاراوکو لخوا ددوی د ځای د انتخاب د حق د نه پیژندلو له کبله نور هم شدید شوی دی. بې ځایه شوي نه غواړي چې د هغو ښارونو څخه ووځي چې دوی په کې اوس میشت دي خو بیا هم پالیسي جوړونکي وایي چې ددوی بیرته ستنیدل یواځینی اوږد مهاله د حل لاره ده. د هغو بې ځایه شویو او راستنیدونکو لپاره چې د جبري ویستلو د پایلې سره مخ کیږي په بل ځای کې د ځای په ځای کیدو یواځینۍ ټاکنیزه د دولت د ۲۰۰۵ کال د ځمکې د ویش طرح ده خو څیړونکو بیا دغو ساحو ته د دوامداره ځای په ځای کیدو په اړه کوم د پام وړ شواهد ندي لاسته راوړي چې ددغې پروژې د ناکامۍ لاملونه د بې کاره ځای خوښول، د داخلیدو سخت شرایط، او د ځمکو لوړ قیمتونه دي.

د حکومت کلیدي ایجنسیانې همدارنګه د ښاروالي چاراوکي داسې فکر کوي چې د بې ځایه شویو لپاره د حل لارو د موندلو مسولیت یواځې د کډوالو او بیرته راستنیدونکو د وزارت دی. نو ځکه د بې ځایه شویو اوږد مهاله اړتیاوو ته ځوابونه د دولت دننه په سمه توګه ندي همغږې شوې. خو زیرۍ دادی چې د چاراواکو رویه بدلون مومي. په ۲۰۱۲ کال کې د افغانستان د محافظت د کلسټر د کورونو او ملکیت کاري ځواک د جبري ویستلو[۷] پر مهال د ضرر رسیدلو د مخنیوي طرز العملونه ۵ او د بې ځایه شویو ملي پالیسي وړاندې کړه چې د ۲۰۱۳ کال

په نومبر کې د افغانستان د کابینې لخوا ومنل شوه. د بې ځایه شویو پالیسي:

- په ښاري سیمو کې د بې ځایه شویو او راستنیدونکو د مناسبه کور د درلودلو حق په رسمیت پیژني
- د ملکیت د امنیت او د جبري ویستلو په اړه دقیق قوانین لري
- د غیر رسمي استوګنو وده په رسمیت پیژني
- د اساسي قانون په اساس د بې ځایه شویو هغه حق چې د افغانستان په هر ځای کې اوسیدی شي په رسمیت پیژني
- دا هم مني چې ملي، ولایتي، او د ښاروالي چارواکي مسولیت لري چې تضمین وکړي چې په غیرو رسمي استوګنو او نورو سیمو کې بې ځایه شوي او کډوال راستنیدونکي د جبري ویستلو د ګواښ سره ندي مخ.

د غیر رسمي استوګنو د ودې په اړه د دولت د ۲۰۱۳ کال مسوده شوې پالیسي هم د جبري ویستلو د مخنیوي حکم کوي چې په کې نوي قوانین هم شامل دي. خو د ۲۰۱۴ کال تر مارچ پورې هم ددې پالیسۍ تسلیمول د افغانستان کابینې ته ځنډیدلی وو.

**وړاندیزونه**

که چیرته شخصي او دولتي ځمکې د اجازې پرته اشغال شوي وي نو جبري ویستل حتمي ندي. د افغانستان حکومت د نړیوالې مرستې سره اړ دی چې:

- د بې ځایه شویو د پالیسۍ د عملي کولو لپاره او د کورونو، ځمکې او ملکیت د اړخه د بې ځایه شویو د اړتیاوو د سوانحو د جوړولو او په ملي او ولایتي سطحه د دوامداره حل لارو لپاره د پلانونو د لارې چټک ګامونه واخلي.
- . د ښاري بې وزلو، د بیرته راستنیدونکو او بې ځایه شویو د جبري ویستلو د مخنیوي او مجازات کولو لپاره بشپړ او اغیزمن قوانین، پالیسۍ، او پلانونه معرفي کړي: دغه پالیسۍ باید روښانه کړي چې په ښاري سیمو کې پر دولتي او شخصي ځمکو پراته بې ځایه شوي د کومو حالاتو او پروسیجرونو د لارې وویستل شي او د دغو ویستلو اړتیا، او قانونیت دې هم بیان شي چې په کې د کورونو ورانول ترڅو فشار وارد شي هم شامل دی.
- د بشردوستانه ادارو سره په ګډه د اغیزمنو ټولنو مشارکت او مشوره غوښتنه باید نهادي شي: ټول اغیزمن افراد چې په کې ښځې او زاړه شامل دي د ویستلو په ټولو پړاونو کې باید با خبر وساتل شي. کله چې خلک د ویستلو د اطلاع خلاف غبر وکړي نو ویستل دې تر هغه وخته وځنډیږي تر څو دولت خپله پریکړه د سره وګوري.
- د هغو آسیب پذیره ښاري بې ځایه شویو، راستنیدونکو او نورو لپاره چې کور او ځمکې ته کوم قانوني لاس رسۍ نلري د ځمکې او ملکیت د امنیت د ورکولو لارې چارې معرفي کړي:د ریس جمهور ۱۰۴ تقنیني فرمان باید د سره وکتل شي تر څو د مستفدینو اړتیاوې سمې بیان شي چې تمرکز به یې د مناسب ځای پر ټاکلو، د ځمکې د فیس پر کمولو یا ورکولو وي، او د هغو بې ځایه شویو او راستنیدونکو د قبول معیار نور هم منونکی کړي چې د خپل ولایت څخه بیرون ژوند کوي. په عین وخت کې باید جبري ویستل و ځنډول شي او ورسره د غیر رسمي سیمو د ارتولو پروګرامونه هم پر لاره شي تر څو همدا استوګنې قانوني شي.
- د غیر رسمي استوګنو د ودې په اړه باید جوړه



په کابل کې د بې ځایه شویو کمپ

شوې پالیسي ومنل شي او د عملي کولو په لاره کې یې ګامونه واخستل شي.

نړیوال بشردوستانه او پراختیایي فعالان او ډونران باید:

- د بې ځایه شویو دپالیسۍ په عملي کولو کې دې مرسته وکړي یا دې پانګه ورکړي چې په کې د بې ځایه کیدنې د ځانګړو اړتیاو د لا پوهاوي په موخه د بې ځایه شویو د سوانحو د راټولولو فعالیتونه شامل دي
- باید تضمین شي چې د نړیوالې ټولنې د ۲۰۱۵-۲۰۱۹ د پراختیایي مرستې جوړښت بې ځایه شویو او راستنیدونکو ته د دوامداره حل لارو پر لټون متمرکز دی چې په کې د ټولنیزو پروګرامونو د لارې په ښاري سیمو کې مناسبو کورونو ته ددوی د حق د پیژندل شامل دی.
- د یوې نښتې نه وروسته د را پیدا شوې بې ځایه کیدنې د ختمولو په موخه د نړیوالې ټولنې د سکرتر جنرال جوړښت عملي شي چې بې ځایه شوي او راستنیدونکي په یوه کچه بیانوي


IOM

- د همږي په میکانیزونو کې چې داخلي بې ځایه کیدنه بیانوي د نړیوالو پراختیایي او بشردوستانه فعالانو ونډه تشویق کړي تر څو یوه بشپړه تګ لاره تضمین شي
- باید د محافظت د فعالانو ظرفیت ته وده ورکړي تر څو هغوی د مخنیوي څارنه وکړي او په هیواد کې د ترسره کیدونکو ویستلو په اړه راپور ورکړي.
- د جبري ویستلو او د ټولو دخیلو ډلو لپاره د عملي کیدونکو قانوني معیارونو په اړه د ظرفیت د ارتقا او د پوهاوي د لوړیدو فعالیتونه باید په دوامداره توګه تمویل شي.

. کارولین هوارډ چې بریښنا لیک یې
*caroline.howard@nrc.ch* دی د منځني ختیځ، اروپا، کاکاسوز او آسیا د داخلي بې ځایه کیدنې د څارنې د مرکز مشر دی.
*www.internal-displacement.org* او جیلینا مدزاریویک چې بریښنا لیک یې *jelena.madzarevic@afg.nrc.no* دی چې د افغانستان د برخې د ناروې د کډوالو په کونسل کې د کورونو ، ځمکې او ملکیت مشاوره ده. *www.nrc.no/afghanistan*

۱. میتکف وی، هیسوم ایس له مارتین ای سره (۲۰۱۲) په ښار کې امن ځای: ښاري بیځایه کیدل او آسیب پذیري په کابل کې، د بشردوستانه پالیسي ګروپ/د بهرنۍ پراختیا انستیتوت، ۶ مخ

Metcalf V, Haysome S with Martin E (2012) Sanctuary in the City: Urban displacement and Vulnerability in Kabul, Humanitarian Policy Group/ Overseas Development Institute, p6.

www.odi.org.uk/sites/odi.org.uk/files/odi-assets/publications-opinion-files/7722.pdf

۲. د لانورو معلوماتو لپاره چې په کې وړاندیزونو نور جزیات هم دي، نو دا وګورئ:
NRC/IDMC (Feb 2014) Still at risk: Security of tenure and the forced eviction of IDPs and refugee returnees in urban Afghanistan (NRC/IDMC فبروري ۲۰۱۴ اوس هم د ګواښ لاندې: په ښاري افغانستان کې د ملکیت امنیت او د بې ځایه شویو او راستنیدونکو جبري ویستل)

www.nrc.no/arch/_img/9689800.pdf

۳. www.ohchr.org/EN/ProfessionalInterest/Pages/CESCR.aspx

٤. www.ohchr.org/en/professionalinterest/pages/ccpr.aspx

٥. www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/text/econvention.htm

٦. www.ohchr.org/en/professionalinterest/pages/crc.aspx

٧. http://tinyurl.com/Afgh-evictionguidelines-2012

# د ګواښونو د نښو څخه پند اخستل: د افغانستان لپاره لا نورې بې ځایه کیدنې اټکل شوي دي

سوساني شمایدل

په افغانستان کې د بې ځایه کیدنې د یوې نوې څپې د واقع کیدو لپاره اوس مهال ډیر شواهد شتون لري. د ګواښونو دا ابتدایي نښې بابیزه ګڼل او کوم کار نه کول به په دې معنی وي چې په راتلونکې کې به یې په لوړ قیمت جبران ترسره کیږي، هم په مالي توګه او هم په انساني.

د طالبانو د رژیم د راپرځیدو نه څه زیاد یو لسیزه وروسته او په افغانستان کې د بې کچې نړیوالې پراختیایي او نظامي مداخلې سره سره ټول شواهد دا ښکاره کوي چې مونږ به د بې ځایه کیدنې یو بل ناورین تجربه کړو. خو دا ځل به یې فرق دا وي چې داخلي بې ځایه کیدنه به پر خارجي بې ځایه کیدنې ډیره وي او د پناه اخستو تر ټولو لویه ګزینه به کابل وي او په ترتیب نور غټ ولایتونه. د راتلونکي بې ځایه کیدنې د احتمال د ارزیابي کولو په وخت کې ډیرى فکتورونه شته چې باید په نظر کې ونیول شي:

خوځښت د افغانانو لپاره د مبارزې یوه مهمه ستراتیژي: په څلورو افغانانو کې دریو یې حتمن د خپل ژوند په یوه وخت کې جبري بې ځایه کیدنه تجربه کړې ده او ډیرو یې بیا څو څو واره تجربه کړې (هم داخلي او هم خارجي). نو څکه ډیرى افغانان اوس د خپل هیواد سره دومره ځواکمنې اړیکې نلري دا خو لرې پریږده چې خپلې ځمکې او معیشتونه ټینګولی نشي ته کیدلو پاتې وطن په هم یې . دا چې مخکې هم بې ځایه شوي دي، هغوی به دا کار بیا تکراروي که چرته حالت پرې سخت شي. د خوځښت د وسوسې په مقابل کې د هغوی مقاومت کم دی او هغو ددې تجربه لري چې څه وکړي او چرته لاړ شي او یا لږ تر لږه دا چې څنګه خپلې ګزینې وتلي.

خلک یو ځل بیا په خوځښت کې: ډیری افغانان د تیښتې ستراتیژۍ د ځانه سره لري- یا یې هم وربانديې فکر کړیوي – چې کله یې وخت راشي نو عمل پرې وکړي. شتمنو خو اوس مهال دوبی ته د خپلو کورنیو لیږل پیل کړي هم دي، نور خلک بیا په بهر کې د کار یا زده کړې د فرصتونو په لټه کې دي او یا هم په غرب کې د خپلو خپلوانو سره یوځای شي. ځینې بیا د ټولې کورنۍ ذخیره شوې پیسې یوه قاچاق بر ته ورکوي تر څو دهغوی د کورنۍ یو ځوان غړی بهر ته لاړ شي او د هغوی لپاره د تیښتې یوه بله دروازه پرانیستل شي. په عین حال کې د څو کلونو راهیسې داخلي بې ځایه کیدنه هم په ثابته توګه لوړه شوې ده چې ۶۳۰۰۰۰ یې ثبت شوي چې خپل کورونه یې پریښي دي چې لدې شمیرې څخه ۱۱۰۰۰۰ یې په ۲۰۱۳ او ورته شمیره په ۲۰۱۲ کال کې.

د افغانانو جلا وطنه ډله په هر ځای کې: د افغانانو د بې ځایه کیدنې تجربې یوه لویه جلا وطنه ډله رامنځ ته کړې چې نه یواځې په ګاونډي ایران او پاکستان کې میشت دي بلکه په اروپا، شمالي امریکا، روسیه، مرکزي آسیا، او آسترالیا کې چې دا حقیقت د هغوی د بې ځایه کیدنې ګزینې نورې هم ډیروي. ډیرو یې په وروسته ذکر شوو هیوادونو کې تابیعتونه هم لاسته راوړي او ورسره امتیازات هم. د کورنیو یو ځای کیدل او یا هم په جلا وطنې ډله کې د یوه افغان واده د یوه بل افغان سره چې په افغانستان کې میشت دی په تیرو کلونو کې ډیر عام دی او داسې ښکاري چې نور به هم ډیریږي ځکه چې دا کار د پناه غوښتنې او د ردیدو ټولې پروسې وروسته پریږدي. همدارنګه څیړنې ښیي چې د جلا وطنې ډلې شتون بهر ته د مهاجرت د وسوسې وړاندې مقاومت کموي ځکه چې لاره تاسیس شوې ده او شبکې هم شتون لري.

بیرته ستنیدل هم دومره کامیابه او دوامدار نه وو لکه څومره چې هیله کیده: که څه هم دا روښانه نده چې د ۲۰۰۱ کال پدیخوا څومره افغانان هیواد ته بیرته ستانه شوي دي، خو وروستۍ اټکل ۵.۷ ملیونه دی[1]. پر دې اضافه شوي ۲.۷ ملیونه په ایران او پاکستان کې هم اوسیږي چې د بیرته راتګ کوم پلان نلري هو که د کوربه حکومتونو لخوا را وشړل شي. خو د ډیرو لپاره بیرته راتګ دوامداره ثابت نه شو ددې لپاره چې د اوسیدو ځای او د ژوند کولو مدرک یې لاسته راوړی ونه شو دا خو څه کوې چې اساسي خدمتونه، امنیت او محافظت یې لرلی. ډیری راستنیدونکي اوس په دوهم ځلې بې ځایه کیدنه کې ژوند کوي.

د ډیموګرافیک اضافه فشار: د زوکړې د لوړې کچې سره (۲.۴٪) د افغانستان د نفوس په اړه وړاندوینه شوې چې تر ۲۰۳۰ کال پورې به ۴۰ ملیونو ته رسیږي او دا په دې معنی چې د ځمکې، خدماتو او معیشت پر سر به لا سخت رقابتونه روان وي او هغه هم په داسې هیواد کې چې داوسني ۲۸ ملیونه نفوس اړتیاوې نه شي مرفوع کولی. نور فشارونه او آسیب پذیرۍ به بې ځایه کیدنې منځ ته راوړي او د یوه لوی نفوس سره، او راتلونکې بې ځایه کیدنې به د ډیرو کډوالو او داخلي بې ځایه شویو په معنی وي.

بد امني د بې ځایه کیدنې یو مهم فکتور: په افغانستان کې د زور زیاتي اوسنۍ ډیروالی په دې معنی دی چې د بې ځایه کیدنې د رامنځ ته کولو فکتورونه به په دې نږدو کې نه حل کیږي. امنیتي پیښې او د ملکي خلکو وژنې په تیرو څو کلونو کې مخ په ډیریدو دي او دا میلان ۲۰۱۴ کال ته هم روان دی. د ملکي خلکو وژنه د ټولې کیسې یوه برخه ده او باید د ګواښونو د ډیریدو، د بشر د حقونو تر پښو د لاندې کیدو، د بې بندو بارۍ د ډیریدو، او د افغانستان د حکومت او نظامي قواوو لخوا د محافظت د نه شتون سره په نظر کې ونیول شي. ګزینې ډیرې محدودې دي: د ځواکمن سره یوځای شه، وتښته او یا ټیپې کیدل او د مرګ خطر ومنه. دا حالت بې ځایه کیدنه د یوه ښه مبارزوي ګزینې په حیث جوړوي.

د اقتصادي ودې نه شتون او وسره تړلي د معیشت فرصتونه: دا به ډیره سخته وي چې رد شي چې د نړیوالې ټولنې د ۱۲ کالو مرستو سربیره افغانستان اوس هم یو غیر مترقي هیواد چې په څو درجو د ماتې سره مخ دی. افغانستان د انساني پرمختګ په فهرست کې د ۱۸۷ هیوادونو په ډله کې ۱۷۵ دی او د جنسي مساوات په کچه د ۱۴۸ هیوادو په جمله کې ۱۴۷ دی. دوه مهم شاخصونه، د پنځو کلنو ماشومانو په مړینه کې او د میندو په مړینه کې هم د نړۍ

تر ټولو پورته هیوادونو په لست کې دی. که څه هم ډیری بې ځایه کیدنې د نا امنیو او د بشر د حقونو تر پښو د لاندې کیدو له کبله ندي خو دا به هم سمه نه وي چې ووایو چې بې ځایه کیدنه یو رضاکار کار دی.

د پالیسۍ غیر مناسب او سوکه غبرګون: د افغانستان حکومت د بې ځایه کیدنې په بیان کې ډیر سوکه پاتې شوی او داسې فکر یې کړی چې خلک به بیرته خپلو اصلي ځایونو ته په افغانستان کې وګرځي. په دې وروستیو کې افغانستان د غذا د امنیت او د تغذیې اجنډا او د داخلي بې ځایه شویو پالیسي لاس لیک کړه، خو دواړه د اسنادو په بڼه پاتې دي او د عملي کیدو پړاو ته لا ندي راغلي چې یوه قوي وړاندیز ته اړتیا لري همدارنګه حقیقت د پالیسۍ اړول یوه جوړښت ته هم اړتیا لري. راتلونکي مرستې د ټوکیو د دوجانبه حساب ورکونې پر جوړښت ولاړې دي او ډونران یوه غیر موثره او مفسد حکومت ته د خپلو پانګو د ورکولو په اړه په تشویش کې دي. دا او د نړیوالو ټولنو لخوا د لاس رسۍ ستونزې به په اوسنیو آسیب پذیره ټولنو نور فشار هم واچوي او بې ځایه کیدنې ته به لاره هواروي. که چرته خدمتونه او مرستې خلکو ته ونه رسیږي نو خلک به هلته ځی چرته چې دا شیان شتون ولري.

### خلک به چرته لاړ شي؟

که چرته دا اټکل وکړو چې خلک به چرته ځي، حد اقل په غټو شمیرو کې، دا کار به د مرستې په متمرکزه کولو کې مرسته وکړي او همدارنګه به د نورو بې ځایه کیدنو مخه ونیسي. دا چې بهر ته د وتلو ګزینه سخته شوي ده (پاکستان بې امنه او نه منونکی دی، او ایران هم نه منونکی دی) او نوي ځایونه ډیرو منابعو ته اړتیا لري (مالي او تعلیمي)، نو ځکه بهر ته تلل ډیر ستونزمن شوی دی. دا به داخلي بې ځایه کیدنو ته لاره هواره کړي.

افغانستان په عمومي توګه او کابل په ځانګړي توګه د تیری لسیزې په ترڅ کې د ښاري کیدو لوړه کچه تجربه کړي ده چې به ۲۰۱۱ کال کې ۷.۲ ملیونه ښاریان موجود وو (چې د ټول نفوس ۲۵٪ جوړوي[۲]) چې د آسیا د سیمیز اوسط نه په ښکاره ډول ډیر اوچت دی. کابل په سیمه کې د چټکو وده کونکو ښارونو څخه دی چې په ۲۰۱۳ کې په کې ۵۳ غیر رسمی استوګنې وې چې اصلي شمیره به یې نوره هم ډیره وي، نورو ښارونو هم همدارنګه د ښاري کیدو وده تجربه کړې ده چرته چې بې ځایه شوي ښنګ په ښنګ د راستنیدونکو، ښاري فقیرانو او کوچیانو سره په دولتي یا شخصي ځمکو کې ژوند کوي. که څه هم د کارموندنې او د اساسي خدمتونو د اړخه اوس هم د فشار لاندې دي خو ډیری په دې فکر کې دي چې دلته خو لږ تر لږه په امن کې دي. په نورو هیوادونو کې ورته تجربې ښیي چې د نفوس دا تراکم د ډیموګرافیک ستونزه ډیروي کوم چې کوی شي نورو بې ځایه کیدنو ته لاره هواره کړي.



**ولې پر دیوال لیکنې نه ګورو؟**

افغانسـتان د یـوه سـیاسي او امنیتـي انتقـال پـه حالـت کې دی چې دواړه یـوه اقتصادي انتقـال پـورې تـړلي دي او دې ټولـو پـه ملـي او بیـن المللي کچـه د صبر کولـو او کتلـو یـو ماحـول رامنـځ تـه کـړی دی. هغـه چـې لیکنـې پـر دیـوال ګـوري یـا بـه زړه نـا زړه وي او یـا بـه هـم منابـع نلـري چـې څـه وکـړي.

همدارنګه د ماتې نـه منلـو یـو عنصر هـم شـتون لـري. د بې ځایـه کیدنـې یـو بـل ناوریـن منـل بـه د نړیوالـې ټولنـې لخـوا د دولـت جوړولـو د تیـرې یـوې لسـیزې د پـروژې د ناکامـي منلـو پـه معنـي وي. کـه چرتـه غـربي نـړۍ داسـې فکـر وکـړي چـې د بـې ځایـه کیدنـې کـوم خطـر نشـته نـو هغـوی کـوی چـې د مسـولیت او دخالـت څخـه تیـر شي او بیـا وروسـته د افغانسـتان حکومـت ګـرم وګڼـي. سربیـره پـردې، دا منـل چـې بـې ځایـه کیدنـه ددوی لـه املـه شـوې او یـا هـم دوی ونـه شـو کـړای چـې مخـه یـې ونیـسي بـه پـه دې معنـی وي د پنـاه ورکولـو مسـولیت پـه غـاړه واخلي.

پـه پـای کـې کـه یـې ومنـو او کـه نـه، سـوریه اوس د تودوخـې مرکـز دی پـه داسـې حـال کـې چـې افغانسـتان د مـوده لویدلـی. دا چـې اروپـا تـه نـږدې ده او د افغانانـو د کډوالي د لومـړي کلونـو پـه کچـه د بې ځایـه کیدنـې ناوریـن احتمـال لـري، سـوریه ټـول پـام ځـان تـه اړولـی دی او د افغانسـتان شـا و خـوا چـې څـه کیـږي څـوک یـې پـروا نـه سـاتي.

د پـام اړولـو ددغـو وجوهاتـو د شـتون، او د غـرب د نـه مداخلـې لپـاره د دلایلـو د شـتون سره سره، مونـږ اوس هـم بایـد سـوال وکـړو چـې: کـه چرتـه دا ابتدایـي اشـارې بابیـزه وګڼـل شي نـو عواقـب بـه یـې څـه وي؟ کـه چرتـه اوس عمـل ونـه کـړو، او دې آمـاده ونـه اوسـو چـې مرسـته وکـړو، آیـا مونـږ بـه د جـبران لپـاره پـه راتلونکـې کـې لا ډیـر تـاوان ورکـړو، مـالي او انسـاني؟ غـرب یـو ځـل افغانسـتان پـرې ایښـی وو چـې پـه قهـر شي او بیـا د تروریـزم یـوه ګـواښ راویـښ کـړ. مونـږ څـه دې فکـر تـه اړ کـړي یـو چـې د داخـلي بـې ځایـه کیدنـې یـو غیـر بیـان شـوی ناوریـن، او دښـاري نفـوس ډیریـدل او د ځوانانـو د نفـوس ډیریـدل چـې نـشي کـوی تعلیـم یـا کار لاسـته راوړي بـه یـو شـه حالـت منـځ تـه راوړي؟

**سوسانی شمایدل چې بریښنا لیک یې**
***Susanne.schmeidl@tlo-afghanistan.org*** **په افغانستان کې**
**د لایزن د دفتر باني او مشره مشاوره ده**
***www.tloafghanistan.org*** **. او پسیفیک آسیا د ډیپلوماسۍ په**
**کالج کې هم موقته همکاره ده.** ***www.anu.edu.au***

۱. (د رضاکاره بیرته راتګ او د ځای په ځای کیدو پروګرام)
UNHCR (2012) The Voluntary Return and Reintegration Programme
www.unhcr.org/4fedc64b9.html

۲. ډیری منابع د افغانستان نفوس د ۲۵ څخه تر دیرش ملیونو پورې ښيي خو UNFPA یې د ۳۰ ملیونو څخه ډیر ښيي همدارنګه د افغانستان د ښاریانو نفوس هم فرق کوي چې معمولآ د ۲۵٪ او ۳۰٪ اټکل کیږي



# انتقال او بې ځایه کیدنه

خالد کوثر

افغانستان به په ۲۰۱۴ کې امنیتي، سیاسي او اقتصادي انتقال تجربه کړي او دغه حالت لپاره غبرګون به په راتلونکو کلونو کې د نورو بې ځایه کیدنو د شدت په تعینولو کې اساسي رول ولوبوي.

د ۲۰۱۴ کال نه وروسته د افغانستان د احتمالاتو د اټکل په موخه، نړیواله توجه د افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو د اغیزو پر سر متمرکزه شوې ده. لیکن، د ۲۰۱۴ کال سیاسي انتقال چې د جمهوری ریاست د انتخابو سره پیل کیږي په لنډ مهال کې د امنیت او استحکام لپاره د عین اهمیت خاوند دی. همدارنګه ځینې بیا دا فکر کوي چې اقتصادي انتقال به د ډیرو افغانانو لپاره د دوامدار معیشت د نه شتون ستونزه را ولاړه کړي. او دا کار به د لا مهاجرت لپاره دومره اغیزمن وي لکه څومره چې بد امني او سیاسي ستونزې اغیزې لري. د افغانستان ګاونډیان بیا یوه مستحکم سیاسي انتقال ته لومړیتوب ورکوي او نه غواړي چې دغه پروسه سبوتاژ کړي.

د ډیرو کلونو لپاره منظم خوځښت د افغانانو لپاره د بقا او مبارزې یوه اساسي ستراتیژي وه او د هغوی د مهاجرت پخوانۍ تجربې به د افغانانو د راتلونکي مهاجرت په ستراتیژۍ حتماً اغیزې ولري. دا یوه منل شوې خبره ده چې اوسنی انتقال به ډیر داخلي بې ځایه کیدنې منځ ته راوړي او تر ټولو ستر ګواښ به د ښاري بې ځایه شویو د شمیرې ډیریدا وي چې دا کار به ښاري غریبان نور هم زیات کړي په ځانګړې توګه په کابل کې. نورې بې ځایه کیدنې به اوسنی بحران نور هم شدید کړي.

حتی لکه څنګه چې د بې ځایه شویو سره د مرستې اړتیا به ډیریږي، بشردوستانه لاس رسۍ او امنیت به هم ډیر ستونزمن کار شي. خو اوس یو ډیر مهم حقوقي، اداري او عملي جوړښت شتون لري تر څو د بې ځایه شویو افغانانو سره مرسته وشي. که څه هم په دغه جوړښتونو کې به د ظرفیت، همغږۍ او د موثریت محدودیتونه شتون ولري، خو بیا هم د نوو خوځښتونو لپاره د غبرګون یو بنیاد خو شتون لري.

کله چې ترې پوښتنه وشوه ډیری افغانانو په ۲۰۱۴ کال کې د نړیوالې ټولنې د توجه په سر شک ښکاره کړ او ویل یې چې دا کار د افغانستان د لنډ راتلونکي لپاره ډیر مهم دی. یو دلیل د کارونو ځنډول دي او صبر کول دي چې څه به پیښیږي. ځینو ساحاتو ته اولیت ورکړل شوی دی لکه اداري فساد، د ښځو حقونه، مخ په لوړیدو بې کاري، د محلي حکومت ظرفیت، او د پانګه اچونکو اطمینان حاصلول. او بې ځایه کیدنې ته هم لومړیتوب ورکړل شوی دی. دا چې ۲۰۱۴ کال به نورې بې ځایه کیدنې هم منځ ته




د افغانستان په غزني کې پر یوې نوې شفاخانې ساختماني کار پیلیږي.

راوړي هیڅ دلیل وجود نلري چې د اوسني بحران د ابعادو سره لاس او ګریوان نه شو.

بل دلیل ددې نظریې په خلاف مقاومت دی چې د افغانستان تقدیر د نړیوالې ټولنې په لاس کې دی، افغانان ۲۰۱۴ کال ته د دولت جوړونې د یوې اوږد مهالې پروژې په سترګه ګوري او د ماضی او مستقل ترمنځ د انتقال د یوې برخې په سترګه ګوري. په آخر کې دا احساس هم شته چې په خپل ځان باندې د تکیې یوه پیشګویي منځ ته راشي. د افغانستان د راتلونکي په سر بې باوري چې په ۲۰۱۴ کال باندې د نړیوالې ټولنې د توجه له امله نور هم شدیده شوې پر مهاجرتونو اود بیرته راتګ پر پریکړو اغیزه لري.

د شته مهاجرینو بیرته راتګ اوس یا په ۲۰۱۴ کې د انتقال نه وروسته پیش بیني شوی نه دی او دا ددې امله چې د راتلونکي په اړه او دوامدار رضاکارانه بیرته راتګ په سر هم بی باوري شتون لري او نه هم د مهاجرینو نوی جریان او پولو تر منځه مهاجرت په اړه فکر شوی. د اقتصادی او سیاسی دلایلو له امله، او د ځینو ډلو د امنیتي تشویشونو له امله، پاکستان او ایران ته د مهاجرت احتمال به په راتلونکو کلونو کې کم شي. که څه هم مهاجرت به د هغو لپاره ادامه پیدا کړي چې د خپلو اوسنیو ځایونو څخه بهر ته پناه غواړي لکه ترکیه، آسترالیا او اروپا، خو دا هم د پام وړ خبره ده چې ډیری افغانان بیا د خپل هیواد د راتلونکي د جوړولو په لاره کې متعهد دي او د بیرته راتګ سره یې ډیرې منابع په افغانستان کې په کار اچولي دي او د مجبوریت نه بغیر به هیڅکله و نه غواړي چې بیا د افغانستان څخه بهر ته وځي.

خالد کوثر *k.koser@gcsp.ch* د امنیتي پالیسي لپاره د جینیوا په مرکز کې د رئیس معاون او اکاډمیک رئیس *www.gcsp.ch* دی او د بروکلین ال ایس یی پروژې د نړیوالې پراختیا په برخه کې غیر استوګن لوړ پوړې همکار دی *www.brookings.edu/about/projects/idp*

دا مقاله د لاندې ماخذ څخه اخیستل شوې ده:

په افغانستان کې انتقال، بحران او خوځښت: فصاحت او حقیقت، دا راپور د آی او ام د لیکوال لخوا لیکل شوی.

*www.iom.int/files/live/sites/iom/files/Country/docs/Transition-Crisis-and-Mobility-in-Afghanistan-2014.pdf*

## د اجباري مهاجرت د بیالیدنې نړیوال سلاکاران

سلاکاران په انفرادي بڼه خدمت کوي نه د خپلو ادارو د استازو په حیث.

**Lina Abirafeh**
UN Rapid Response Team

**Guido Ambroso**
UNHCR

**Nina M Birkeland**
Norwegian Refugee Council

**Dawn Chatty**
Refugee Studies Centre

**Jeff Crisp**
Refugees International

**Mark Cutts**
OCHA

**Eva Espinar**
University of Alicante

**Elena Fiddian-Qasmiyeh**
Refugee Studies Centre

**Rachel Hastie**
Oxfam GB

**Lucy Kiama**
Refugee Consortium of Kenya

**Khalid Koser**
Geneva Centre for Security Policy

**Erin Mooney**
ProCap

**Kathrine Starup**
Danish Refugee Council

**Richard Williams**
Independent consultant

## په ۲۰۱۴-۲۰۱۳ کې د ټولو ډونرانو څخه مننه

له هغو ټولو ادارو او افرادو څخه چې په ۲۰۱۴-۲۰۱۳ کې یې د اجباري مهاجرت د بیالیدنې لپاره پانګه فراهمه کړې مننه. مونږه د کارکوونکو د استخدام په ګډون د خپلو ټولو مصارفو لپاره بهرنۍ پانګې ته اړتیا لرو او پر تکیه یو. مونږه د لاندنیو ټولو ډونرانو څخه د هغوی د مرستې او همغږۍ له امله ممنون یو.

Arcus Foundation • Danish Refugee Council • DHL • ISIM, Georgetown University • Lex Justi • Luxembourg Ministry of Foreign Affairs • John D and Catherine T MacArthur Foundation • Mohammed Abu-Risha • Norwegian Ministry of Foreign Affairs • Norwegian Refugee Council/Internal Displacement Monitoring Centre • Oak Foundation • Open Society Justice Initiative • Oxfam • Refugees International • Swiss Agency for Development and Cooperation/Swiss Cooperation Office - Afghanistan • Swiss Federal Department of Foreign Affairs • UNDP Evaluation Office • UN-Habitat • UNHCR • UNOCHA • US Dept of State's Bureau of Population, Refugees, and Migration • Women's Refugee Commission

www.fmreview.org/online-giving




Data Source(s):
AGCHO, CSO, AIMS, OASIS, MISTI, GAUL
Projection/Datum: Geographic/WGS-84

0 100 200 Kms

Disclaimers:
The designations employed and the presentation of material on this map do not imply the expression of any opinion whatsoever on the part of the Secretariat of the United Nations concerning the legal status of any country, territory, city or area or of its authorities, or concerning the delimitation of its frontiers or boundaries.

Dotted line represents approximately the Line of Control in Jammu and Kashmir agreed upon by India and Pakistan. The final status of Jammu and Kashmir has not yet been agree upon by the parties.

OCHA Map courtesy of OCHA

Website: http://afg.humanitarianresponse.info/

www.fmreview.org/afghanistan-pashto